بشتو

# دمانځه، اوداسه
# اوځنى دجماعتونو
# لنډ مخالفات

مترجم : أبو عمر عبد الجليل عبد الأكبر
نظر ثاني : حافظ نور أحمد دين سلارزى

## مختصر مخالفات الطهارة والصلاة
## وبعض مخالفات المساجد

جمعها فضيلة الشيخ : عبد العزيز بن محمد السدحان




المكتب التعاوني للدعوة والإرشاد
وتوعية الجاليات في غرب الديرة

# مختصر مخالفات
# الطهارة والصلاة
## وبعض مخالفات المساجد

جمعهافضيلة الشيخ : عبدالعزيز بن محمد السدخان

# دمانځه ،اوداسه اوځنى دجماعتونو لنډمخالفات

مترجم : ابوعمر عبدالجليل عبدالأكبر
نظرثانى : حافظ نورأحمد دين سلارزى

المكتب التعاوني للدعوة والإرشاد وتوعية الجاليات بغرب الديرة
تحت إشراف وزارة الشئون الإسلامية والدعوة والإرشاد
هاتف : ٤٣٩١٩٤٢ ناسوخ :٤٣٩١٨٥١ ص.ب: ١٥٤٤٨٨ الرياض: ١١٧٣٦
حساب رقم: ٤/٩٣٤٠ شركة الراجحي المصرفية فرع سلطانة .

ⓒ مكتب توعية الجاليات بغرب الديرة ، ١٤٢٤ هـ .

فهرسة مكتبة الملك فهد الوطنية أثناء النشر

السدحان ، عبدالعزيز بن محمد .

مختصر مخالفات الطهارة والصلاة وبعض مخالفات المساجد .

بشتو. / عبدالعزيز بن محمد السدحان - أ. أبوعمر عبدالجليل

عبد الأكبر ، الرياض، ١٤٢٤ هـ

٢٧٢ ص ؛ ١٢X ١٧ سم

ردمك :٥ - ٠ - ٩٤٧٥ - ٩٩٦٠

١- الطهارة (فقه إسلامي) ٢- الصلاة أ.عبد الأكبر ،

أبوعمر عبد الجليل (مترجم) ب. العنوان

ديوي : ٢٥٢ ١٤٢٤/ ٥٣٦٣

رقم الإيداع : ٥٣٦٣ /١٤٢٤

ردمك : ٥-٠-٩٤٧٥-٩٩٦٠

*Download From; Aghalibrary.com*

(( بسم الله الرحمن الرحيم ))

## (( داودس اوپاکی مخالفات ))

**۱- په اودس کښې په زوره نيت کول** دادرسول الله صلى الله عليه وسلم دسنتونه خلا ف کارد ے .

* ابن قيم رحمه الله ويلی : چه رسول الله صلى الله عليـه وسلم بـه په اول داودس کښې هيڅ چرې داسې نه ويـل چـه نيت کـوم دبـی اودسې دپورته کيدو دپاره ، اونه داچه دمانځه دروا کيدو دپاره اونه دد ه د صحابو نه ثابت دی رضی الله عنهم اجمعين يو حـرف ترې هم نه دے ثابت نه په صحيح سند اونه په ضعيف .

**۲- ځنې دمخالفـاتو نـه پـه اودس کـښې دعـاګانی ويـل** : چه کله اندامونه وينځی نـو دوينځلـو پـه وخـت کـښې دعـاوائی ، لکه ځنې خلـك دښې لاس دوينځلـو پـه وخـت کـښې داسـی وائـي ای الله عمـل نامـه پـه ښی لاس راکـړه ، اودمـخ دوينځلو په وخت کښې داسی وائي چه الله مخ مې سپين کړه په کومه ورځ چه مخونه سپينوی ... تراخره .

* امام ابن قيم رحمه الله وائـي هيـڅ ثبوت نشته چه په اوداسـه کښې په غير دبسم الله نه بل څه شے ويلے وی اوهر يو حديث چه داوداسه په اذکارو کښې دی او رسول الله صلى الله عليه وسلم ته

منسوب وی داپه هغه دروغ تړل دی اودځانه ئی جوړ کړی ، بلکی رسول الله صلی الله علیه وسلم نه پخپله ویلی اونه ئی امت ته تعلیم اوخودنه کړی .

اودبسم الله نه بغیر ئي په اول کښی هیڅ ندی ویلی البته په اخر داودس کی به ئی ویل (( أشهد أن لاإلـه إلا الله وحده لا شريك لـه و أشهد أن محمدا عبده ورسوله اللـهم اجعلنـى من التوابين واجعلنـي من المتطهرين )) ترجمه : ګواهی کوم چه دالله تعالی نه په غیر بل دعبادت مستحق نشته یواځی د ے هیڅ حصه دار ده لره نشته ، اوګواهی کوم چه محمد صلی الله علیه وسلم دده بنده او استاځے د ے ، ای الله ماد ډیر توبه ویستونکو اوډیر صفائی کونکو نه وګرځی ( اودهغوی دډلی نه می حساب کړی ) په نسائی کښی یو بل حدیث د ے چه داودس نه روسته ویلے شی : (( سبحانك اللـهم وبحمدك أشهد أن لا إله إلا أنت أستغفرك وأتوب إليك ))

ترجمه : پاکی ده تالره ای الله او ثنا ده تالره ګواهی کوم چه مستحق دعبادت په غیر ستانه بل هیڅوك نشته ستانه بخښنه غواړم اوتا ته راګرځم .

**۳۔ځنی دمخالفاتو نه دارنګه :** په اودس کښی اوبه زیاتی استعمالول او اسراف کول دی امام بخاری دانس رضی الله عنه په روایت حدیث نقل کړی چه انس رضی الله عنه وائي چه رسول الله صلی الله علیه وسلم به غسل په یو اوړی کاو تر پنځه مدو پوری اواودس به ئی په یو مد کاو ( یو صاع څلو ر مده د ے اویو مد دمعتدل انسان متوسط په لپو یوه لپه کیږی –

داهل حجاز په نزد رطل يو ثلث د ے اواهل عراق په نزد دوه رطله د ے ) .

امام بخاري رحمه الله په خپل صحيح بخاري
(( كتاب الوضوء )) په اول كښي ويلي : چه علماو مكروه ګڼلے چه په اودس كښي اسراف وشي اويا درسول الله صلى الله عليه وسلم دطريقي نه تجاوز وشي .

## ۴- اوځني دمخالفاتو نه ناقص اودس كول دي :لكه

ځنګه چه فتح الباري دحديث معنى كړي چه ( أسبغوا ) معنى ( أكملوا ) ده يعني پوره كامل اودس كوى اوامام بخاري په خپل صحيح كښي دمحمد بن زياد په روايت نقل كړي چه محمد بن زياد وائي ماد ابوهريره رضى الله عنه نه اوريدلي اوهغه زمونږه په خوا كښي تيريده ، او خلكو ديو لوخي نه اودسونه كول نو ابو هريره رضى الله عنه وويل چه كامل او پوره اودس وكړى ځكه چه ابو القاسم صلى الله عليه وسلم ، فرمايلي دي (( ويل للأعقاب من النار ))

ترجمه : هلاكت دے دپوندو والو لره داورنه (( چه پوندي وچي پريدي اوپوره اودس نه كوى )) دارنګه خالد ځوى دمعدان دځني بي بيانو درسول الله صلى الله عليه وسلم نه نقل كړي چه رسول الله صلى الله عليه وسلم يو سړے وليده چه په پونده كښي ديو درهم په اندازه ځائي وچ پاتي و سپين پرقيده اوبه ورته نه وى رسيدلي نو رسو ل الله صلى الله عليه وسلم ورته حكم وكړ ه چه

اودس بيا وکړه (اودس ئي نه و شوی) دد ے حديث روايت احمد او ابو داود کړی او زيات کړی دی ابو داود ( والصلاة ) او مونځ هم بيا واپس وکړه چه (( يعنی دواړه واپس وکړه )) اثرم وائي چه ما احمد ته اويل چه داسند جيد د ے؟ اوکه نه ؟ هغوی اويل جيد د ے دا حديث په ابو داود او حاکم دواړو کښی شته .

امام شوکانی رحمه الله وائی : چه دا حديث دلالت کوی پدی چه بيا اودس کول واجب دی داول نه دهغه چا دپاره چه په دغه مقدار ځائی ديو اندام ئی پريخودلے وی او نه وی وينځلے ( يعنی اوبه ورته نه وی رسيدلی )

## ۵- په غټ يا واړه قضاء حاجت کښی قبلی ته شاه يا

مخ ګرځول : دابی ايو ب رضی الله عنه نه روايت د ے: دا وائی چه رسول الله صلی الله عليه وسلم فرمايلی : (( إذا أتی أحدكم الغائط فلا يستقبل القبلة ولا يولها ظهره لكن شرقوا أو غربوا )) روايت دد ے حديث امام احمد او بخاری مسلم او اصحاب السنن کړ ے .

ترجمه : کله چه يو کس ستاسو نه قضائی حاجت ته راشی نو قبلی ته دنه مخ ګرځوی او نه شاه نو يا دمشرق ته ګرځی او يا دمغرب ته .

( دا حديث داهل مدينی دپاره يا ددوی پشان نورو پوری خاص

د ے چه دچا قبله جنوب طرف ته راځی نوقبلی ته مخ کرځول یا شاه کرځول تری مراد دي چه هر چرته ئی دنورو احادیثو په رڼا کښی ) .

دعلماو پدی مسئله کښی اختلا ف د ے اوزیات اقوال پکښی دي .

لیکن چه حرام ورته وائی ځنی دهغوی نه شیخ الاسلام ابن تیمیه او ابن قیم رحمهما الله دي .

ابن قیم وائی چه په ابادئی او غیر ابادی کښی څه فرق نشته دڅه دپاسه دلسو دلائلو په وجه .

شیخ ابن القاسم ویلی : چه پد ی مسئله کښی دا صحیح مذهب د ے دنورو نه ، اوچاچه فرق کړی ( په ابادئی او بیابان ډاګه کښی ) نو با لمقابل هیڅ دلیل ورسره نشته .

## ۶۔ ځنی دمخالفاتو نه دبولو قضاء حاجت نه ځان نه ساتل دی : او پدی کښی لو ی او سخت عذاب اووعید د ے

اوڅنګه به نه وی ؟ چه رسو ل الله صلی الله علیه وسلم دکبیره ګناه نه شمیرلے د ے .

امام بخاری رحمه الله په خپل صحیح بخاری کښی دعبد الله ځوی دعباس رضی الله عنهما نه روایت کړی چه عبدالله وائی چه رسول الله صلی الله علیه وسلم په یو باغ دباغونو د مدینی – یا دمکی په خواکښی روان و چه د دو انسانانو چغی ئی واوریدلی چه په قبرونو کښی عذاب ورکړے کیده ، نو نبی صلی

الله علیه وسلم وه فرمایل عذاب ورکړے کیږی دوی ته او نه عذابیږی په څه لویه خبره ( ګناه ) باندی بیا وه فرمایل : ولی نه ، یو ددی دواړو نه به ځان نه پټاو د ورو متیازو نه ( اونه به ئی ځان ساته ) او د ے بل کس به چغلی کوله چغل خور و .

بیا ئی یوه لختـه ( څانګه ) راوغوښتله او ماته ئی کړه دوه ځائی ئی کړه نو په هریو قبر ئی یوه یوه کیښوده نو اوویل شو ورته چه ای رسول الله ، دا کار دولی وکړه ؟ هغه ورته وه فرمایل : شاید چه داکم کړی ددی دواړو نه عذاب ترڅو چه نه وی وچی شوی ، او یا داچه وچی شي .

**۷- او دارنګه دمخالفاتو نه** : چه داهم دمخکی سره تعلق لری چه ځنی خلك قضاء حاجت کوی نو عورت نه پټوی او ښکاری ، کوم چه شرعي پټول دی .

اویا یواځی په مخه او شاه عورت ئی غلیظه باندی اکتفاء وکړی او بس ، او داد رسول الله صلی الله علیه وسلم دطریقی نه خلاف کار د ے .

ځکه درسول الله صلی الله علیه وسلم نه ثابت دی او حکم ئی کړی دورانه ( یعنی پتون ) په پټولو چه دا دعورت نه د ے .

*امام احمد ، ابو داود ، ترمذی ، ابن حبان او حاکم په صحیح سند سره دنبی صلی الله علیه وسلم نه حدیث نقل کړی چه نبی صلی الله علیه وسلم دجرهد په خوا کښی روان و چه ورته وه فرمایل : (( ای جرهده خپل پتون ( ورون ) پټ کړه ځکه پتون

عورت د ے )) ( جرهد دسړی نوم د ے ) اواسناد حسن د ے حاکم په مستدرك کښې داقول دنبی صلی الله علیه وسلم نقل کړی (( ما بين السرة والركبة عورة )) دنامه اوځنګانه په مینځ کښې عورت د ے ( يعنى دنارينه دپاره دنوم نه ترزنګونه پوری عورت د ے ) .

**٨- دمخالفاتونه** :داهم ده چه ځنی خلك دمانځه وخت را لاندی کړی او متيازو ټينګ کړے وی او په خپل ځان بوج او تکليف تيره وی او دمانځه کولو کوشش کوی اودا پدی نه پوهيږی چه يو خوئی په ځان تکليف تير کړه اوبل ئی درسول الله صلى الله عليه وسلم دد ے قول مخالفت وکړه ، (( لا صلاة بحضرة الطعام ولا وهويدافعه الأخبثان )) داحديث دعائشی صديقی په روايت مسلم نقل کړی .

ترجمه : چه مونځ نه صحيح کيږی په حاضريدو دطعام کښی اونه داچه دفعه کوی دوه خبيث شيان ( چه وړی اوغټی متيازی دی ).

* دشيخ الاسلام ابن تيميه رحمه الله نه دحاقن په حقله تپوس وه شو چه کوم يو غوره د ے چه اودس ئی وی اومتيازی ورغلی نومونځ به کوی اوکه نه اودس مات کړی او بيا تيمم ووهی دابو دنشت والی په وجه ؟ نو جواب ورکړه رحمه الله : چه مونځ په تيمم غوره د ے چه دمتيازو نه خلاص شی دهغه مانځه نه چه متيازی ورغلی وی او اودس ئی وی او مونځ کوی سره داحتقان نه ځکه دا مونځه دمتيازو سره مکروه د ے اومنع تری شوی ده

او صحت کښې دوه روایته دي ، اوهر چه مونځ په تیمم د ے نو با لاتفاق صحیح د ی په غیر دکراهت نه والله اعلم .

## ۹- دمخالفتونونه دخوب نه دراپاڅیدو پــه وخت لا

سونه نه وینځل دی : ډیروخلکو ناپوهی داده چه کله دخوب نه رابیدار شی نو اودس شروع کړی د لاسونو دوینځلو نه مخکی اویا د اوداسه پـه لوخـی کـښې لاس وهـی دوینځلـو نـه مخکـی اوپدی درسول الله صلی الله علیه وسلم امر ثابت د ے چه لوخی ته دښکته کولو نـه مخکـی بـه دواړه لاسونه وینځی عن أبـی هریـرة رضي الله عنه قال : قال رسـول الله عليـه وسـلم : (( إذا استيقظ أحدكم من نومه فلايدخل يده في الإناء حتى يغسلها ثلاثـا فـإن أحدكـم لا يـدري أين باتت يـده )) ( امام مـالك ، شـافعي ، احمد ، بخـاری ، مسـلم اواصحاب السنن روایت کړ ے )

ترجمـه : دابـو هریـره رضـی الله عنـه نـه روایت د ے چه رسـول الله صلی الله علیـه وسـلم فرمـایلی : کلـه چـه یـو کـس پـه تاسو کـښې رابیدار شـی دخـوب خپـل نـه نو لاس دپـه لوخي کـښې نـه منـډی ترڅو چه وینځی هغه لره دری کرت ځکه یقینا نه پوهیږی یو کس ستاسو نه چه لاس ئی چرته شپه تیره کړی .

## ۱۰- دمخالفاتو نه پـه اول داودس کـی بسـم الله نـه

**ویل** : ځنی خلك الله تعالی دورته هدایت وکړی چه کله اودس کوي نو په اوله کښې بسم الله پریدي .

سعید بن زید او ابو هریره رضی الله عنهما دواړه درسول الله صلی الله علیه وسلم نه روایت کوی چه رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمائي (( چه دچا اودس نه وی دهغه مو نځ نه کیږی او چه چا بسم الله ونه ویله دهغه اودس نه کیږی ))
( ددی حدیث روایت احمد ، ابو داود ،ابن ماجه اوحاکم کړے )
مخکی تیر شوی چه ابن قیم رحمه الله ددی حدیث ثبوت ته اشاره کړی .
حافظ ابن حجر رحمه الله دحدیث دمختلفو اسنادو دنقل نه روسته ویلی چه دمجموعه احادیثو ددینه قوت پیدا کیږی او پدی دلالت کوی چه ددی حدیث اصل شته .
ابن ابی شیبه هم ویلی چه مونږه ته ثابت شوی چه نبی صلی الله علیه وسلم داویلی .
زمونږه شیخ عبدالله ځوی دجبرین حفظه الله تعالی ددرس په مینځ کښی داوویل ( چه کله ئی دمنارالسبیل شرحه کوله ) هرچه مسئله دبسم الله ده دخلا ( دقضاء حاجت په ځائی ) کښی نو ځنی اهل علمو ویلی : ( چه نوم دالله تعالی ) ذکرکول په خلا کښی مکروه او بسم الله په اوداسه کښی واجب ده اوواجب په مکروه مخکی کولے شي ) .

## ۱۱- په اوداسه کښی دخټ مسح کول : ابن قیم رحمه الله ویلی چه رسو ل الله صلی الله علیه وسلم نه دخټ په مسح

کولو کښې با لکل هیڅ صحیح حدیث ندے ثابت [ زادالمعاد ج۱/ ۱۹۵ ] .

## ۱۲- د شرمګاه وینځل ضرور کنړل :دځنی خلکو دا

عقیده ده چه ضرور به خپل شرمګاه وینځی یعنی استنجاء به کوی دهر اودس نه مخکی اګر که بی اودسه شوے نه وی (اونه قضاء حاجت ته تللے وی ) اودامشهوره اوشائعه خطاده .

* اوصحیح داده چه داسی وویل شی چه کله دمانځه وخت بیاموممی او وخت ئی شی او مخکی ددینه وده شوی وی اویا دشاه نه هواه ( باد) وتلی وی نو په ده بل څه نشته مګر اودس به وکړی اودفرج ( شرمګاه ) وینځلو ته هیڅ ضرورت نشته چه استنجا کوی او چه چا ددی خلاف عقیده وه ساتله نو ده بدعت وکړه دالله تعالی په دین کښې .

ددینه علا وه دایو قسم د ے دوسوسی نه .

* کله چه یو مسلمان د اودس نه مخکی قضاء حاجت وکړی نو پدی حالت کښې په ده باندی دشرمګاه وینځل واجب دی اود بولو او براز ( یعنی دوړو اوغټو متیازو) ځائی پاکول .

## راتلونکی دلائل وربا ندی دلالت کوی

دعبدالله ځوی دعباس رضی الله عنهما نه روایت د ے ، دا وائی چه رسول الله صلی الله علیه وسلم دشپی پاڅیده اودغه شپه زما دخپلی ترور میمونی کره وه نو کله چه څه حصه دشپی تیره شوه نونبی علیه السلام پاڅیده اودس ئی وکړه دیو مشك نه چه

زوړند و خفيف اوسپك اودس و (( يعنى دومره ډير وخت يى وانه غسته ) داحديث بخارى روايت كړى اوابن عباس دا ذكر نه كړه چه استنجاء ئى وكړه او خپل شرمګاه ئى ووينځله .

* دارنګه بخارى نقل كړى چه يو سړى عبد الله بن زيد رضى الله عنه ته وويل ايا ستا طاقت شته چه مونږ ته درسو ل الله صلى الله عليه وسلم اودس وه ښائى هغه څنګه اودس كاو ؟ عبدالله بن زيد وه و يل : او ، اوبه ئي راوغوښتلى اوپه خپلو لا سونو ئي راتوى كړى او دوه كرته ئى ووينځل ... الحديث ، اوږد حديث دے تر اخره .

پدى حديث كښى دا ذكر نه كړه چه استنجائي وكړه او يا ئى ورته اشاره وكړه .

فضيله الشيخ عبد العزيز بن باز رحمه الله ويلى :

( چه استنجا واجب ده په ابو يا په ګټو كاڼو دوړو متيازو يا غټو نه خاص كر اوهغه څه چه پدى كښى شامل وى ( لكه لوټى اوډپاكوالى خاص كاغذوغيره ) مخكى داودس نه . (1)

## ١٣- اوځنى دمخالفاتو نه كومى چه په اودس پورى متعلق دي

: كوم چه ډير خلك پكى واقع دى نو هغه لاسونه تر څنګلو پورى كامل نه وينځى اوو ضاحت ئى راروان دے :

---

(1) كتاب الدعوة ( الفتوى ) ص ٣٩ .

* کله چه یو مسلمان اودس کوی نو اول به په شروع کښې بسم الله کوي بیا به دواړه لاسونه وینځی (تر مړوندونو پوری) بیا به مضمضه وکړی خولی ته به اوبه واچوی او بیا به پوزی ته اوبه واچوی بیابه مخ وینځی بیا به متی تر څنګلو پوری وینځی.

اودلته یوه خطاء ممکنه ده چه ډیر خلك ئی کوی او هغه داده چه که لاسونه وینځی دلاندی طرف دورغو نه شروع وکړی تر اخر طرف دڅنګلو پوری اوپدی کار کښې کمے دے، ځکه په ده باندی وینځل دټولو لاسونو پوره واجب دی، دګوتو دطرف نه تر څنګلو پوری او پدی باندی زمونږه شیخ عبدالله بن جبرین حفظه الله تعالی تنبیه اوخبردارے ورکړے.

* لکه څنګه توجه پدی خبره شیخ محمد بن صالح عثیمین رحمه الله هم ورکړیده په یو خطبه کښې، نو ویلی ئي دی (یوی خبری ته متوجه شی چه ډیر خلك پکی خطا کیږی اوهغه داده چه ځنی خلك چه کله لاسونه وینځی روسته دمخ وینځلو نه، نو شروع په لاسونو دمړوند نه تر څنګلو پوری کوی او وینځی او اورغوی او لاسونه پریدي، او دا خطا ده ځکه ورغوی په نوم د (ید) لاسونو کښې داخل دي، نو پدی بنا باندی واجب دی چه دواړه لاسونه وینځی دمخ وینځلو نه روسته دګوتو دطرفه تر څنګلو پوری.

لکه ځنی خلك د ژمی په ورځوکښی ګنی جامی اغستلی وی نو نستوڼی ښکاره کړی ( راوی نغاړی ) لیکن څنګلو ته لانه ئی وی رسیدلی ( څنګلی نه وی ښکاره کړی ) اوپه وینځلو کښی څنګلی شامل نشی اوپاتی شی او داکار خطاد ے .

ځکه واجب دی چه هر انسان خپلی څنګلی ښکار ه کړی او نستوڼی پوره راونغاړی چه دڅنګلو نه پورته تیر شی او تجاوز وکړی ددی وجی نه چه څنګلی په وینځلو کښی داخل شی اووی وینځی . (۱)

## ۱۴- اوځنی دمخالفاتو نه هغه دی چه تعلق ئی په پاکی پوری د ے :

چه ځنی خلك کله دجنابت نه غسل کوی او خاص کر چه دغټ جسم او بدن واله وی نو دده په جسم کښی څه ځایونه او یا پوستکی او یا زیاته غوښه په یو ځائی راغلی وی یو بل دپاسه لکه څنګه حال چه دسینی دطرفه وی دابو دراتویه کولو په وخت کښی تری اوبه ورغړی دپاسه اوغوښی لاندی طرف پټ کړ ے وی نو دغه حصی او اجزاء وچ پاتی شی اوبه ورته ونه رسی نو پدی حال کښی غسل ناقص او نمګړی وي .

## ۱۵- اوځنی دمخالفاتو هغه چه ډیر خلك پکی پراته دي :

نو ځنی خلك په جسم کښی څه ځایونه پریدی چه

---

(۱) دشیخ محمد بن عثیمین رحمه الله درسالی نه په طهارت کښی .

اوبه ورته وه نه رسي داوداسه په وخت کښي اويا دغسلو په وخت کښي نو ددغو ځايونو نه چه دائي زيات دي .
* کوم چه دګوتو په مينځ کښي وی اوخاص کر دخپو ګوتي . نوځني خلك پاځي اوپه خپو اوبه راواړوی داودس په وخت کښي په غير ددينه چه مينځ دګوتو ته ورسيږی نو دګوتو مينځ وچ پاتي شي او اوبه ورته نه رسي او اودس ناقص شي او دارنګه خلل او نقصان مانځه ته ورسيږی او دا نبی صلی الله عليه وسلم بيان کړی اوهم دا هميت په وجه خاص کړی ده نو يو صحابی ته ئي وويل چه لقيط بن صبره نوم ئي وو رضی الله عنه (( أسبغ الوضوء وخلل بين الأصابع )) داحديث حافظ په بلوغ المرام کښي راوړی اوويلی دی چه اربعو ( څلوروکتابونو ) صحيح کړی .
ترجمه : ( پوره او کامل اودس وکړه او دګوتو مينځ خلال کړه )
( يعنی د ګس ( کڼ ) لاس وړه خچه ګوته باندی بـه دښئ خپي دښی طرف دوړی خچي ګوتي نه شروع وکړی اودګوتو مينځو نه به خلال کړی ) .
امام صنعانی ويلی : چه ظاهره اوښکاره ده په اراده کولو دګوتو دلاسونو او دخپو سره بيا ئی ويلی چه دا حديث دليل دے په اتمام او اکمال او پوره اودس باندی چه کامل اندامونه به وينځی ( أسبغ الوضوء ) معنی داده چه وه رسوه هغه ځايونو خپلوته اوبه او پوره هر اندام ته خپل حق ورکړه اوغير ددينه د دے پشان .

**۱۶- هم داسې ځنې دځايونو نه :** دځنو خلکو په لاس باندې ګهنټه ( ساعت ) وي او يا ئې په لاس باندې ګوته وي د اودس په مينځ کښې او داودس په وخت کښې دغه ساعت ګړې او يا دغه ګوته چه ددې د لاندې کوم ځائې وي هغه بند کړې اوبه ورته نه رسيږي نو وچ پاتې شي نو اودس وه نشو او ناقص شو .

* کومه خبره اوکار چه دغه کس لره مناسب دے هغه داد ے چه ګړې اوګوته لرې کړي ، او يائې وه خوزه وي حرکت ورکړې دخپل ځائې نه چه اوبه ټول اندام او ځائې ته ورسيږي او اودس پوره شي .

* امام بخاري رحمه الله وائې چه ابن سيرين رحمه الله به کله اودس کاو نو دګوتې ځائې به ئې وينځه .

**۱۷- اوځنې دځايونو نه :** چه دځنې خلکو په لاسونو يو قسم رنګ وه لويږي هغه رنګ چه ديوالونه پرې رنګ کوي چه په عربي کښې ورته (( بويه وائې )) اوداقسم رنګ يابل شې چه په لاس وه لويږي نو دغه ځائې ته اوبه نه پريدي دکوم ځائې وينځل چه مقصود وي نو وچ پاتې شي اوبه نه ورسيږي نو اودس ناقص شو .

* نوددې وجې نه لرې کول ئې ضرور دي چه دچا په لاس دغه قسم شې وه لړي نو داودس نه مخکې دې لرې کړي په يو خاص موادو باندې لکه کيروسين شو يا نور وغيره شيان په کوم چه دغه رنګونه ځي او ختميږي .

**۱۸ـ اوځنی ددغه ځایونو نه** :ځنی زنانه په نوکانو باندی رنګ وهی چه هغه ته ( مناکیر ) وائی اوپدی رنګ کښی دنوك نه پورته والے د ے چه نوك ته ورسیږی نو با لکل ئي منع کوی .

* نو کومه ښځه چه دغه رنګ وه لږ ه وی نو داودس کولو نه مخکی دهغه لری کړی چه اوبه ټول اندامته وه رسیږی کوم چه پټ وی او اودس پوره شی .

**۱۹ـ ځنی خلك چه کله بی اودسه شی** او دس ئی مات شی نو دجائی نماز لاندی ځائی په لاس ووهی او تیمم ووهی او په جمع سره مونځ وکړی او دا غالبا په هغه وخت کښی وی چه کله ډیره سخته ګڼه وی لکه په حرمینو کښی ( مکه اومدینه ) او یا په لوی جماعتونو کښی ، او دارنګه چه کله موسم یخ وی نو یو کس بی اودسه شو ا و نشی کولا ئی چه داودس ځائی ته لاړشی دکسل اوسستی دوجی نه چه په اوبو اودس وکړی .

اویا کله اقامت وشی نو دده ګمان دا وی چه تیمم ووهم اوپه جماعت او جمع سره مونځ وکړم دا بهتره او غوره ده ددینه چه اودس ته لاړشم .

* داټول چه ئي مخکی ذکر وشو چه دځنو خلکو نه صادریږی او پکی واقع دی یا خو جهل ناپوهی وی او یا دبنه نیت په وجه وی نو مونږه ورته وایو :

* یقینا چاچه په اوبو اودس پریخوده سره دقدر ت او د امکان حصول نه او بیا ئي دتیمم قصد وکره نودا کار ناروا

دے اومونځ ئی باطل دے.

* اوداځکه چه الله تعالی دتیمم رخصت او اجازه نده ورکړی مګر چه کله اوبه نه وی او یا ورته بل عذر وی الله تعالی فرمائی :

( يأيها الذين أمنوا إذا قمتم إلى الصلاة فاغسلوا وجوهكم وأيديكم إلى المرافق وامسحوا برءوسكم وأرجلكم إلى الكعبين وإن كنتم جنبا فاطهروا وإن كنتم مرضى أوعلى سفر أوجاء أحد منكم من الغائط أو لامستم النساء فلم تجدوا ماء فتيمموا صعيدا طيبا فامسحوا بوجوهكم وأيديكم منه ) [ سورة المائدة ، الأية : ٦ ]

ترجمه : ( ای هغه کسانو چه ایمان ئی راوړی دے ، کله چه مانځه ته پاڅیږئ ( یعنی اراده دمانځه وکړی ) ( اواودس مونه وی ) نو ووینځی مخونه خپل او لاسونه خپل دڅنګلو پوری ( سره دڅنګلو ) او مسح وکړئی تاسو په خپلو سرونو اووینځی خپی خپلی دپړکو پوری ( پړکی هم وینځی ) اوکه وئ تاسو په حالت دجنابت کښی نو ښه ځان پاك کړیء ، اوکه چرته بیماران ( مریضان ) وئ یا په سفر کی وی او یا راغی یو کس ستاسو نه دقضاء حاجت نه ( یعنی بول برازونه ) او یا کوروالی جماع مو وکړه دزنانو سره اوونه مومی اوبه نو قصد وکړی دپاکی خاوری ( یعنی تیمم ووهی ) نو مسح وکړی په مخونو خپلو اولاسونو خپلو ( ددی خاوری نه ) .

دا ایت صریحه واضحه دلالت دے چه کله اوبه موجود وی تیمم نددے جائز شیخ الاسلام ابن تیمیه رحمه الله ویلی : ټولو مسلمانانو پدی اتفاق کړی چه په سفر کښی اوبه وه نه مومی

تيمم به وهی او مونځ به کوی ترهغه پوری چه اوبه پيدا کړی چه کله اوبه پيدا کړی نو لازم دی چه استعمال ئی کړی .[1]

**٢٠ - هم دارنګه ځنی دمخالفاتونه** : ځنی خلك چه خوب ورله ورشی او خوب ئی وه نيسی نو چه کله دمانځه دپاره اقامت وشی او خاص بيا دسهار او دجمعی مونځ نو راپاڅيږی او دنورو مسلمانانو سره په مانځه ودريږی او دخوب هيڅ پروا نکوی اونه څه اهميت ورکوی .

اوداخوار مسکين دانه پيژنی چه ځنی خوب اودس ماته وی او دا مونځ خپل بی اودسه کوی اوبی اودسه مونځ نه صحيح کيږی .

او دلته دشيخ عبد العزيز بن عبدالله بن باز رحمه الله يوه فتوی راوړو چه په دی مساله پوری ئي تعلق دے دالله تعالی نه غواړو چه چا واو ريده چه فائده ورته ورسوی .

* دمحترم شيخ رحمه الله نه تپوس و شو دهر بدکار – دهغه کسانو په حقله چه په مسجد حرام کښی دماسپخين نه مخکی اودارنګه دمازديګرنه مخکی وده کيږی مثلا يو بيدارونکے راشی او رابيدار ئي کړی نو مانځه ته پاڅيږی او اودس نه کوی بی اودسه ودريږی او دغه شان ځنی ښځی دخوبه پاڅی اوپه مانځه ودريږی نو دد ے څه حکم د ی ؟

که مونږه پوه کړی ، جزاکم الله خيرا .

---

[1] الفتوی ١٢/ ٣٥٠ .

* نو محترم شيخ داسي جواب ورکړه چه الفا ظ ئی دادي : خوب چه کله ډوب او جور وی نو اودس ماتوی چه شعور تری زائله شوی وی دهغه روایت دوجی نه چه یو لوی صحابی کړی صفوان بن عسال المرادي رضی الله عنه ،

صفوان وائي (( چه مونږه ته رسول الله صلی الله علیه وسلم امر کړی چه کله مسافر یو نو دری ورځی او شپی به خپلی موزی نه اوباسو مګر چه کله جنب شو بیا به ئی اوباسو ( چه کله غسل کوی ) اونه به ئی اوباسو دمتیازو په وجه غټی متیازی اوورې متیازی اود خوب په وجه . ( داحدیث نسائی او ترمذی نقل کړی او لفظ هم دترمذی د ے او ابن خزیمه صحیح کړی ) .

اوبل دهغه حدیث دوجی نه چه کوم معاویه رضی الله عنه نقل کړے دنبی صلی الله علیه وسلم نه چه نبی صلی الله علیه وسلم فرمائلی : (( العين وكاء السه فإذانامت العينان استطلق الوكاء )) ([1])

ترجمه : سترګی تسمی دکوناټو دی چه کله سترګی اودی شی نو کوناټی پرانستل شی .

[ داحدیث امام احمد اوطبرانی نقل کړے ، په سند کښی ئي ضعف د ے لیکن نور شواهد ورله شته چه هغه ئی مضبوطه وی لکه حدیث دصفوان چه مخکی ذکر شو په دغه باندی حدیث حسن کیږی ].

---

( [1] ) ابن الاثير په نهايه کښی ویلی ( السه ) حلقة الدبر - دغټومتیازو چاپیر ځائی ته ( السه ) وائی .

پدی سره معلومه شوه چه څوك وده شو سړےوی او كه ښځه ئی په مسجد حرام كښې وی او كه بل ځائی كښې وی نو اودس ئی مات شه اودس كول پری لاژم دی .
كه چرته ئی مونځ په غیر د اودس نه وكړه نو مونځ ئی نه صحیح كیږی باطل دے اوشرعی اودس داد ے چه مخ وینځی سره دخولی ته اوبه اچولو نه اوپوزی ته اوبه اچول اودلاسو نو وینځل سره دڅنګلونه او سر مسح كول سره دغوږونونه او دخپو وینځل سره دپړكونه او استنجاء ته ضرورت نشته چه كله دخوب نه رابیدارشی او اودس كوی اویانور داسی لكه باد تری وتلی وی .
* اواستنجاء په اوبو یا ګټو لټو وغیرو واجب ده چه كله ئی وړی یا غټی متیازی كړی وی خاص طور اوهغه چه ددی دواړو په شان وی داودس نه مخكی .
* هر چه پیرشانی او جټكه ده نو اودس نه ماته ئي ځكه دد ے سر ه شعور نه ځی اوپدی سره داحادیثو جمع هم راځی پدی باب كښې ، ( الله توفیق وركونكی د ے) .
دمحترم شیخ جواب پدی ځائی ختم شو رحمه الله تعالی .

## ۲۱- اوځنی دمخالفاتو نه یو اودس په بل اودس

كول په غیر ددینه چه مونځ ئي په مابین كښې وكړی :شیخ الاسلام ابن تیمیه رحمه الله تعالی ویلی دخپلی خبری نه روسته چه فقهاو پدی خبره كړی چه په اول اودس ئي مونځ نه وی كړی نو دویم اودس ورله په دغه اول اودس مستحب د ے اوكه نه ؟

هر هغه څوك چه په اول اودس ئي مو نځ نه وی کړے نو دويم اودس په دغه باندی نو ے کول په داسی حال کښې بدعت دے او د سنت مخالف د ے ، اوکله چه مسلمانان دهغه وخت نه تردی وخت پوری دي ددوی نه هم مخالفت د ے.
دهغه خبرختمه شوه رحمه الله تعالى [ ۲۱/ ۳۷۶ ]

**۲۲- اوځنی دمخالفاتو نه** : ځنی سړی چه کله دخپل اهل يعنی ښځې سره نژديکت اوجماع وکړی نو نه په خپله غسل کوی اونه خپلی ښځی ته امر کوی مګر چه کله انزال وشی ( يعنی قوت مردی تری ووځی ) .

* او دايو عمل د ےچه عامه بلوا ده او ډير خلك پکی خطاء کيږی مونږه ورته وايواو دالله تعالى نه توفيق غواړو :

په اول داسلام کښې داسی وه چه سړی او ښځی به دواړو غسل نه کولو تر څو چه به تری منی نه وو وتلی .

اودليل ددغه خبری حديث دمسلم د ےچه په خپل صحيح کښې دابو سعيد خدری رضی الله عنه په روايت نقل کړی ابوسعيد وائی چه رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمائلی :

(( الماء من الماء )) امام صنعانی داسی ويلی چه غسل کول دانزال او ( منی ) وتلو په وجه دي اول ( ماء ) اوبو ته وائی او دويم ( ماء ) ( انزال اومنی ته وائی ) ( يعنی په خپل جسم چه اوبه راچوی نو دا داوبو په وتلو سره چه هغه منی دی او د انسان نه وو ځی )

* ليکن داحديث منسوخ شوی په حديث دابوهريره رضی الله عنه دا وائی چه رسول الله صلی الله عليه وسلم فرمائلی :

(( إذاجلس بين شعبها الأربع ثم جهد ها فقدوجب الغسل )) [ متفق عليه ]

ترجمه : ( چه کله يو کس دښځی څلور اندامونو په مينځ کښی کيناست او کوشش ئی وکړه نو غسل وربانډی واجب شو )

(( چه کله دښځی سره نژديکت وکړی او ده دو لاسونو او دو خپو په مينځ کښی وی يعنی جماع وکړی نو انزال شوی وی منی وتلی اوکه نه خو په دواړو غسل فرض شو )) او مسلم ورسره زيات کړی ( اګر که انزال نه وی شوی ) او په بل لفظ دابو داود کښی داسی دی چه (( الزق الختان با لختان )) يو پريکړی ځائی دبل پريکړی ځائی سره پيوست کړی ( يعنی يوشرمګاه دسړی وی اودبل شرمګاه دښځی سره يوځائی کړی ) .

نو پدی حديث جمهور و استدلال کړی په نسخ دمفهوم دمخکی حديث چه ( الماء من الماء ) غسل کول دمنی په وجه دی ، اودليل ئی نيولے د ے پدی چه روستئ امر داو دهغه روايت په وجه چه کوم احمد وغيرو کړی په روايت دزهري د ابی بن کعب نه چه ده ويلی : چه هغه فتوی چه ويلی چه

( الماء من الماء ) اوبه داوبو نه دی ( يعنی غسل دانزال په وجه دی ) ، دا رخصت و رسول الله صلی الله عليه وسلم په اول داسلام کښی رخصت ورکړی و او بيائی حکم په غسلو وکړه روسته دهغه نه ) اودا ابن خزيمه او ابن حبان صحيح کړی او

اسماعیلی ویلی چه داحدیث صحیح دی په شرط دبخاری د ے او صریح د ے په نسخ کښی دحدیث د (( الماء من الماء )) دپاره اوځنی ددلائلو دناسخیت نه چه حدیث د ابو هریره رضی الله عنه منطوق د ے او حدیث د ابو سعید چه (( الماء من الماء )) مفهوم د ے او منطوق مخکی وی په مفهوم باندی .

* او دد ے سره داهم زیاتید ے شي ایت هم منطوق مضبوطه وی په وجوب دغسل کښی الله تعالی فرمائي (( وإن کنتم جنبا فا طهروا ))

ترجمه : ( اوکه چرته تاسو په حالت دجنابت کښی ئی نو ځان ښه پاك کړئي ) ( مراد تری غسل د ے چه غسل وکړی ) .

امام شافعی رحمه الله ویلی چه کلام دعربو هم تقاضا کوی چه جنابت په حقیقت کښی اطلاق په جماع او نژدیکت کیږی اګر که انزال نه وی شو ی .

بیا وائي چه هر یو کس چه مخاطب شی چه یقینا فلانکے کس جنب شه دفلانکۍ ښځی نه نو پته لږی چه د ے ورته نژدی شو ے جماع ئی ورسره کړی اګر که انزال نه وی شو ے ، بیا وائی چه چا اختلاف ند ے کړے چه دکومی زنانه په وجه حد واجب د ے او دوری ورکول دی نو هغه جماع ده نژدیکت اګر که دهغه نه انزال نه وی شوی .

دد ے تولو نه روسته مونږه وایو : یقینا چه چا دخپلی ښځی سره خپل شرمګاه دهغی دشرمګاه سره یو ځائی کړه نو

غسل ورباندې واجب شو اګرکه انزال ئي نه وی شوی ( خو چه دخول دحشفې دذکر دسر شوی وی ) نو که مونځ ئي پدغه حال کښې وکړه او غسل ئی ونه کړه نو مونځ ئی په حال دجنابت کښې وکړه نو مونځ ئی باطل دے .

**۲۳۔ او دارنګه دمخالفاتونه :** ځنی خلك چه دغسلو نه فارغ شی او لاجامی ئی نه وی اغوستلی پدی وخت کښی لاس په ( فرج ) شرمګاه واقع کیږی او پدی څه پروانه کوی او په دغو غسلو بیا مونځ کوی تر څو چه بی اودسه شوی نه وی .

* لیکن دا نه پوهیږی چه خپل فرج مسه کول او لاس وروړو باندی اودس مات شو ، او دلیل ورله دا حدیث دے چه بسره بنت صفوان رضی الله عنها وائی : چه رسو ل الله صلی الله علیه وسلم فرمایلی : (( چا چه خپل ( ذکر ) شرمګاه مس کړه نو اودس دی وکړی )) دا حدیث [ مالك ، احمد او اهل السنن او حاکم روایت کړی ] .

* او بنا په دغه دهغه چا پحقله ویلے شی چه غسل ئی کړے وی نو دا حرص او کوشش دوکړی چه خپل لاس د ( شرمګاه ) سره وه نه لږوی دے دپاره چه او دس ئی مات نشی اوکه ذکر شرمګاه دمسه کړه نو بیا درباندی اودس دے دویم ځل ئی اعاده کړه .

**۲۴- دځنو خلکو عقیده داوی چه** اودس نه پوره کیږی او نه کیږی تر څو چی ئی دری دری ځل هر یو اندام وینځلے نه وي .

* اوداعقیده ساتل خطاء ده امام بخاری په خپل صحیح کښی باب ایخودلے د ے ( باب الوضوء مرة مرة ) باب د ے په بیا ن د اودس کی یویو کرت اودس کول او ( باب الوضوء مرتین مرتین ) باب داودس کولو دوه دوه ځل ( باب الوضوء ثلا ثا ثلاثا ) دارنګه اودس کول دری دری کرته داول باب لاندی حدیث دابن عباس رضی الله عنهما ذکر کړی چه وائی (( توضأ النبی صلی الله علیه وسلم مرة مرة )) چه نبی صلی الله علیه وسلم یو یو ځل اودس کړی و .

او دویم باب لاندی حدیث د عبدالله بن زید رضی الله عنه ذکر کړی چه نبی صلی الله علیه وسلم دوه دوه ځل اودس کړی ، مراد په اوداسه کښی اندامونه یو یو ځل دوه د وه ځل وینځلی اودارنګه ده دریم باب لاندی حدیث دعثمان بن عفان رضی الله عنه ذکر کړے چه نبی صلی الله علیه وسلم دری دری کرت اودس کړی یعنی دا مخکی ټول احادیث په د ے خبر ه دلالت کوی چه یو یو کرت په اوداسه کښی هم ا ندام وینځلی شی او دوه دوه کرت هم وینځلی شی او دری دری کرت هم وینځلی شی ( دا ټول صحیح احادیث دی نو کله په یو عمل پکار دے اوکله په بل باندی ) .

## ۲۵- زياتوالى كول په شمار دوينځولو داندامو

نوكښي چه د درى درى كرت نه زيات وينځي او ځني داودس داندامونو نه په غير نوروينځي او زياتوالى كوى :

* اودا دځنو خلكو نه صادريږي دا ئي عقيده وى چه څومره اندامونه زيات و ينځي هغومره به اجر او ثواب زيات وى ليكن دا د شيطان وسوسه او تيرويستل دى چه دائي كوى ځكه چه كوم كار جائز نه وى نو دا رد د ے څنګه چه نبى صلى الله عليه وسلم فرمائلى (( من أحدث في أمرنا هذا ما ليس منه فهو رد ))
[ متفق عليه ] .
ترجمه : ( چا چه زمونږ ه په دين كښي يو نوى كار وكړه هغه چه ددينه نه و نو هغه رد د ے ) او روايت دمسلم كښي په بل لفظ سره د ے (( من عمل عملا ليس عليه أمرنا فهو رد )) ترجمه : چا چه يو عمل وكړه او په هغه باندى مونږه امر او حكم نه و كړ ے نو دا رد د ے .

## ۲۶- دزمزم په اوبو اودس نه كول اودغه ګناه ګڼل

داودس په ځائى تيمم وهى .

* او پديكښي ځني خلك واقع دى ځني به پكښي داسى هم بيامومى چه ځان به تقوى دار ګڼي او دزمزم داوبو نه به ځان ساتي چه اودس ورباندى وكړى ددى وجى نه چه دا بهتره دى او فضيلت ئى راغلى نو پرهيز ترينه كوى .

سره ددينه چه اوبه ئی مخی ته موجود دي او دا تيمم وهی او مونـځ کوی او دا ښکاره مخالفت د ے دصريحه اوښکاره نصوصونه . الله تعالی فرمائي : (( فإن لم تجدوا ماء فتيمموا صعيدا طيبا )) [ سورة المائدة أية : ٦ ]

ترجمه : ( پس که چرته ونه مومی تاسی اوبه نو قصد وکړی دپاکی خاوری ) ( يعنی بيا تيمم وهی ) الله تعالی رخصت دتيمم ند ے ورکړ ے مګر چه اوبه نه وی او يائی حصو ل او استعمال ګران وی دعذر په وجه او دزمزم اوبه ئی دنورو نه څه جدا کړی ندی .

اوکوم تاکيد چه ئی دجواز راغلی دزمزم نه داودس کولو نو هغه روايت دعلی رضی الله عنه د ے چه عبد الله ځوی دامام احمد په زوائدو دمسند کښی دعلی رضی الله عنه دغه روايت ذکر کړی په صفت دحج دنبی صلی الله عليه وسلم کښی اوپه هغی کښی داسی دی :(( ثم أفاض رسول الله صلى الله عليه وسلم فدعا بسجل من ماء زمزم فشرب منه وتوضأ )) الحديث

ترجمه : ( بيا رسول الله صلی الله عليه وسلم راغی او يوه بوکه اوبه ئی دزمزم راوه غوښتلی تری ويڅکلی او اودس ئی ورباندی وکړه .

ساعاتی وائی : پديکی استحباب دڅکلو او اودس کولو د ے دزمزم داوبو نه [ فتح الربانی ۸۶/۱۱ ] .

* دشيخ محترم عبدالعزيز بن باز رحمه الله نه تپوسو شوی دزمزم داوبو د فضيلت پحقله نو هغه جواب ورکړ ے ددغه

مسئلي او دهغه په فتوی کښی ذکر د ے چه الفاظ ئی دادي :
ددغه کس دپاره ددغه نه اودس هم جائز د ے او استنجاء تری هم جائز ده او که ضرورت و دجنابت غسل تری هم جائز د ے او دنبی صلی الله علیه وسلم نه ثابت دی چه دګوتو نه ئی اوبه راوه خوټکیدلی ( یعنی راو وتلی ) بیا خلك شروع شو چه اغستلی دخپل حاجت دپاره ددغو اوبونه چه ویڅکلی او اودس تری وکړی اوجامی پری وینځی او استنجاء پری
وکړی داټول ئی پری کړی و .
اود زمزم اوبه که ددغو پشان نه وی کومی چه درسول الله صلی الله علیه وسلم دګوتو دمینځ نه راوتلی وی ددغو نه اوچتی هم ندی دواړه شریفی او بهتره اوبه دی نو چه کله اودس اوغسل او استنجاء او جامی وینځل دهغه اوبو نه جائز شو چه کومی درسول الله صلی الله علیه وسلم دګوتو دمینځ نه راوتلی وی نو دغه شان دزمزم داوبو نه جائز دی .
* په هر حال باندی دا پاکی او بهتر ه اوبه دی مستحب ده چه وه څکل شی تری اوڅه ګناه هم نشته چه اودس تری وشی اوداهم څه حرج نشته چه جامی پری وینځل شی اویا ورباندی استنجاء وشی هم څه ګناه نشته چه کله دغه ته ضرورت راشی لکه مخکی تیر شوی و الحمدلله . ختم شو
[ من كتاب فتاوى تتعلق بأحكام الحج والعمرة والزيارة ص ١٢٢/ ١٢٣ ]

**۲۷- ځنې دمخالفاتو نــه :** کومـې ښځې چـه پکـې واقـع کیږی چه کله دحیض نه ( یعنی مهواره بیماری نه ) پاکی شی پـه اخر وخت کښې نو غسل روسته کوی او زرئی نه کوی .

* ځنې ښځې دمانځه پـه وخت کښې پاکی شی اوغسـل روسـته کوی بل وخت ته کـه تـه دا وائـی چـه ددغـی دپاره کـامل طـهارت اوپاکوالی ندی ممکن پـدی وخت کـښې لیکـن داخه دلیـل نـد ے اونـه څه عـذر د ے ځکه ددغـی دپاره ممکـن دی چـه اختصـار او قصر په اقل دواجبو نـه وکړی پـه غسـلو کښـې او پـه خپـل وخت مونځ وکړی او چه کله ورته پراخـه وخت پیداشـه نـو بیـا کـامل او پوره طهارت او پاکوالے د حاصل کړی .([1])

**۲۸- ځنې خلك د ( لیټرین ) بهرته دتللو په ځائی چـه** کوم دپاسه چت وی نوددغه بام په سر مونځ ګناه ګڼی .

* اوددی خبر ی تپوس دمحترم شیخ عبد العزیز بن باز رحمه الله نه شوے د ے هغه داسی جواب ورکړے الفاظ ئی دادی :

* ددغه حکم – یعنی د ټټی په چت دپاسه مونځ کول صحیح دی چه کله دغه ځائی پاك وی په صحیح قول دعلماو کښې کوم چه عام قول درسول الله صلی الله علیه وسلم د ے

(( جعلت لی الارض مسجدا وطهورا )) ( متفق علیه )

ترجمه : ( زما دپاره زمکه جماعت او پاکه ګرځول شوی ده )

[ الدعوة ١٦٦٢ په ٧/ ٣/ ١٤٠٩ ﻫ ]

---

([1]) رسالة في الدماء الطبيعية للنساء ص ٤١ .

## ۲۹ـ ځنې خلك چه كله دغسلو اراده وکړی نو په سر باندی څه شی رمیال یا ټوټه وغیره کیدی اودغه اوبه منع کوی چه ویختو ته ورسیږی

* اوداټول ددی یری نه کوی چه ویخته نه ګډوډ کوی ، اویا به تر ی هغه تیل اوخوشبوی ختمه کړی چه کومه ئي په سر لګولي وی اویا ویریږی چه ویختوته ئی اوبه کوزی شی او ډیر وخت به لوندوی دګنو الی دویختو په وجه یا اوږدوالی په وجه نو بناپدی غسل ناقص دے ددی پردی په وجه چه کومه ئی په سر ایخودلی او ویخته ئي ورباندی پټ کړی ځکه هغه شی ئی پټ او منع کړی داوبو نه چه دکوم وینځل واجب وو ( نوغسل ئی نه کیږی ) .

## ۳۰ـ اوځنی دهغه مخالفاتو نه چه ښځو پوری تعلق لري :

چه ځنی ښځی پاکی شی نو دپاکوالی نه روسته دغه مونځ نه کوی په کوم وخت دمانځه کښی چه پاکی شوی دی بلکی دراروان وخت مونځ کوی او دا ددوی جهل او ناپوهی ده او صحیح داده چه دکوم مانځه په وخت کښی پاکه شوی وی هم ددغه وخت مونځ ورباندی فرض د ی چه وی کړی .

* شیخ عثیمین رحمه الله ویلی : چه کله پاکه شی اووخت دیورکعت په اندازه پاتی وی یا زیات نو دا ښځه به ددغه وخت

مونـځ کـوی پـه کـوم وخت کـښـې چـه پاکـه شـوی وی دلیـل ئـی دا حدیث درسول الله صلی الله علیه وسلم د ے :

(( من أدرك ركعة من العصر قبل أ ن تغرب الشمس فقد أدرك العصر )) [ بخاری اومسلم روایت کړی ]

ترجمه : (چا چه یو رکعت دمازیګر دمانځه لاندی کړه مخکی دلمر پریوتلو نه نو لاندی ئي کړه مازیګر ( یعنی مونځ دمازیګر به تیول پوره کوی ) کله چه پاکه شی دمازیګر په وخت کښی او یانور ختلونه مخکی او څه وخت پاتی وی په پریوتلو یا راختلو دنور په مقدار ( اواندازه ) دیو رکعت نو دمازیګر مونځ به اوله مساله کښی کوی اودسهار مونځ په دویم مساله کښی کوی ؟

[ فتاوى المرءة ص ۲۵ ] .

## ۳۱- اوځنی دهغه خطاء ګانو نـه چـه ځنی ښځی پکښی واقع دی :

* چه حیض ( مهواره بیماری ) وربـاندی دوخت د داخلیدو نـه روسته راشی څه لږ وخت بعد اوبیا چه کله پاکه شی ددغه مانځه قضاء نـه راوړی کوم چه وربـاندی دعـادت او حیـض نـه مخکـی واجب شوی و او دا ګمان کوی چه دا مونځ په هغه مانځه پوری پیوست ا و متعلق د ے چه کوم کښی عادت بیماری شروع شوی ئی او خطا ناپوهی ده ددی په ذمه مونځ ثابت شوی او ضرور ده چه قضائی راوړی .

شيخ عثيمين رحمه الله ويلي : چه کله حيض او ( مهواری ) دوخت دداخليدو نه روسته راشي لکه چه دزوال نه نيم ساعت ( نيمه ګهنټه ) روسته نو چه روسته کله بيا پاکه شي ددغه مانځه قضابه راوړی چه دکوم وخت داخل شوی و په هغه حال کښې چه داپاکه وه ددی قول دالله تعالی په وجه : (( إن الصلاة كانت على المومنين كتابا موقوتا )) [ سورة النساء أيت : ۱۰۳ ] (۱)

ترجمه : ( بيشکه مونځ د ے په مومنانو باندی فرض کړ ے شو ے په معلومو او مقرره اوقاتو کښې ) .

## ۳۲- ځنی دهغه څه نه چه تعلق ئی په ښځو پوری د ے :

هغه چه ابن نحاس رحمه الله ذکر کړی : داقول دهغه چه ډيری ښځی غسل روسته کوی دحيض او دجماع نه کله چه دشپې پاکه شي تردی چه نور راوه خيژی نو غسل وکړی او بيا قضا راوړی ( دمانځه ) او دا پ اجماع سره حرام دی په دی واجب دی چه زر غسل وکړی او مونځ دنور دختلونه مخکی وکړی مونځ دخپل وخت نه قصدا روسته کول ناروا دي په اجماع سره ا و مخکی تير شوی چه دا دغتو ګناهونو نه دی چه کله ورباندی خاوند دښځی پوه وی او دا چپ شه ا و انکا ر او بد ئی ونه ګاڼه منع ئی نه کړه نو دا ورسره په ګناه کښې شريك د ے که په حراموالی ئی پوه او عالم وی .

---

(۱) فتاوی المرءة ص ۲۵ .

او که جاهل وی او ناپوه وی نو په دغه بنځه ګناه د جهل اوګناه دنافرماني او ناروا کارده والله اعلم .( ۱ )

## ۳۳- دځنو خلکو داعقیده ده چه په موزو مسح نه کیږی مګر په ژمی کښی او داعقیده ساتل خطاء ده :

بلکی صحیح داده چه مسح په هر وخت کښی کیږی په غیر دتحدید دخاص وخت نه چه ګویاکه په یو وخت کیږی اوبل وخت نه کیږی ، دلیل ئی دا قول د رسول الله صلی الله علیه وسم د ے :(( للمسافر ثلاثة أيام ولياليهن وللمقيم يوم وليلة )) [ مسلم روایت کړی ] .

ترجمه : دمسافر دپاره دری شپی اودری ورځی دی اود مقیم دپاره یوه شپه او یوه ورځ ده ، دا عام د ے په هر وخت کښی مسح کولے شی .

* دمحترم شیخ عبدالله بن باز رحمه الله نه پدی مسئاله کښی تپوس شوی او داسی جواب ئی ورکړ ے : عام احادیث صحیحه پدی دلالت کوی چه په موزو او جورابو مسح کول جائز دی په ژمی او اوړی دواړو کښی اوکوم دلیل شرعی ماته پدی ند ے معلوم په تخصیص او خصوصیت دژمی لیکن یو کس دپاره مناسب ندی چه په نرو جرابو مسح وکړی او یا په نورڅه مګر په هغه شرطونو چه هغه شرعی معتبر کړی ، او ځنی دهغی نه چه

---

( ۱ ) تنبه الغافلین ص ۳۱۰ .

جرابې پټونکې دهغه ځائې وی چه وینځل ئې فرض دی بل چه په
پاکې او اودس سره اغوستلې وی سره دوخت دمراعات کولو نه
چه یوه شپه ورځ دمقیم دپاره دی او دری شپې او دری ورځې
دمسافر دپاره دی شروع دمسح به دبی اودسی نه شروع کیږی په
صحیح قول دعلماو کښې ... ) والله ولي التوفیق [ الدعوة : ۹۵۱ ]

## ۳۴- دځنو خلکو داعادت دے چه کله داوداسه نه فارغ شی نو بل ورته وائی : ( من زمزم )

ترجمه : ( دزمزم نه ) ( کیدلی شی په دی سره ئی دعا مراد وی
چه فائده حاصل کړی دزمزم نه په څکلو سره ) ددی څه اصل
نشته او ددعا ترتیب درسول الله صلی الله علیه وسلم نه ندے
ثابت نو دا بدعت دے خبر اوسه . والله اعلم .
او سنت داده چه اودس کونکی داودس نه روسته
( چه فارغ شی ) دادعا ووائی کومه چه درسو ل الله صلی الله
علیه وسلم نه ثابت ده ( چه نشته په تاسو کښې یو کس چه
اودس وکړی او پوره کړی اودس خپل او بیا داسې ووائی :
(( أشهد أن لا إله إلا الله وحده لا شريك له وأشهد أن محمدا عبده
ورسوله إلا فتحت له أبواب الجنة الثمانية يدخل من أيها شاء )) [ مسلم
ابو داود دا حدیث نقل کړی ] او ترمذی ورسر ه دا زیات کړے
(( اللهم اجعلني من التوابين واجعلني من المتطهرين ))

ترجمه : ( ګواهي کوم چه نشته مستحق دعبادت په غیر دالله نه بل هیڅوك یو د ے شریك ورسره نشته او ګواهي کوم چه محمد صلی الله علیه وسلم دالله بنده او استاځے د ے ) مګر برسیره ( بیر ته به شي ) ورته دجنت اته واړه درواځي اوچه دکومی نه ئی خوښه شي ننوځی به وربانډی ، دترمذی روایت کښی ورسره داهم دی ( چه ای الله وه ګرځوه او کړه ما دتوبه ویستونکو نه او کړه ما دپاکونکونه ) .

* او دا رنګه حدیث : چه چا اودس وکړه او بیا ئی داودس نه روسته وویل : (( سبحانك اللهم وبحمدك أشهد أن لا إله إلا أنت أستغفرك اللهم وأتوب إليك )) كتب في ورق ثم جعل في طابع فلم يكسر إلى يوم القيمة [ نسائی او ابن سنی او حاکم روایت کړ ے ] .

ترجمه : ( پاکی ده تالره ای الله او ثنا صفت دی تالر ه ، ګواهي کوم چه بل مستحق د عبادت نشته مګر دا ته ئی بخنه غواړم ستانه ای الله او راګرځم تاته ).

دابه په یوه ورقه ( پاڼه ) کښی وه لیکل شي او بیا به مهر ( ټاپه ) به شي تر ورځ دقیامت پوری به مات نشي ( بیرته به نشي ) .

## ۳۵- په مینځ داوداسه کښی ځنی خلك په مخی طرف دسر مسح وکړی او په هم دغه اکتفاء کوی ترنیم سره پوری او دائی ګمان وی مسح دسر می پوره کړه .

* صحیح داده چه اودس ناقص د ے او دټول سر مسح کول وربانډے لازم دی ځکه الله تعالی فرمائی :

(( وامسحوا برءو سكم )) [ سورة المائدة أيت : ٦ ] مسح وکړی په سرونو خپلو مراد ټول سر د ے ځنی ند ے .

* شیخ محمد بن ابراهیم رحمه الله تعالی ویلی : صحیح داده چه دټول سر مسح ضرور ده اوګمان کړ ے هغه چا چه ګمان ئي کړ ے چه ( با ) دتبعیض دپاره ده په لغت عربی کښی دانشته چه دا با د تبعیض وی بلکی دا د الصاق دپاره ده .

اوبیا درسول الله صلی الله علیه وسلم سنت واضحه دی چه هغه په ټول عام سر مسح کړی وه .

## ۳۶- ځنی خلك دشیطان دپاره لاره پرانځی دطهارت

او اوداسه په باب اوپدی کښی همیشه دشیطان تابعدارئي کوی تردی چه دجملی دوسوسه کونکو نه وګرځی او دا یوپراخه باب د ے لیکن بطور مثال دغه ځنی خلکو ته دا پیښه وی چه وړو بولو په پاکولو او راویستلو کښی ډیر کوشش کوی تر دی چه دجائز حد نه ووځی او پا څی چه په خپل ځان ډ یر زیات کوشش شروع کړی دوتلو په لار تر څو چه وتل ممکن وی او زوررونه کوی ا ګر که په تکلیف او سختئ سره وی ، دا بی ځایه تکلیف او مشقت مذموم د ے .

## ۳۷- ځنی خلك داوداسه په دوران کښی او دمخ

دوینځلو په وخت کښی دمخ کاسه پوره ټوله نه وینځی بلکی دمخ څه حصی تری پاتی وی دغوږونو طرف ته چه اوبه ورته نه وی رسیدلي نو وچ پاتی کیږی .

* او دا ناقص اودس دے په اودس کونکی لازم دی چه کوشش دپوره اودس وکړی او حرص پدی وکړی چه اودس کامل اوشامل وی .

* اودمخ برید او حصه دسر دویختو نه تر لاندی طرف ددواړو اړوکو دمخ پوری اود زنی پوری او کوشش به دغوږ اودږیری په مینځ کښی کوی ( چه اوبه ورته وه رسی ) دغه مابین ته ئی .

* درسول الله صلی الله علیه وسلم داوداسه په صفت کښی راغلی چه ده ټول مخ وینځلے بعض مخ یی ندے وینځلے نو دا پد ے دلالت دے چه دټول مخ وینځل لازم اوضروردي .

## ۳۸۔ ځنی خلك داګمان کوی چه کله ئی اودس وی او

بیا ویختہ وه خره وی او یا نوکان واخلی نو په اودس کښی شك وی نو په تکلیف اوشك کښی پاتی شی په خپل کار کښی شکوك کوی .

* اوصحیح داده چه هیڅ باك او پروانشته اودس ئي په خپل حال دے او باقی دے .

* ابن عثیمین رحمه الله ویلی دیو سوال په جواب کښی چه دهغه نه دد ے متعلق شوی نوداسی جواب ئي ورکړی : ( که یو انسان دخپلو ویختو او یاد نوك نه او یا دخپل پستکی نه څه برخه واخلی اوپریکړی اودس ئی نه ماتیږی )([1])

---

([1]) دروس اوفتاوی په حرم مکی کښی ص ۶۱.

## ۳۹- ځنی خلك چه اودس وكړی اوبیا ئی بدن جسم ته

او یا جامی ته څه نجاست ورسیږی پلیت شی نو په لری کولو یواځی اکتفانه کوی بلکی دائي عقیده وی چه اودس بیا په دویم ځل وکړی .

* اودا خطاء ده صحیح داده چه د اودس بیاکولو ته ضرورت نشته پدی وخت کښی اوهیڅ علاقه داودس نشته په لری کولو د نجاست کښی ، پاکی په لری کولو دنجاست او پلیتی سره لری کیږی او پاکیږی .

* شیخ صالح الفوزان حفظه الله تعالی ویلی : داچه کله یو انسان ته پلیتی ورسیږی جامه ئی پلیته شی او که بدن ئي پلیت شی او په اوداسه باندی وی نو اودس ئي په خپل حال د ے متاثره کیږی نه وباندی ځکه داوداسه ماتونکو نه ورته څه ندی پیښ شوی او اخری خبره داده چه دغه نجاست وینځی دبدنه وی اوکه د جامی نه وی په خپل اودس دمونځ وکړی هیڅ ګناه درباندی نشته په دغه کښی .(١)

## ۴۰- ځنی ښځی چه کله دنفاس وخت وی اوحال

داوی چه دا انتظار څلویښت ورځی کوی نه خو مونځ کوی اونه روژه نیسی او دڅلویښتو ورځو نه مخکی پاکه شوی ئي سره

---

(١) فتاوی نور علی الدرب . الفوزان ( الحلقة الأولی ) ص ١٠٧ .

ددینه مونځ هم نه کوی اوروژه هم نه نیسی تر دی پوری چه ځلوینبت ورځی نه وی پوره شوی اودا خطاء فکراوسوچ د ے .
* بلکی پدی فرض دی چه مونځ کوی او روژه نیسی چه کله پاکه شی اګر که ځلوینبت ورځی نه وی پوره .
* دمحترم شیخ عبدالعزیز بن باز رحمه الله نه تپوس شوی پدی مسئله کښی چه الفاظ ئي دادی دسوال : ایا دنفاسی ښځی دپاره جائزدی چه مونځ کوی او روژه نیسی او حج کوی مخکی دځلوینبتو ورځو نه چه پاکه شی ؟ نو هغه رحمه الله تعالی داسی جواب ورکړه :
* او ، جائز دی ورله روژه نیول اومونځ کول حج او عمره کول اودخاوند دپاره ئی جماع او کوروالے هم جائز دے په ځلوینبتو ورځو کښی چه کله پاکه شی که په شلو کښی هم پاکه شوه نو غسل به کوی او مونځ به کوی او روژه به نیسی او خاوند له هم جائز ده .
اوکوم روایت چه دعثمان بن ابی العاص رضی الله عنه نه د کراهیت ثابت د ے نو هغه په کراهت ئي تنزیهی محمول د ے او دهغه اجتهاد د ے څه دلیل ورباندی نشته .
صحیح او حق خبره داده چه څه ګناه نشته په دغه کښی چه کله مخکی دځلوینبتو ورځو نه پاکه شی ځکه پاکوالے صحیح د ے اوکه پدی ځلوینبتو کښی ورباندی وینه را و ګرځیده نو صحیح داده چه دا نفاس معتبره ولی شی په دغه ځلوینبتو ورځو کښی

لیکن روژه ئي په حالت دطهارت او پاکی کښی او مونځ ئی اوحج ئي ټول صحیح دي هیڅ اعاده به ئي نه کوی قضاء ورباندی نشته تر څو چه ئي په طهارت او پاکی کښی کړی وی دشیخ خبره ختمه شوه . والله اعلم

## ۴۱- ځنی دمخالفاتو نه چه بعض خلك دجمع دفوت کیدو په وجه چه جمع نشی لاندی کولی او ویریږی

ددینه او اودس ئی نه وی اویا جنب وی نو تیمم وکړی او اودس اوغسل کول پریدی ددی یری نه چه جمع تری ځی دده داکار چه اودس نه کوی او یا غسل نه کوی او تیمم وهی ددے قول دالله تعالی نه مخالف دے (( فلم تجدوا ماء فتیمموا صعیدا طیبا )) [ سورة النساء ، ایت : ۴۳ ]

ترجمه :( پس که وه نه مومئ اوبه نو اراده وکړی پاکی زمکی ته ) ( یعنی تیمم ووهئ ) .

* په فتاوی داللجنة الدائمة کښی دد ے متعلق بحث راغلے چه الفاظ ئي دادی :

* پدی واجب دی چه غسل وکړی او اودس وکړی اګر چه جمع تری قضاء او فوت شی تیمم ورله ند ے جائز او همدارنګ چه جمع تری فوت کیږی چه کله غسل کوی نوهم تیمم ورله ند ے روا .

## ۴۲- ځنی خلك مونځ لاندې کړی او دا چرته په عـام

باغ یا پټی کښی وی او غالبا دا باغ پـه دغـو اوبـو اوبـه کـوی چـه دهغی بدبوی وی یعنی ( ګنده بوی کوی )

* نـو شـیـخ ابـن بـاز رحمـه الله ویلـی : تـرڅو پـوری چـه ددغـه نـه بدبوی ځی نو مونځ پکی صحیح ند ے ځکه دمانځه دصحت نـه داده چـه مکـان او ځائـی بـه پـاك وی پـه کومـه زمکـه چـه مسـلمان مونځ کوی که چرته ئی په دغه ځائی یو حائل پرده نوی پاکه صفا سوتره کیخوده نو مونځ ورباندی صحیح د ے . ( [1] )

وصلى الله على النبي محمد وأله وصحبه وسلم
إنتهى الطهارة ويليه قسم الصلاة – ثانيا

( [1] ) مجلة الدعوة عدد ( ١٢٧٠في ١٤١١/٥/٢٦ هـ ص ١٣ .

# دويم

# دمانځه مخالفات

## (( دمانځه مخالفات ))

### ۱ ـ دمخالفاتو نه دارنګه په جهر او په زوره باندی

نیت کول چه کله په مانځه ودریږی او په دی باندی په مخالفاتو د اودس کښی خبره تیره شویده .

### ۲ ـ ځنی مونځ کونکی په شروع کښی دادعا وائی :

(( ولا معبود سواك ))

ترجمه : ستانه غیر بل دعبادت مستحق نشته داپه سنتو زیادت د ے کوم چه درسو ل الله صلی الله علیه وسلم نه ثابت دی .

* درسول الله صلی الله علیه وسلم نه چه کومه صحیح دعا ثابت ده هغه داده (( سبحانك اللهم وبحمدك وتبارك اسمك وتعالى جدك ولا إله غيرك ))

ترجمه : پاکی ده تالره او ثنا صفت د ے تا لره او مبارك د ے نوم ستا او اوچت د ے شان ستا او ستانه په غیر بل دعبادت مستحق نشته .

دا لفظ د( ولا معبود سواك ) دازیاتوالے د ے سره ددینه چه په حدیث کښی هم نشته او معنی ئی هم خطاء ده دځه نورو شیانو عبادت هم کیږی لکه ځنګه چه الله تعالی فرمائي :

(( إنكم وما تعبدون من دون الله حصب جهنم أنتم لها واردون )) [ سورة الأنبياء ايت : ۹۸]

ترجمه : يقينا تاسو اوهغه څه چه تاسو ئي عبادت كوى ماسوا دالله تعالى نه خشاك دجهنم دى تاسو به دى جهنم ته ورتلونكى ئي .

اوالله تعالى فرمائي :(( وجعل منهم القردة والخنازيروعبدالطاغوت)) [ سورة المائدة أيت : ٦٠ ]

ترجمه : ( اوګرځولى دى ځنى ددوى نه شادوګان او ځنى ددوى نه خنزيران او ځنى ددوى نه چه عبادت ( بندګى ) دشيطان كوى ) .

بيا فرمائي :(( ما تعبدون من دونه إلا أسماء سميتموها أنتم و أباوءكم )) [ سورة يوسف أيت : ٤٠ ]

ترجمه : تاسو عبادت او بندګى نه كوئى په غير دالله تعالى نه مګر دڅو نومونو چه تاسو او ستاسو پلارانو ورله نومونه ايخودلى دي .

## پدى حقله ډير اياتونه دى

* كله چه ددغه پته وه لړيده نو صحيح لفظ بيا داسى ويل پكار دى ليكن په مانځه كښى به ئي نه وائى (( ولا معبود بحق سواك )) ( دحق لفظ به ورسره زياته وى ) .

## ۳- دمخالفاتونه دارنګه : مانځه كښى په زوره قران كريم او اذكار لوستل .

* رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمائلى (( إن أحدكم إذا كان في الصلاة فإنما يناجي ربه فلا ترفعوا أصواتكم با لقران فتئوذوا المومنين )) [ بغوى وغيرو روايت كړى دابوسعيد خدرى وغيرو نه ]

ترجمه : ( یقینا چه کله یو کس ستاسونه په مانځه کښی وی نو دا دخپل رب سره جرګه کوی نو قران کریم په زوره جهر سره مه لولی چه مسلمانانو ته پری تکلیف رسوی .

دعلامه محترم سماحة الشیخ عبدالعزیز بن باز رحمه الله نه پدی مسئله دجهر کښی تپوس شوی چه قران کریم په مانځه کښی روسته مقتدی وائي چه کوم نور کسان ئي هم په خوا کښی ولاړوی : نوهغه رحمه الله داسی جواب ورکړی سنت په حق دمقتدی کښی چپ والے دے دخپل قراءت او دټولو اذکارو اونوری دعاګانی ځکه چه په زوره او جهر لوستلو څه دلیل نشته او چه په زوره ئی وائي په نورو ملګرو تشویش او پریشانی جوړه وي کوم چه دد ه په خوا کښی چاپیره ولاړ وی .

جواب ئي ختم شو رحمه الله : ځنګه چه په کتاب الدعوات کښی دی .

## ۴- دمخالفاتو نه د یوال یا ستنی ته تکیااو ډډه وهل

دمحترم شیخ عبدالعزیز بن باز رحمه الله نه ددیوال او یا ستنی ته یاددی پشان نورو شیانو ته ډډی او تکیا کولو تپوس شوی .

نو هغه داسی جواب ورکړی : دیوال یا ستنی ته ډډه وهل یا تکیا وهل په مانځه کښی ندی جائز ( چه فرض مونځ وی ) ځکه کوم کس چه طاقت وی برابر به ودریږی ډډه به نه وهي په نفلو کښی پروا نشته په ناستی اوو لاړی دواړو حالاتو کښی کولی شی که

ډېره ووهي او چه په ولاړی ئي وکړی نو دا دکيناستلو نه غوره دی.

**۵- دمخالفاتو نه** : يو ايت په بل پوری پيوسته کول او يا دری يا زيات ايتونه په يوسا ويل ، سنت پدی کښی دادي چه يويو ايت به لولی په غير دوصل نه چه ځانله قطع کوی او لولي .

* دأم سلمة رضي الله عنها نه روايت دے چه ددينه درسول الله صلی الله عليه وسلم دقراءت تپوس وشو نو هغی داسی وه فرمائل : (( كان يقطع قراعته أية أية بسم الله الرحمن الرحيم * الحمد لله رب العلمين * الرحمن الرحيم * مالك يوم الدين * )) [ابوداود ترمذی روايت کړی ]

او وائیچه سند صحيح دی او ټول راويان ئی ثقه دی او حاکم هم روايت کړ ے او وائي چه صحيح دے په شرط د شيخينو دےاو ذهبی ورسره هم موافقه کړی ا و ابن خزيمه او نووی ورته هم صحيح ويلی دي .

اوپه [ الإختيار الفقهية ] کښی دشيخ الاسلام ابن تيميه نه داسی نقل دی الفاظ ئي دای : دقاری ودريدل په سرد ايت سنت دی اګر که ددويم ايت تعلق داول سره وی تعلق دصفت دموصوف سره او يا په غير ددينه

[ ص ۹۸ ] .

**۶- دمخالفاتو نه ځنی مقتديان د** (( إياك نعبد وإياك نستعين )) دلوستلو په وخت کښی داسی وائي استعنا بالله .

امام نووی رحمه الله په ( مجموع ) کښې داسې وائي چه ډیرو خلکو عادت داسې جوړ شوے دعوامو چه کله دامام قراءت واوری (( إياك نعبد وإياك نستعين )) دوی وائي : إياك نعبدو إياك نستعين ، او دا بدعت دے منع ترې شوی . اهـ مختصر.

## ۷- ځنې مونځ کونکی دامام د (( ولا الضالين )) امين ویلو نه روسته داسې وائي ( ولوالدي وللمسلمين ) زما مور او پلار اونورو مسلمانانو ته .

* اوداد رسول الله صلى الله عليه وسلم دسنتو نه خلاف ده .

عن أبي هريرة رضي الله عنه قال : قال رسول الله صلى الله عليه وسلم (( إذا أمن الإمام فأمنوا فإنه من وافق تأمينه تأمين الملئكة غفر له ما تقدم من ذنبه )) .

ترجمه : ( دابو هريره رضي الله عنه نه روايت دے چه رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايلی : چه کله امام امين ووائي نو تاسو هم امين ووائي ځکه شان داد ے چه دچا امين دملائکو دامين سره موافق شه مخکښې ګناهونه به ورته معاف کړے شي .

وعنه رضي الله عنه قال : قال رسول الله صلى الله عليه وسلم : (( وإذاقال الإمام غير المغضوب عليهم ولا الضالين فقولوا : أمين فإنه من وافق قوله قول الملائكة غفر له ما تقدم من ذنبه )) [ دواړه احاديثه بخاری روايت کړی ]

ترجمه : ( دابوهريره رضي الله عنه روايت دے چه دا وائي رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايلی چه کله امام غير المغضوب عليهم ولا الضالين ) ووائي نو تاسو امين ووائي ځکه شان داد ے

چه دچا وينا د ملائکو دوينا او قول سره برابره شوله نو دته به مخکني ګناهونه معاف کړے شي .
په دی دواړو احاديثو کښې او غير ددی دواړو نه داسی نورو کښې اقتصاراوکفايت په امين راغلے نه په نورڅه والله اعلم .

## ۸- ملا - يعنی ( شا ) نه برابره وی په ودريدلو

اوکيناستلو کښی نو دا يو اعتراض او ملاحظه ده په بعض مونځ کونکو چه ودريدل ئی پوره نه وی په مانځه کښی نو کله راکوږ شوی په شا باندی او کله بنی طرف ته اوکله دواړو ته په يو ځل اوکله چپ ( ګس ) طرف ته کوږ وی او ددينه منع شوی .
امام احمد او طبرانی په کبير کښی په صحيح سند سره روايت کړی چه نبی صلی الله عليه وسلم فرمايلی : (( لا ينظر الله عزوجل إلى صلاة عبد لا يقيم صلبه بين ركوعها وسجودها ))
ترجمه : الله عزوجل نه ګوری ديو بنده مانځه ته چه خپله ملا ( شا) دخپل مانځه په رکوع او سجده کښی نه برابره وی او نه ئي سمه وی .
* اونبی صلی الله عليه وسلم ( مسئ الصلاة ) ته چا چه په صحيح طريقه مونځ نه و کړے امر وته وکړه په دی قول سره
(( ثم ارفع رأسك حتى تعتدل قائما فيأخذ كل عظم مأخذه ))
ترجمه :بيا سر پورته کړه تردی پوری چه برابر شی ولاړ ، او وه نيسی هر يو هډوکی خپل ځائی .

اوپه یو روایت کښې دی چه کله پورته شي نو شا ودره وه او سر پورته کړه تر دی چه واپس شی هډوکی هغه خپلو بندونو ته بیائی وه فرمایل : (( لا تتم صلاة لأحد من الناس إذا لم يفعل ذلك ))
ترجمه : ( نه پوره کیږی او نه کامليږی مونځ دیوکس دخلکو نه چه کله داوه نه دریږی ) .

## ۹- ملا ( شا ) نه پورته کوی په رکوع او سجده

کښې درسول الله صلی الله علیه و سلم نه ثابت شوی چه ده مونځ کاو نو شاه ته ئی وکتل چه یو کس ئی ولیده چه شا ئی نه سموله په رکوع ا و سجده کښی ، چه کله ئي سلام وه ګرځاو نو وی فرمایل (( ای ټولګئ اوډلی دمسلمانانو مونځ نه کیږی چه چا شا سمه نه کړه او نیغ وه نه درید په رکوع او سجده کښی ))
[ ابن ابی شیبه احمد او ابن ماجه نقل کړی ] .

اوپه یو بل حدیث کښی دی رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلی (( دیو سړی مونځ نه کیږی تر څو چه شا سمه نه کړی په رکوع او سجده کښی )) [ ابو عوانه ابو داود او سهیمی روایت کړےاو دار قطنی صحیح کړے]

* او دلته یو مسئله پاتی ده او هغه داده چه په څه طریقه به ملا ( شا ) سموی .

ددغی جواب درسول الله صلی الله علیه وسلم فعل اوعمل دے (( چه کله به رسول الله صلی الله علیه وسلم رکوع کوله نو شا به ئی وه غوړه وله اوبرابربه ئی کړه )) [ په صحیح سند بیهقی

نقل کړے] رسول الله صلی الله علیه وسلم به په رکوع کښی داسی شا برابره کړه چه اوبه که دی پری اړه ولی او تویه کړی وائی نو قرار به پاتی شوی وی اووتلی به نه وی تری .

ددی حدیث روایت [ ابن ماجه عبدالله بن احمد په زوائد و دمسند کښی او طبرانی په مجمع الکبیر او صغیر کښی کړے].

* اورسول الله صلی الله علیه وسلم ( مسئ الصلاة ) ته وویل چا چه خطاء مونځ کړے و (( فإذا رکعت فا جعل راحتیك علی رکبتیك وامدد ظهرك ومکن لرکوعك ))

[ احمد او ابو داود روایت کړے په صحیح سند سره ]

ترجمه : ( چه کله رکوع کوی نو ورغوی په ځنګنانو باندی کیده او ځائی خپلی رکوع ته پکی ورکړه او شا او غوړوه ( اوږده ) کړه .

## ۱۰ - او دمخالفاتو نه داهم ده ځنی خلك چه کله

جماعت ته داخل شی او امام په حالت درکوع کښی وی نو په دی قصد او اراده غاړه تازه کړی چه امام ورته انتظار وکړی (( اویا داسی ووائي ان الله مع الصابرین )) الله تعالی دصابرانو سره دے او دا کار دجماعت ته دداخلیدو دادابو نه مخالف دے ځکه مسلمان ته داحکم دے چه مانځه ته په اطمنان او قراری سر ه لاړ شی چه کوم مونځ لاندی کړی هغه دی وکړی او چه کوم تری فوت شوی هغه دی روسته راوه ګرځوی او پوره دی کړی اما ځنی هغه کارونه چه څوك ئی کوی اوالله تعالی ورباندی کوم دلیل نه وی

نازل کړےنو په دغه کښې څه خير نشته او که خير پکې وے نو صحابه به ورته مخکې شوی وے زمونږه نه ، علاوه دذی نه چه کله په داخل دجماعت کښې خبر ی شروع کړی نو په مونځ کونکو تشويش او دمانځه هغه عاجزی او خشوع قطع کيږی .

## ۱۱- د (( والشکر )) دلفظ زياتوالے دے چله کله

درکوع نه پورته کيږی او کوم چه درسول الله صلی الله عليه وسلم نه ثابت دی نو هغه به داسی ويل : (( ربنا ولك الحمد )) اويابه ئي (( ربنالك الحمد )) [ دادواړه په بخاری او مسلم کښې شته ] .

اوپه بخاری کښې دا لفظ هم شته (( اللهم ربنا ولك الحمد )) اوداسی شته (( اللهم ربنا لك الحمد )) ای الله زمونږه ربه تا لره ثنا او صفت دے .

## ۱۲- ددو سجدو په مينځ کښې ګوتی خوځول : هغه

چه درسول الله صلی الله عليه وسلم نه کوم ثابت دي نو هغه به په سبابه ( يعنی مسواکی ) ګوته دښۍ لاس باندی په دواړو تشهدونو کښې اشاره کوله .

* دعبدالله ځوی دزبير رضي الله عنهما نه روايت دے دا وائي : چه رسول الله صلی الله عليه وسلم به چه کله په مانځه کښې ( دتشهد دپاره ) کيناستلو نو ګس ( چپ ) قدم به ئي دپتون ( ورانه ) او پنډئي په مينځ کښې کيخوده او ښۍ خپه به ئی فرش کړه ( وه به يی غوړه وله ) او چپ لاس به ئي په چپ ( ګس )

زنګون کیخوده او ښیٔ لاس به ئي په ښي زنګون کیخوده او په ګوته باندی به ئی اشاره وکړه ) [ داحدیث مسلم روایت کړی ].

* دعبدالله بن عمر رضی الله عنهما نه روایت د ے چه رسول الله صلی الله علیه وسلم به کله کیناسته په تشهد کښی نو ګس لاس به ئی په ګس زنګون کیخوده او ښیٔ لاس به ئی په ښی زنګون کیخوده او دری پنځوس عدد به ئي جوړ کړه او په مسواکی ګوته به ئي اشاره وکړه .

( دری پنځوس چه کله دمینځنی ګوتی سر دغټی ګوتی مینځ ته وه لړي ) نو دری پنځوس عدد به تری جوړ شی .

## ۱۳- دارنګه د مخالفاتونه :دامام انتظار کول دي چه

کله هغه په سجده کښی وی نو انتظار کوی تر دی چه راپورته شی او یاناست وی تردی چه پاڅیږی او دهغه سره په مانځه نه ودریږی چه کله په حالت درکوع کښی نه وی او یا ولاړ نه وی ( نو په بل حالت کښی ورسره شرکت نه کول خطاء ده )

* صحیح خبره داده چه دامام سره په هر حالت کښی شریك کیده پکاردی که ولاړ وی اوکه په رکوع کښی وی او که په سجده کښی وی اوکه ناست وی .

* دابی قتاده رضی الله عنه نه روایت د ے دا وائي چه رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلی : (( إذا أتيتم الصلاة فعليكم با لسكينة فما أدركتم فصلوا وما فاتكم فأتموا )) [ ددی حدیث روایت بخاری کړے]

ترجمه : کله چه مانځه ته راځې نو ضرور دی په تاسو باندی چه په قلار ه اطمنان سره راځې کوم چه لاندی کړی نو مونځ وکړی اوچه کوم درنه فوت شوے وی نو پوره ئې کړی .

* ابن حجر رحمه الله ویلی : ( کله چه دحدیث فوائد ذکر کوی ) اوپدی دلیل هم نیولے دی په استحباب دداخلیدو لو دامام سره په هر حالت کښې چه امام ورباندی بیامومی او پدی کښې یو صریحه حدیث هم شته ددینه چه ابن ابی شیبه په سند دعبدالعزیز بن رفیع دیو انصاری سړی نه نقل کړی مرفوعا : هغه داد ے (( چا چه زه په حالت د رکوع کښې او یا په حالت دودریدو کښې او یا په حالت د سجده کښې بیاموندم نو زما سره دشی په هر حالت کښې چه زه یم . اه دفتح الباری نه .

او ځنی ددلائلو نه پدی باندی ترمذی یو حدیث د معاذ رضی الله عنه نه نقل کړی هغه ویلی چه رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلی : (( إذا أتى أحدكم الصلاة والإمام على حال فليصنع كما يصنع الإمام ))

ترجمه : کله چه یو کس ستاسو نه مانځه ته راشی او امام په یو حال کښې وی امام چه څه کوی هغه دورسره داهم کوي .

## ۱۴- او ځنی دمخالفاتو نه په اوه ( ۷ ) اندامونو

سجده نه کول او داد هغه سنت نه خلاف ده کومه چه درسول الله صلی الله علیه وسلم نه ثابته طریقه ده .

دعبدالله بن عباس رضی الله عنهما نه روایت د ے دا وائي چه رسول الله صلی الله علیه وسلم حکم کړے چه سجده به په اوه اندامونو کوی او جامی به نه راټوله وی اونه به ویخته رانغاړی او په تندی دواړو لاسونو او دواړو زنګنونو او دواړو خپو به سجده کوی .

او دده نه رضی الله عنه روایت د ے داد نبی صلی الله علیه وسلم نه روایت کوی چه فرمائي : مونږه ته ئي حکم کړی چه سجده په اوه اندامونو وکړو او جامه او ویخته راټول نه کړو .

دعبدالله بن عباس رضی الله عنهما نه روایت د ے دا وائي چه رسو ل الله صلی الله علیه وسلم فرمائي :

(( ماته حکم شوی چه سجده په اوه اندامونو وکړم او اشاره ئی په لاس پوزی ته وکړه او دواړه لاسونه او دواړه زنګنونه او دخپو طرفونه او جامی او ویخته به نه راټوله و )) [ دا حدیث بخاری په خپل صحیح کښی نقل کړی ].

## په دی بحث کښی چه کوم مخالفات دی او خلك پکی واقع دی په قسمونو دی : ځنی ددغه نه :

ځنی خلك چه سحده کوی نو قدمونه زمکی نه لږ وچت کړی او یا یو قدم ( خپه ) په بله دپاسه واړوی، او پدی حالت کښی دا په اوه اندامونو سجده نه کوی او نه وربا ندی تصدیق کیږی

**اوځنى ددغو مخالفاتونه** ځنى خلك چه سجده كوى كله ئى پوزه په يو طرف دفرش وى او تندے ( وچولے ئي ) زمكى ته نه وى رسيدلئے .

**او ځنى دخطاء ګانو نه** : ځنى خلك عقال ( تور پړے ) ( لكه پكول وغيره ) پسر كوى او كله په دغه عقال وغيره ديو شى په طرف سجده كوى نو پوزه دزمكى نه اوچته وى او يا ئى په پوزه دغه شى وى نو تندے اوچت وى دا ټول دهغه مخكو احاديثو نه خلا ف كار دے چه كوم په اوه اندامونو دسجدے كولو حكم كوى .

**۱۵- دمخا لفاتو نه** : په كوناټو باندى په مانځه كښى كيناستل دي : امام احمد او ابويعلى دابو هريره رضى الله عنه روايت نقل كړى چه هغه وائى : چه زه خپل دوست صلى الله عليه وسلم ددرى شيانو نه منع كړى يم : (( دټونګو وهلونه لكه ټونګى دچرګ او دكيناستلو نه لكه كيناستل د سپي او دكتلو نه لكه كتل دګيدړ )) .

ابو عبيد القاسم په خپل كتاب غريب الحديث كښى ويلى دي : چه ابو عبيد ه ويلى : (( الإقعاء )) د إقعاء معنى داسى كړى چه يو سړى په كوناټو كينى او ورنان ( پتونان ) ودره وى لكه څنګه چه سپى كينى .

او دا خبره ابو عبید راجح کړی او ویلی دی : چه تفسیر دابو عبید ه په کیناستلو دسپی سره ډیر مشابهه د ے په معنی کښی ځکه سپے هم دغه شان کینی لکه ځنګه چه یی ویلی دي .
* او نبی صلی الله علیه وسلم نه هم دغه شان د
( اقعاء ) په حال کښی د خوراك ذکر راغلئے نو دا بیا نه وی چه اقعاء هم دغه ده او دا معنی په کلام دعربو کښی راغلی ده . انتهی .

## ۱۶- او دمخالفاتو نه داهم ده چه ځنی مونځ کونکی

ودریده اوږد کړی او رکوع سجده اوباقی ارکان ډیر لنډ او زر زر کوی ځکه چه لوی فرق ښکاری په ودریدلو او نورو ټولو ارکانو دمانځه کښی .
* دبراء بن عازب رضی الله عنه روایت د ے دا وائي چه ما د (( رسو ل الله صلی الله علیه وسلم مانځه ته کتل نو دهغه ودریدل په رکوع کښی او درکوع نه بعد برابر یده او بیا دهغه کیناستل ددو سجدو په مینځ کښی او بیائي سجده کول او بیا ئي کیناستل دسلام او تشهد په مینځ کښی یو شان بیاموندہ ))
[ دا حدیث بخاری او مسلم نقل کړی ] .

## ۱۷ – اوځنی دمخالفاتو نه : ځنی مونځ کونکی چه کله

داول تشهد ویلو نه فارغ شی ا وامام ناست وی نو دابیا تشهد ویل شروع کړی چه چپ پاتی نشی او ځنی تشهد نه واپس کوی بلکی په تشهد زیاتوالی ګناه ګنی .

نو بنا په دی هغه څوك چه تشهد تكراره وی ورته ويلے شی ستا داكار بدعت او خلاف سنت دی ، او نبی صلی الله عليه وسلم فرمائي : (( من أحدث في أمرنا هذا ما ليس منه فهو رد )) (چا چه زمونږه په دين كښی چه دا دے زيادت وكړه هغه چه ددينه نه وی نو هغه رد دے ) ( يعنی قابل قبول نه دے ) .

* او هغه چا ته ويلے شی چه څوك دزيادت نه ځان ساتی : په تا باندی څه گناه نشته بلكی سنت زيادت تايده وی چه په دعاسرهورباندی زيادت وكړی .

اوددی دپاره دليل حديث دعبدالله بن مسعود رضی الله عنه دے هغه وائي چه رسول الله صلی الله عليه وسلم فرمايلی دي : چه كله تاسو ددو ركعاتونو په مينځ كښی كينئ نو بيا وائي : (( التحيات لله والصلوات والطيبات السلام عليك أيهاالنبي ورحمة الله وبركاته السلام علينا وعلى عباد الله الصالحين ، أشهد أن لا إله إلا الله وأن محمدا عبده ورسوله ثم ليتخير من الدعاء أعجبه إليه ))
[ نسائي احمد طبراني په معجم الكبير كښی نقل كړی ] .

ترجمه : ټول عبادتونه خاص الله تعالی لره دی عبادت بدني او مالي سلام دی وی په تا باندی ای پيغمبرصلی الله عليه وسلم رحمت دالله تعالی او بركتونه دهغه ، په مونږه دے سلام وی او په نيكانو بنده گانو باندی ، گواهی كوم چه نشته مستحق دعبادت بل هيڅوك په غير دالله تعالی نه او گواهی كوم چه محمد صلی الله عليه وسلم بنده دالله تعالی او استاځی دالله

تعالی دے ، بیادے دوعا غوره کړی چه کومه ورته ښه او بهتره ښکاري .

## ۱۸- دمخالفاتو نه تورك (په کوناټی کیناستل) په دویم

رکعت کښې او (افتراش) یعنې په خپه کیناستل په څلورم رکعت کښې : او سنت طريقه داده چه تورك وکړی په (کوناټی کینی) په څلورم رکعت کښی او دريم رکعت دماښام او په خپه کینی په دویم رکعت .

* دابی حميد الساعدي رضی الله عنه په روایت باندی بخاري نقل کړے درسول الله صلی الله علیه وسلم دمانځه صفت او حالت داسی نقل کړے چه نبی صلی الله علیه وسلم به چه کله په دو رکعاتونو کښی کیناسته (یعنی دتشهد دپاره) نو کیناسته به په چپه (ګسه خپه) او ښئ خپه به ئی مخکی کړه او دابله به ئی ودره وله او په کوناټی به کیناسته ، دا اوږد حدیث دے .

* حافظ ویلی : چه په دی حدیث کښی دامام شافعی دپاره قوی مضبوط دلیل دےاو دهغه چالپاره هم څوك چه پدی نظر دي چه شکل او هیئت دکیناستلو په اول تشهد کښی جدا دے دحالت او هیئت داخری تشهد نه . اه

* او دحنابلو د(( العمده )) په متن کښی داسی الفاظ دي : (( ولا يتورك إلا في صلاة فيها تشهدان في الأخيرة منهما ))

ترجمه : او تورك به نه کوی مګر په هغه مانځه کښی چه په هغه کښی دوه تشهده وی نو ددغو دواړو په اخیر تشهد کښی به ئی

کوی ، ( یعنی په اخری تشهد کښې به ګسه خپه ښی طرف ته او باسی او ښی خپه به ودره وی اوپه ګس کوناتی به کینی ) .
**۱۹- دارنګه دمخالفاتو نه :** په دواړه مسواکیو ګوتو اشاره کول دتشهد په حال کښې .
اوپه دی کښې صحیح ښکاره منع راغلی ده .
* ابن ابی شیبه او نسائی نقل کړی او حاکم صحیح کړے او ذهبی ورسره موافقه کړی چه نبی صلی الله علیه وسلم یو سړے ولیده چه په دواړه ګوتو ئی اشاره کوله نو رسول الله صلی الله علیه وسلم ورته وه فرمایل : (( أحد أحد وأشار با لسبابة ))
ترجمه : یوه کړه یوکړه او بیائی په سبابه ګوته ئي اشاره وکړه .
او دد ے حدیث شاهد په ابن ابی شیبه کښې هم شته
* سنت داده چه د ښیٔ لاس په ګوته اشاره وکړی رسول الله صلی الله علیه وسلم به ګس لاس په ګس زنګون کیخوده اودښیٔ لاس ګوتی به ئی ټولے راټولے کړی او په هغه ګوته به ئي اشاره کوله کومه چه غټې ګوتی ته نژدی ده قبلی طرف ته او دغی ګوتی ته به ئي کتل . [ مسلم ابن خزیمه او ابویعلی او ابوعوانه نقل کړے داحدیث ] رسول الله صلی الله علیه وسلم چه به کله په ګوته اشاره کوله نو غټه ګوته به ئی په مینځ ګوته کیخوده .
اوکله به داسی و چه دواړه ګوتی به ئی حلقه کړی .
[ داحدیث ابوداود نسائي او ابن جارود نقل کړئی ]

**۲۰- دمخالفاتونه** : چه مقتدی دامام دسلام ګرځولونه مخکی پاځیږی هغه مانځه ته چه کوم تری فوت شوے وی .
نودايواعتراض دے چه امام لا سلام نه وی ګرځولی او( مسبوق ) دغه کس چه مونځ تری فوت شوے وی دامام دسلام ګرځولو نه مخکی مخکی پاڅیدلے وی .
* اود رسول الله صلی الله علیه وسلم ددی قول نه خلاف دے چه فرمائي : (( إنما جعل الإمام ليوءتم به فإذا كبر فكبروا وإذا ركع فاركعوا )) [ داحدیث بخاری اومسلم دابوهریره رضی الله عنه په روایت نقل کړے ]
ترجمه : یقینا امام دد ے دپاره مقرر شوے چه په دی پسی اقتداء وشی نو چه کله هغه تکبیر ووائي نو تاسو ئي هم اووائي اوچه کله هغه رکوع کوی نوتاسو ورسره هم رکوع کوی ( مطلب داد ے چه دهغه تکبیر ویل او رکوع ته تلل ئی یقینی شی نو بیائی ورپسی تاسوهم هغه شان کوی ) .
* امام شافعی رحمه الله ویلی : (( دچانه چه امام مخکی شوی په څه حصه دمانځه سره ( یعنی ددی سړی نه دمونځ څه حصه شوی وه ) نو دقضااګر ځولو دپاره دنه پاځیږی مګر روسته دهغه نه چه امام دواړه طرف ته سلام وه ګرځوی .

**۲۱- ځنی دمخالفاتو نه هغه چه ډیر خلك ئی كوی**

چه دچانه مونځ شوے وي کله چه امام په رکوع کښی وی نو داهم په تېیته نیت وتړی او په حال درکوع کښی الله اکبر وائي ، او

اصل داده چه تکبیر تحریمه به په ولاړی وکړی بیابه ددغه نه روسته رکوع ته ځی که جلتي يئ وکړه اودرکوع تکبير ئي پریخوده مونځ ئي جائز دے او یواځی په تکبیرتحریمه ئي اکتفاء وکړه . [ دعبدالله بن جبرين حفظه الله تعالى خبره ده ]

## ۲۲- دمخالفاتونه لاسونه نه پورته کول په

تکبیرتحریمه کښی کوم چه اول تکبیر په مانځه کښی دداخلیدو دے ،اودرکوع په وخت کښی اودرکوع نه دپورته کيدو په وخت کښی اوکله چه دتشهد اول نه پاځیږی او دادمانځه سنت دي اوکله چه دجنازی په مانځه کښی تکبیرونه وائي اود دواړو اخترو په مانځه کښی چه کوم تکبیرونه وائي اود استسقاء په مانځه کی چه کوم زائد تکبيرونه دی .

( یعنی په دی ټولو تکبیرونو کښی لاس ورسره پورته کول سنت دي ) [ دابن جبرين حفظه الله دخبری نه نقل شوی ].

## ۲۳- دمخالفاتونه دامام نه مخکی کیدل دی او

ددینه سخته منع راغلی ده امام بخاری رحمه الله تعالی ویلی :
(( باب : إثم من رفع رأسه قبل الإمام )) .
باب ئی تړلی دے په ګناه دهغه چا کښی چه دامام نه سر مخکی پورته کوی ، اوبیائي سند ذکر کړے دابو هریره رضی الله عنه په روایت باندی چه دا وائي : چه رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلی : (( ایانه ویریږی یو کس ستاسو نه چه کله دامام نه

مخکی سر وچتوی چه الله تعالی ئی سر دخره سر وګرځوی او یائی شکل دخره شکل وګر ځوی )) .

امام منذری رحمه الله ویلی چه ود ویریږی چه دامام نه مخکی سر وچتوی ، مخکی حدیث ئی نقل کړےاو په بل لفظ سره ئی هم ذکر کړے ، (( چه ایانه ویریږی هغه څوك چه دامام نه مخکی سر وچتوی چه الله تعالی ئي سر سر دسپی وګرځوی )) .

بیا امام منذری دخطابی قول نقل کوی چه خطابی داسی وائي : چه دخلکو پدی کښی اختلاف دے چه دامام نه مخکی کیږی نودهغی څه حکم دے ؟ او د ابن عمر رضی الله عنهما نه ئی روایت نقل کړے چه هغه داسی وائی چه مونځ ئي نه کیږی چه دغه شان کار وکړی اوکوم چه عام اهل علم دی نو دوی وائی چه ګناه ګار دےاو مونځ ئی کیږی او زیات پدی امر کوی چه سجدی ته واپس شی او دومره وخت تیر کړی چه څومره تری فوت شوےوی خو دا روسته ددینه چه امام سر پورته کړی.

[ خبره ئي خلاصه شوه ]

## ۲۴ـ ځنی خلك داسی وی ( الله تعالی د ورته هدایت

وکړی ) چه کله جماعت ته ځی نو منډی وهی خاص طور چه کله امام د رکوع نه په لږ مخکی حال کښی وی او دمنډو وهلو نه منع شوی (( دابوهریره رضی الله عنه نه روایت د ے دا وائي چه رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمائلی دی :(( إذا أقيمت الصلاة فلا تأتوها وأنتم تسعون وأتوها وأنتم تمشون وعليكم السكينة فما أدركتم فصلوا وما فاتكم فأتموا ))

[ بخاری مسلم احمد او اهل السنن داحدیث روایت کړی ].

ترجمه : چه کله مونځ ودریږی او اقامت وشی نو مانځه ته مه راځی په داسی حال کښی چه رامنډی وهی بلکی په اطمنان اوپه قراره راځی په تاسو اطمنان لازم دے کوم مونځ چه مو لاتدی کړه نو هغه وکړی او کوم چه درنه فوت شی نو هغه پوره کړی .

ابن الاثیر په النهایه کښی ویلی : چه سعی منډی ته وائی اوکله تللو ته وائي او عمل او تصرف ته او قصد ته هم وائی .

* او دلته په دی حدیث کښی تری مراد منډه ده .

اوددی شاهد دبخاری حدیث دے چه په خپل صحیح کښی راوړے دابو بکره رضی الله عنه نه روایت دے چه دا رسول الله صلی الله علیه وسلم ته وه رسیده او رسول الله صلی الله علیه وسلم په رکوع کښی و نو ده رکوع وکړه مخکی ددینه چه دا صف ته ورسیږی نو دا خبره ئي رسول الله صلی الله علیه وسلم ته وکړه

(او خپل دغه کار ئي ورته ذکر کړه ) نو رسول الله صلی الله علیه وسلم ورته وه فرمایل : (( زادك الله حرصا ولاتعد )) الله تعالی دی حرص زیات کړه او بیا دپاره داسی مه کوه .

* حافظ ابن حجر رحمه الله ویلي : چه ( ولا تعد )

( أی ماصنعت من السعي الشدید ثم الرکوع دون الصف ... ) یعنی مه راګرځه بیا هغه کار ته چه تاکړی چه هغه منډی وهل دی او رکوع کول دي دصف نه په غیر .

اوپه ځنو سندونو ددی حدیث کښی صریح راغلي او په ځنو کښی فرمایلي (( من الساعي )) منډی وهونکی څوك د ے .
اوپه طبراني کښی داسی دي (( أیکم صاحب هذا النفس )) .
کوم یو و په تاسو کښی دساه اغستلو والا ( یعنی چه په جلتئ سره درامنډی په وخت کښی ساه اخلی اوخرشیږی )
[ دحافظ ابن حجر خبره لنډه خلاصه شوه ].

* بلکی په بخاری کښی یو روایت راغلی چه دمنډو وهلو نه پکی منع شوی او نص دے ابو هریره رضی الله عنه د رسو ل الله صلی الله علیه وسلم نه نقل کوی چه هغه فرمائي : (( إذا سمعتم الإقامة فامشوا إلى الصلاة وعلیکم السکینة والوقار ولا تسرعوا فما أدرکتم فصلوا ومافاتکم فأتموا ))

ترجمه : ( رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمائي چه کله اقامت واوری نو مانځه ته لاړشی او په تاسو باندی اطمنان ، وقار اوقلاری لازم دی او منډی مه وهی جلتی مه کوی چه کوم مونځ تاسو لاندی کړه ( بیاموننده ) نو هغه وکړی او چه کوم درنه شوی وی مخکی نو هغه پوره کړی ) .
( یعنی چه امام سلام دواړه طرف ته وه ګرځوی بیا پاڅیږی او ځانله ئي وکړئ ) .

## ۲۵ـ دمخالفاتو نه صف نه جوړول دی ځنګه چه مناسب دي :

دنعمان ځوی دبشیر رضی الله عنهما نه روایت دے دا وائي چه رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلی : (( چه

خامخا به صفونه برابره وئ او جوړه وئ به ئي او که نه بیا به الله تعالی ستاسو په زړونو کښې مخالفت او نفرت بې اتفاقي واچوی )) .

* رسول الله صلی الله علیه وسلم په بل حدیث کښې داسې فرمائي (( أقیموا صفوفکم وتراصوا ))

ترجمه : ( صفونه وه دره وی او دیو بل سر ه برابر شئ ) .

* بیا فرمائي : (( أقیموا الصف في الصلاة فإن إقامة الصف من حسن الصلاة ))

ترجمه : ( صف جوړکړی په مانځه کښې ځکه صف جوړه ول دماځه دښائست او ښکلا نه دی ) .

* بیا فرمائي : (( سووا صفوفکم فإن تسویة الصفوف من إقامة الصلاة ))

ترجمه : ( صفونه جوړ کړی پس یقینا جوړول دصف دپوره کولو دمانځه نه دی ) ( یعنی دمانځه حصه ده )

[ دا ټول احادیث امام بخاری رحمه الله په خپل صحیح کښې نقل کړی ] .

بیا امام بخاری رحمه الله باب ایخودلے دے او وائي :

( اثم من لم یتم الصفوف )

ترجمه : باب دے په بیان او بحث دګناه دهغه چا کی چه صفونه نه جوړه وی او نه ئی پوره کوی .

او بیا ئي سند دحدیث دبشیر بن یسار په روایت سره نقل کړی چه دانس بن مالك رضی الله عنه نقل کوی چه کله دامدینی ته راغلو نو دته وویل شوچه درسو ل الله صلی الله علیه وسلم نه

روسته ته څه شے زمونږ ه نه بد (نا اشنا) ګنې ؟ نو هغه وويل
(( څه شے بد نه ګڼم ليکن تاسو صفونه نه جوړه وی ))
(يعنی صفونه مو پوره برابرنه وی) .

## ۲۶- ځنی دمخالفاتونه جماعت ته راتلل دي چه کله ئي اوږه يا پياز خوړلی وی .

* دعبدالله ځوی دعمر رضی الله عنهما نه روايت د ے چه نبی صلی الله عليه وسلم فرمايلی : (( من أكل من هذه الشجرة (يعنی الثوم ) فلا يقربن مسجدنا )) .
ترجمه : چا چه ددی بوټی نه خوړلی وی (يعنی داوږی نه) نو زمونږه جماعت ته د ی نه راځی .
دجابر ځوی دعبدالله رضی الله عنهما روايت د ی چه نبی صلی الله عليه وسلم فرمايلی :
(( چاچه ددی بوټی نه خوړلي (اوږه مقصد وو) نوزمونږه جماعتونو ته دی نه راځي )) .
اوپه يو روايت کښی داسی دی : (( من أكل ثوما او بصلا فليعتزلنا او قال فليعتزل مسجدنا وليقعد في بيته )) .
ترجمه : چاچه اوږه يا پياز خوړلی وي نو زمونږه نه دی جداشی او يا ئي داسی وويل چه زمونږه دجماعت نه دی جدا شی او په کور کښې دی کينی .

* انس رضی الله عنه وائی چه رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلی : (( چاچه ددی بوټی نه خوړلی ( یعنی داوږی نه ) نو مونږه ته دی نه رانژدی کیږی اویادی زمونږه سره مونځ نه کوی ))
[ داتو ل احادیث بخاری په خپل صحیح کښی نقل کړی ]
* په صحیح مسلم کښی دعمر رضی الله عنه روایت دے دا وائي چه (( ما رسو ل الله صلی الله علیه وسلم لیدلی و چه کله به ئي ددی دواړو بوی بیامنده دیو سړی نه په جماعت کښی نو په هغه به ئي امر وکړه او بقیع ته به ئی ویسته نو چا چه خوړلی وی نو مړه دی کړی په پوخ والی سره )) ( یعنی چه ضرورئي خوری نو بیا دی پخه کړی چه بوی ئی ختم شی ) .
دانس رضی الله عنه نه روایت دی دا وائي چه رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلی : (( چه ځان وساتی دخوراك ددغو دو بدبوداره سبزو نه ، او چه کله ئی او خورئی نو بیا زمونږه جماعتونو ته مه داخلیږه ، که چرته ئي ضرور خورئي دا دواړه نو مړی ئی کړه)) ( یعنی پاخی ئي کړی ) .
[ طبرانی په اوسط کښی نقل کړے ]
* ځنی اهل علمو د اوږی او پیازو دخوراك سره دسګریټ څکل هم شامل کړی ( چه څوك سګریټ څکی هم دغه حکم ئی دے ځکه دواړه په بدبوی کښی شریك دی بلکی ځنی مسلمانان د سګریټ څوکونکو دبوی نه ډیر تنګ کیږی دهغه چانه چه دهغه نه د اوږی او یا پیازو بوی ځی .

* دحذیفه څوی داسید رضی‌الله عنه نه روایت دے دا وائي چه رسول الله صلی الله علیه وسمل فرمایلی : (( چاچه مسلمانانو ته ددوی په لارو کښی تکلیف وه رساو خیری اولعنت په دغه کس باندی واجب شو ( یعنی داسړے دخیرو او بد دعائي مستحق وه ګرځیده )) .

[ داحدیث طبراني او ابو نعیم او ابن عدی روایت کړے ]

* چه کله تکلیف رسونکی مسلمانانو ته دهغوی په لارو کښی مستحق او حقدار دخیر و او لعنت شو نو دهغه چا به څه حال وی چه په جماعتونو کښی مسلمانانو ته تکلیف رسوی .

پدی کښی شك نشته چه دا جرم ډیر لو ی دے .

## ۲۷- ځنی دمخالفاتو نه دارنګه په مانځه کښی یو طرف او بل طرف ته کتل دی .

* دعائشی صدیقی ام المومنین رضی الله عنها نه روایت دے دا وائي چه رسول الله صلی الله علیه وسلم نه ما تپوس وکړه چه په مانځه کښی دکتلو څه حکم دے هغه وه فرمایل :

(( داڅښتول دي چه دیو بنده دمانځه نه ئی شیطان څښتوی )) [ بخاری داحدیث نقل کړی ]

* ترمذی او حاکم داقول درسول الله صلی الله علیه وسلم نقل کړی (( چه کله تاسو مونځ کوی نو یو خوا بل خوا ته مه ګوری ځکه الله تعالی ( دخپل شان مناسب ) خپل مخ مبارك دیو بنده

مخ ته ودره وی او مخامخ کوی په مانځه کښی تر څو چه ئی یو خوا بل خوا نه وی کتلي )) .

اورسول الله صلی الله علیه وسلم د دری شیونو نه منع هم کړی پدی حدیث شریف کښی .

(( عن نقرة کنقرة الدیك ، وإقعاء کإقعاء الکلب ، والتفات کالتفات الثعلب )) .[ احمد او ابو یعلی دابوهریره رضی الله عنه په روایت نقل کړے] .

ترجمه : ( دټونګو وهلونه لکه دچرګ پشان ټونګی وهی ، او کیناستلو نه پشان ته دکیناستلو دسپی ، او دکتلونه پشان ته دکتلو دګیدړ ) ( دا ټول په مانځه کښی منع دی ) .

کله چه کتل بی ضرورته وی نو ممنوع دی ، او کوم چه دیو خاص ضرورت په وجه وی نو څه ګناه نشته په دغه کښی ځنی دلائل داسی راغلی چه په جواز دلالت کوی .

ځنی دهغی نه دسهل بن سعد الساعدي روایت دی چه امام بخاری روایت کړی : چه رسول الله صلی الله علیه وسلم بنی عمرو بن عوف ته د صلح کولو دپاره لاړو چه ددوی تر مینځ صلح وکړی ، نو دمانځه وخت شو نو ابو بکر صدیق رضی الله عنه ته موذن راغی او ورته وویل که ته خلکو له جمع وزکوی چه زه اقامت وکړم ؟

نو هغه وویل : او ، جمع به ورکړم نو مونځ ئي کاو چه رسول الله صلی الله علیه وسلم راغے او خلك په مانځه کښی وو نو راغے تر دی چه صف ته راو رسیده او په صف کښی ودریده ، نو خلکو لا

سونه پړقول او ځپیړی وهل شروع کړه او ابو بکر رضی الله عنه به په مانځه کښی نه کتل کله چه لاس پړقول ډیر شو نو هغه وکتل او رسول الله صلی الله علیه وسلم ئي وه لیده نو رسول الله صلی الله علیه وسلم هغه ته اشاره وکړه چه په خپل ځائی ودریږه ... )) اوږد حدیث دی .

او په اخر کښی داوه فرمایل چه ولی ما تا سو ولیدی چه لاسونه پړقول او ځپیړی وهل مو ډیرکړه ؟ دچا چه څه شك و په مانځه کښی نو تسبیح دی ووائی ( یعنی سبحان الله ویل فقط ) ځکه چه کله تسبیح ووائي نو هغه ته کتلے شی ا و لاس پړقول داد ښځو دپاره دی .

* حافظ ابن حجر ویلی چه پدی کښی دضرورت په وخت کښی دکتلو جواز د ے او په اشاره سره مونځ کونکی مخاطب کول او پوهول بهتره دی ددینه چه په الفاظو سره ئي پوه کړی او خبر ی ورسره وکړی .

## ۲۸- او دمخالفاتو نه داهم ده چه ډیر امامان

**دمانځه** ارکان زر زر کوی او ځان تری خلاصه وی چه مقتدی ئي نشی رسولی اونه کوم واجب ذکر چه وی هغه پسی صحیح ویلی شی او داد هغه حدیث خلاف عمل دے په کوم کښی چه د وخت تیرولو او طمانیه ذکر دی نو ضرور ده چه په رکوع او سجده کښی وخت تیر کړی په دومره مقدار او اندازه چه کم از

کم مقتدی پکی دری ځل تسبیحات ووائي او جلتی پکی نه کوی او په قراره سره ئي وائي .

[ دشیخ عبدالله بن جبرین خبره تردی ځائی پوری ختمه شوه ]

۲۹- ځنی دمخالفاتو نه په مانځه کښی دقران کریم نه لوستل یعنی دمصحف نه چه په لاس کښی نیولے وی قراءت ترینه وائي او یا په امام پسی روسته قران کریم ته ګوری او امام قراءت وائي په عام مانځه کښی اویا په تراویح کښی په غیر دضرورت نه ځکه دا عبث کار دے او که څه فائده پکی وی بیا خو پروا نکوی لکه څوك امام لره فتح تری ورکوی او یا داسی نور څه شو نو دضرورت او حاجت په مقدار او اندازه څه پروا نشته .[دشیخ عبدالله بن جبرین حفظه الله خبره ختمه شوه ].

۳۰- ځنی دمخالفاتونه چه کله یو کس سجده کوی داندامونو جدائی نه کوی او په راټوله سره ئي کوی دجدا والی مطلب داد ےچه ګیډه ( خیټه ) دورنانونه او چته او پورته کړی اوخپلی دواړه لیچی ددواړه طرفونونه جدا کړی څومره چه ممکنه او کیدلی شی او چه خوا کښی ملګری تنګ نه کړی او خپلی څنګلی د ځمکی نه پورته ساتی او دواړه ورغوی او لاسونه د اوږو برابر کیدی دزنګنانو سره دی نه برابره وی او ډیره مبالغه دی په جدا والی کښی هم نه کوی چه شاه ( ملا ) اوږده کړی لکه سړی چه تکیایا ډډه وهی په ګیډه ( خیټه ) باندی .

چه سرئي مخکنى صف ته وه رسيږى اوپه دى اوږدوالى خپل ځان تكليفه وي . [دشيخ عبدالله بن جبرين خبره پدى ځائى ختمه شوه ].

## ۳۱- دمخالفاتو نه په مانځه كښى جامه زوړنده ول چه ( اسدال ) او ( سدل ) ورته په عربى ژبه كښى مستعمليږى .

فعن أبي هريرة رضي الله عنه عن النبي صلى الله عليه وسلم : (( أنه قال نهى عن السدل في الصلاة )) .
[داحديث امام احمداواصحاب السنن او حاكم روايت كړے]

ترجمه : ( ابو هريره رضى الله عنه درسول الله صلى الله عليه وسلم نه روايت كوى چه ده فرمايلى چه په مانځه كښى دجامى زوړه نده ولونه منع كړى ) .

* دعون المعبود مصنف وائي چه خطابي ويلى : چه ( سدل ) دجامى زوړندول دى تردى چه زمكى ته وه رسيږى .

په نيل كښى ويلى چه ابوعبيد په خپل غريب كښى ويلى : چه ( سدل ) يو سړے خپله جامه پريدى تردى چه دواړه طرفونه ئي خپلى مخى ته راټول نكړى كه چرته ئي دواړه طرفونه خپلى مخى ته راټول كړه بيا سدل ند ے .

صاحب د نهائى ويلى : چه يوكس په خپله جامه كښى ځان راټول كړى او دواړه لاسونه مينځ ته ور داخل كړى او ركوع او سجده هم په دغه حالت كښى كوى او په كميص او نوروجامو كښى هم كيږى .

بیا وائي چه چا داسی هم ویلی چه دخپل لنګك یا څادر وغیره مینځ په سر باندی کیدی او دواړه طرفونه ئی ښئ او چپ (ګس) طرف ته هم دغه شان پریدی په غیر ددینه چه په خپله اوږو دواړو باندی کیدي .

* جوهری ویلی ( سدل ثوبه یسدله بالضم أی أرخاه ) یعنی دسدل معنی جامه هم دغه شان پریخودل او زوړنده ول دی په (پیښ سره دالغت د ے ) که چرته دالغت دسدل شریك شي اوپه دی ټولو معناګانو باندی عمل شی او ټولی مرادشی نو څه مانع نشته او دمشترك حمل کول په ټولو معناګانو باندی داقوی مذهب دے .

## ۳۲ـ دمخالفاتو نه دواړه لاسونه په مانځه کښی زوړند نیول

:لر مخکی د (سدل) حدیث تیر شو چه :

(( نهی عن السدل في الصلاة )) چه رسول الله صلی الله علیه وسلم دسدل نه په مانځه کښی منع کړی .

او داحدیث عام د ے ټولو اقسامو دسدل ته شامل د ے .

مخکی دحق او صحیح مسئلی نه چه ذکر ئي کړو ښه به دا وی چه دخلکو حالات ذکر کړو چه دوی په څه طریقه لاسونه ږدی .

* ځنی خلك با لکل دواړه لاسونه زوړند نسی ، او ځنی خلك ښی لاس په ګس لاس باندی دنامه نه ښکته او لاندی ږدی ، او یائي په نامه ږدی او ځنی خلك ئي په څټ ږدی ددینه په غیر مختلف شکلونه او حالات دی چه خلك ئي کوی .

چه کله دامعلومه شو ه چه مختلف حالات دی ، نو ثابت سنت د رسول الله صلی الله علیه وسلم نه پدی کښې داده چه رسول الله صلی الله علیه وسلم به ښئ لاس په چپ ( ګس ) لا س باندی د سینې دپاسه کیخوده .

* په صحیح مسلم کښې حدیث د ے چه رسول الله صلی الله علیه وسلم به ښی لا س په چپ ( ګس ) لاس کیخوده .

اوصحیح بخاری کښې دسهل ځوی دسعد رضی الله عنه نه روایت د ے دا وائي : (( چه خلکو ته به حکم کیده چه یو سړے خپل ښی لاس په چپه ( ګسه ) څنګل کیدی په مانځه کښې ))

* نو سنت دادی چه ښی لاس په چپ ( ګس ) لاس کیدی عکس به نه کوی ( چه چپ ( ګس ) لاس په ښی لاس ږدی )

احمد او ابوداود وغیرو نقل کړی چه رسول الله صلی الله علیه وسلم دیو سړی په خوا ورغے او هغه سړی ( ګس ) لاس په ښی لاس دپاسه ایخودلے وو نو رسو ل الله صلی الله علیه وسلم ئي لاس راویستلو او ښی لاس ئي ورله په ګس لاس کیخوده .

* ددې خبری نه روسته ددواړو لاسونو ځائی کوم پاتی شو په جسم او بد ن کښې ؟ جواب هم هغه د ے چه احمد ابو داود او ابن خزیمه کړ ے چه رسول الله صلی الله علیه وسلم به په سینه ایخودل .

## ۳۳- دمخالفاتو نه دښئ لاس ایخودل په چپ (ګس) لاس په نامه باندی او یاد نامه نه لاندی .

* او ددوی دلیل چه امام احمد او ابو داود دعلي رضی الله عنه یو قول نقل کړے چه سنت دادی چه یو ورغوی په بل ورغوی دنامه نه لاندی کیدی په مانځه کښی ددی سند ضعیف دے (او په ضعیف دلیل نشی نیولے دسره (بالکل دلیل ند ے) .

## ۳۴- ځنی دمخالفاتو نه چه دډیرو امامانو دا عادت

دے چه دمانځه په تکبیرونو کښی اواز بدلوی او تغیره وی چه کله کینی اویا پاڅیږی .

زیات امامان چه کله دتشهد دپاره کینی نو په سست او په قلاره اوازسره (الله اکبر) وائی او چه کله پاڅیږی بیا تکبیر په زوره او مضبوط ئي وائي ، ددی تپوس د شیخ محمد بن عثیمین رحمه الله نه شوی و .

نودسوال الفاظ اوو رسره جواب تاته نقل کو .

سوال کونکے وائي چه ایا په امام واجب دی چه (الله اکبر) اوږد کړی چه کله دتشهد اول او د دویم تشهد دپاره کینی ؟ .

نو هغه رحمه الله داسی جواب کړے : په امام دا واجب نه دی چه په تکبیرونو کښی فرق وکړی چه په مانځه کښی دکیناستلو دپاره یو قسم تکبیر وائي معین اود رکوع دپاره یو خاص تکبیر وائي او د ودریدلو دپاره به بل یومعین خاص تکبیر وائي دا خو

بیشکه نه دی واجب ، ماته یوکس داهل علمونه نه دے معلوم چه دائی واجب کړی وی .

لیکن ما ته داسی ووایه چه دا جائز دی اوکه نه په دی معنی چه امام ته او وائي چه په تکبیرونو کښی فرق کوه .

جواب داد ے چه دا نه دی جائز ماته دا نه دی معلوم په سنتوکښی چه رسول الله صلی الله علیه وسلم به په تکبیرونو کښی څه فرق کاو او نه علماو ویلی چه هغه به څه فرق کاو اخر ی خبره پدی کښی داده چه ځنو علماو ویلی دی چه ده به تکبیر اوږداوه په سجده کښی دودریدو دپاره اود ودریدونه دسجدی دپاره ذوی داویلی چه ددی دواړو په مینځ کښی به فاصله او وخت ډیرو ( یعنی داوږدی فاصلی دوجی نه ) .

* ځکه چه په مانځه کښی اوږد انتقال دسجدی نه چه کله ودریږی او یا دولاړی نه سجدی ته ځی .

دوی دا ویلی چه تکبیر به اوږده وی ددی دپاره چه ابتداء دده د اول انتقال سره شی او انتقال ئي داخری انتقال سره شی .

داخبره ځنی علماو کړی .

* اوهر چه دتشهد دکیناستلو دپاره یو خاص معین تکبیر اوږده ول داخو هیڅ عالم نه دی ویلی دکومه پوری چه ماته دهغوی دخبرو علم د ےنو بنا په د ے باند ے کومه چه زما رائی ده نو امام به ټول تکبیرونه یو شان برابر وائی ځکه چه کوم انسان په تکبیراتو کښی فرق کوی نو زرده چه دلیل تری طلب شی ، کله

چه دنبی صلی الله علیه وسلم دپاره ممبر جوړ شو نو هغه ممبر ته وه ختلو او و ی فرمایل چه دامی ځکه وکړه چه تاسو په ما پسی اقتداء وکړی او زما په مانځه باندی پوه شئ .

او که چرته ئي فرق په تکبیر اتو کښی کولی نو اتمام ا و اقتداء په غیر دممبر ختلو نه هم حاصلیده او کیدلی شوه نو بیا ممبر ختلو ته څه ضرورت وو؟.

اوما یوه قائده بیاموندہ چه کله په تکبیراتو کښی فرق نه کوی او هغه داده چه مقتدی په خپل مانځه باندی اهتمام کونکی وی او سوچ ئی وی ځکه دا په دی یره کښی وی چه هسی نه چه دکیناستو په ځائی پاڅیږی او دپاڅیدو په ځائی کینی نو دخلکو په مخ کښی به خجالت او وه شرمیږی .

اودارنګه رکعاتونه هم په خپله شماری او راګیره وی لیکن که چرته ئي دامام په تکبیر اعتماد او بروسه وکړی نو دا پریخودلے شو او ایله شو چه نور خیالات اوسوچونه به کوی او دمانځه به څه اهتمام نه کوی .

هم په دغه تکبیر دامام به روان وی کله چه امام تکبیر په زوره وائي کینی به اوچه کله ئي په قلاره وائی پاڅیږی به ، او داخو په دغه وخت کښی بیا دمقتدی دپاره دوسوسو او نوری مشغولتیا سبب ګرځی ځکه چه دابه دامام دتکبیر داوچتوالی اوکته والی داواز تابع وی چه تکبیر په زوره وائی او که غلئ ( ورو ئي ) وائي

* نو ماپدی کښی فائده بیامنده چه هر مقتدی به په خپل عدد

( شمار ) درکعاتونوکښې کوشش کونکے حارص وی او نوری وسوسی او خیالات به نه کوی . [ په دے ځائی دشیخ عثیمین رحمه الله خبره ختمه شوه ] .

## ۳۵- دمخالفاتو نه دویمه جمع کول دی چه امام اوله جمع نه وی خلاصه کړی او دویمه ودریږی .

* او ددی وضاحت دادی چه ځنی خلك کله جماعت ته راشی او امام په اخیره قعده کښې وی نو یو ددغی ننوتونکو خلکو نه ودریږی او اقامت وکړی او مونځ شروع کړی او امام لاتر اوسه په قعده کښې وی

## ۳۶- شیخ محمد بن عثیمین رحمه الله په خپله خبره

کښې داسی ویلی چه کله درسول الله صلی الله علیه وسلم دودریدو حال بیانه وی اودصحابو د ودریدو حال بیانه وی نو الفاظ ئی په دی ډول دی .

او ډیر خلك چه نن کوم څه کوی دا خلاف عمل دے ځکه چه تراویح ډیری په جلتی او زر زر ئي کوی کومه طمانیه او وخت تیرول چه په ارکانو کښې واجب دي او دا دارکانو دمانځه نه دی او په غیر ددغه مونځ هم نه صحیح کیږي نو پدی کښې خلل او نقصان کوی او دا رکن پوره نه ادا کوي کوم چه روسته ددوی نه ضعیفه کمزوری بیماران بوډاګان ولاړوی دوی سترړی کوی او په خپلو نفسونو ځانونو هم ظلم او زیاتے کوی او په نورو ئي هم کوی

* علماو دا خبره ذکر کړی چه دامام دپاره دومره تیزی او جلتی نه ده پکار چه دمقتدیانونه یو سنت پاتیږی او منع
کو ی تیری پاتی لاداچه یو واجب په دغه جلتی سره پاتی کیږی
( اودغه جلتی او تیزی دومره وی چه مقتدی دواجبو د اداکولو نه منع کوی ، نو دا خو په طریقه اولی ناجائزده ) دالله تعالی نه ئي د بچاو سوال کو .[ مجالس شهر رمضان المجلس الرابع ص ۱۹ ].

## ۳۷- هغه چه ځنی مقتدیان کوی چه کله دمانځه

دماسپخین ددریم او څلورم رکعت نه فارغیږی نو سورت فاتحه بیااعاده کوی اولولي ،اودډیرو داعقیده وی چه دماسپخین په روستو دواړورکعتونو کښی سورت ویل ناجائز دی .

## ۳۸- اودمخالفاتو نه داهم ده چه په مانځه کښی ځنی اذکار بی ځایه ځائی کښی وائي .

* ددغه مثال لکه ځنی مونځ کونکی سورت فاتحه روسته کوی چه کله په امام پسی ولاړوی او یا لږ مخکی درکوع نه دامام سره شریك شی او په رکوع کښی داخل شی نو امام رکوع کوی او دغه کس فاتحه لولی په رکوع کښی ( په رکوع کښی فاتحه لوستل نشته ) .

یو بل مثال چه ځنی مونځ کونکی چه دسجدی نه سر پورته کړی نو د سورت فاتحی په لوستلو شروع شی مخکی ددینه چه پوره نیغ ودریږی او یا نورځه ذکر کوی کوم چه درکوع کولونه روسته

ویلی شی چه کله سجدی ته ښکته کیږی په دغه وخت کښی هغه اذکار وائی چه کوم درکوع نه روسته په ولاړی ویلی پکاروی بلکی دغه دسجدی په مینځ کښی کله وائی بیا تکبیر روسته وائي .

داټول زمونږه درسول الله صلی الله علیه وسلم دسنتو نه خلاف کار د ے .

دمحترم شیخ عبدالعزیز بن باز رحمه الله نه ددی مسئلی تپوس وه شو چه الفاظ ئی په لاندی ډول دي

محترم شیخ ځنی خلك وینم مقتدیان چه لږ شان کینی چه کله دسجدی نه راپورته شی او دناستی په حالت کښی سورت فاتحه ( الحمدلله ) وائي ، اویا چه کله دویم رکعت ته پاځیږی په دی مینځ کښی سورت فاتحه شروع کړی نو ددی څه حکم د ے ؟

نو هغه داسی جواب ورکړے رحمه الله تعالی :

په مقتدی دا واجب دی چه دامام متابعت وکړی په ودریدو کښی او په رکوع کښی او په نور ددی دواړو نه وغیره احکامو کښی او دابه نه کینی داحق ورله نشته چه امام پاځیږی په دویم او یا څلورم رکعت کښی او داناست وی بلکی په دی باندی متابعت ضرور دے چه داحدیث درسول الله صلی الله علیه وسلم وربانددی دلالت کوی (( إنما جعل الإمام ليوءتم به فلا تختلفوا عليه )) .

ترجمه : ( امام ددی دپاره مقرر شوی چه په هغه پسی اتمام اواقتداء وشی نوپه هغه اختلاف ا و ګډوډوالی مه راولئ )

* لیکن که چرته دجلسه استراحت په نیت لږ غوندی کیناست نو څه پروا نشته او بلکی دا په صحیح قول دعلماو کښی مستحب ده او په دی جلسه کښی لوستل ، ذکر ، او څه دعا نشته نه دمقتدی او نه دبل چا دپاره چه څه قراء ت پکی وه لولی په فرض مانځه کښی ، اونه دپاڅیدو په وخت کښی څه وائي قراء ت به په داسی حال کښی وائی چه ولاړوی دا په فرض مانځه کښی او که نفل مونځ په ناست ئي کوی څه پروا نشته او په ناست ئی مونځ کول په غیر دڅه غذر شرعی نه ددی نیم اجر د ے دولاړی مانځه په نسبت باندی لکه څنګه چه د رسول الله صلی الله علیه وسلم سنت په دی دلالت کوی .

[ ددعوت دمجلی شمیره ۱۱۶۵ پتاریخ ۱۴۰۹/۳/۲۸ھ].

## ۳۹- په مانځه کښی بی ضرورته سترګی پټول .

* ابن قیم رحمه الله ویلی : ( درسول الله صلی الله علیه وسلم طریقه دانه وه چه په مانځه کښی به ئي سترګی پټولی او په تشهد کی به ئی اشاره په سترګی اوخپل نظر باندی هغه ګوتی ته کوله چه په کومه اشاره کوی او دهغی نه ئي بل خواته نظر نه اړولو ).

* فقهاو ئی په کراهت کښی اختلاف کړے امام احمد وغیرو سترګی پټول مکروه ګڼلی اوویلی دي : چه داد یهودو کار دے او یوی ډلی مباح کړی او مکروه ورته نه وائی او دوی دا ویلی

دي چه دا دعاجزی حصول ته ډیر نژدی دي چه دا دمانځه روح د ے او راز او مقصود د ے .

* او صحیح داده چه داسی وویل شی که دمانځه په خشوع کښی سترګو غړه ولو څه خلل او نقصان نه راوستلو نو غړه ولی غوره دي اوکه چرته ئي ددی او دخشوع په مینځ کښی څه خلل او نقصان راوستلو لکه دقبلې طرف ته څه نقشونه او خائسته شوی شیان وغیر ه و چه په زړه کښی تشویش وغیره و نو بیا سترګی پټول بالکل نه دی منع .

او که په دی حال کښی په استحباب قول وشی نو دابه دشریعت داصولو او قواعدو ته نژدی وی ددینه چه په کراهت قول او حکم وشی . ( والله اعلم )

[ په ډیر اختصار سره د زادالمعاد نه ۲۹۴/۲۹۳/۱ ]

## ۴۰- دجامو زوړنده ول ( اوښکته پریخودل ئي )

دامطلق حرام دي او دامو دلته ځکه ذکر کړه چه ځنی دلائلو مونځ خاص کړے د ے .

* دعبدالله ځوی دمسعود رضی الله عنه نه روایت د ے ذا وائی : ((چه رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلی دی : چا چه لنګك یا پرتوګك په مانځه کښی ښکته کړه داکس دالله تعالی نه په حل اونه په حرام کښی )) ( یعنی دالله تعالی په ذمه کښی نه د ے ) .

* دابو هریره رضی الله عنه نه روایت دے دا وائي چه په یو وخت کښی یو سړی مونځ کاو چه لنګك ( پرتوګك ) ئي دپړکونه ښکته

وو چه رسول الله صلى الله عليـه وسلم ورتـه وه فرمـايل (( إذهـب فتوضـأ )) لاړ شـه اودس وکړه هغـه لاړ اودس ئـي وه کړه بيـا راغـی بياورتـه رسول الله صلى الله عليـه وسلم وه فرمـايل لاړ شـه اودس وکړه هغه بيا لاړ اودس ئي وكړه بيا راغی نو دتـه يـو سړی وويـل يا رسول الله، څه چل و چـه تاورتـه داودس حکـم کولـواو بيـا تـری غلے شولے ؟ رسول الله صلى الله عليه وسلم وه فرمائل : (( إنه كـان يصلي وهو مسبل إزاره وإن الله جل ذكره لايقبل صلاة رجل مسبل إزاره ))

ترجمـه : ( ده مونـځ کـاو او پرتـوګ يـا لنـګ ئـي ښکتـه و او الله تعالى چه ډير لوی ذات دے چه دکوم سړی پرتـوګ لنـګ ښکتـه وی مونځ ئي نه قبلوی ) .

[ روايت ددی حديث ابـو داوړ کـړے امـام نـووی رحمـه الله پـه ريـاض الصالحين کښی وائي : چه سند ئي صحيح دے په شرط دمسلم دے ].

ځنو اهل علمو داحديث ضعيف کړے ليکن دد ی څه پروانـه شتـه مخکی حديث ئی شاهد شته دے ( او هغه صحيح دے ).

* مونړه ددی موضوع پـه حقلـه داسـی وايـو چـه ډيـرو خلکـو پـه مسئله د ( اسبال ) ( يعنی خپل لنګ پرتوګ )ته بـالکل خيـال نـه وی او تساهل او سترګی پټوی ( او غير دپرتوګ نه هم بلـه جامـه کښی اسبال او کوزرانبکل ئـي دسړو دپـاره منع دي چه پـه نـورو احاديث کښی ئي ذکر شتـه ) .

* او ډير سخت وعيد او يره دعذاب راغلی په احاديثو کـښی پـه دی مسئله کښی يو دهغی نه حديث دمسلم دے دهغه چا په بـاره

کښني چه خپلي جامي کوزي راکاږي چه په خپل صحيح کښني نقل کړي : (( عن أبی ذر رضي الله تعالی عنه قال : قال رسول الله صلی الله عليه وسلم : (( ثلاثة لا يكلمهم الله يوم القيامة ولا ينظر إليهم ولا يزكيهم ولهم عذاب أليم : المسبل إزاره والمنان الذي لايعطي شيئا إلا منة والمنفق سلعته بالحلف الفاجر – وفي لفظ أخر : بالحلف الكاذب )) .

ترجمه : ( دابو ذر رضی الله عنه ه روايت د ے دا وائي چه رسول الله صلی الله عليه وسلم فرمايلی : دری قسمه خلك دی چه الله تعالی به ورسره په ورځ دقيامت خبری نه کوی او نه به ورته او ګوری اونه به ئي پاك کړی او ددوی دپاره دردناك عذاب د ے : يو هغه چه خپل ازار پرتوګ ( پينځي ) لنګ وغيره کوز راکاږی او بل هغه کس چه زباتونکی وی هغه کس چه څه شی نه ورکوی مګر ددی دپاره چه په خلکو احسان واړه وی او بيا ئي ورته ياده وی او زباتي ورباندی بل هغه کس چه خپل سامان ( مبيعه ) په ناروا قسمونو خرڅه وی ( او مشهوره وی او رائج کوی ) او په يو بل لفظ کښني داسی دی چه په دروغژنو قسمونو ئی خرڅه وی ( يعنی په دروغو قسم خوری ) ( دروغ وائي او سره ددينه بيا قسم هم وکړی ورسره نو دوه چنده ګناه شی ) .

* وعن عبدالله بن عمر رضي الله عنهما قال : قال رسول الله صلى الله عليه وسلم : (( من جر إزاره لايريد بذلك إلا المخيلة فإن الله لا ينظر إليه يوم القيامة )) [ رواه مسلم ]

ترجمه : ( دعبدالله ځوی دعمر رضی الله عنهما نه روايت د ے دا وائی چه رسول الله صلی الله عليه وسلم فرمايلی : (( چا چه خپل

پینځي کوزی راښکلی او بله اراده په دغه باندی نه وه مګر تکبر و نو الله تعالی به ورته په ورځ دقیامت وه نه ګوري )) . [ دا روایت دمسلم د ے]

## ۴۱- اوځنی دمخالفاتو نه داهم ده چه دمانځه دپاره اقامت وشی او خلك نفل کوی .

عن أبي هريرة رضي الله عنه قال : قال رسو ل الله صلى الله عليه وسلم : (( إذا أقيمت الصلاة فلا تصلوا إلا المكتوبة )) .[ داحدیث دبخاری نه په غیر ټولو روایت کړی دمسلم سره ].

ترجمه : ( دابو هریره رضی الله عنه نه روایت د ے داوائي چه رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلی : چه کله دمانځه دپاره اقامت وشی او جمع ودریږی نو دفرض مانځه نه په غیر بل مونځ نه کیږی .

* دعبدالله ځوی دبحینه رضی الله عنه نه روایت د ے دا وائي چه رسول الله صلی الله علیه وسلم یو سړ ے وه لیده چه دوه رکعته ئي کول او اقامت شوی و دمانځه دپاره چه کله رسو ل الله صلی الله علیه وسلم راوه ګرځیده خلك ورته راټول شو او رسو ل الله صلی الله علیه وسلم ورته داسی وه فرمایل :

(( أا لصبح أربعا أألصبح أربعا )) .

[ داحدیث بخاری او مسلم روایت کړ ے]

ترجمه : ایا دسهار مونځ څلور رکعته د ے ایا دسهار مونځ څلور رکعته د ے .

او مسلم په یو بل لفظ نقل کړے چه نبی صلی الله علیه وسلم دیو سړی په خوا باندی ورغی چه مونځ ئي کاو او دسهار دمانځه دپاره اقامت شوی و نو څه خبره ئی ورته وکړه په څه شی مونږه پوه نه شو چه څه ئي ورته وویل چه کله مونږه سلام وه ګرځاو نو مونږه ورباندی راتاول شو مونږه ورته وویل چه تاته رسول الله صلی الله علیه وسلم څه وویل ؟ هغه وویل چه ماته ئی داسی وویل : (( یوشك أحدكم أن يصلي الصبح أربعا )) .

ترجمه : ( نژدی او قریبه ده چه یوکس په تاسو کښی دسهار مونځ څلور رکعته کوی .

( یعنی ددینه فرض څلور مراد دی نور هسی دسنتو سره خو څلور د ے لیکن چه فرض مونځ ولاړوی او اقامت وشی نو ر به نه کوی اګرکه دسهار سنت ولی نه وی لکه څنګه چه په دی احادیثو کښی ذکردے ) .

ابن حزم رحمه الله تعالی داسی وائي : چاچه تکبیر اقامت دسهار دمانځه واوریده او د ے پوهیده چه که دا دوه رکعته سنت مونځ کوم او په دی دوه رکعته دسهار مشغول شم نو دسهار مونځ تری قضاء کیږی اګرکه تکبیر تحریمه وی نو ده لره نه دی جائز چه په دغه دو رکعتو سنتو مشغول شی او که داسی وکړه نو دالله تعالی نافرماني ئي وکړه .

دعلماو دائمی لجنی ته ( کومه چه دعلماو کمیټه اوډله ده ) په دی مسئله کښی یو سوال راغلے چه په لاندی ډول دے :

## ځنی خلك چه کله دفرض مانځه دپاره تکبیر ( اقامت ) وشی نو نفل مونځ پریدی ایا دا جائز دے ؟

*لجنی داسی جواب ورکړه چه مطلب ئی داد ے : ( چه کله دمانځه دپاره اقامت وشي نو په نفلو کنبی داخلیدل نه دی جائز دوجی دعموم ددے قول درسول الله صلی الله علیه وسلم نه (( إذا أقيمت الصلاة فلا صلاة إلا المكتوبة )) .[ داحديث مسلم وغيره نقل کړے]

ترجمه : ( چه کله دمانځه دپاره اقامت وشی نو دفرض مانځه په غیر بل مونځ نه د ے جائز ) .

نو چه کله دمانځه دپاره اقامت وشی او دا نفل کوی ددغه مذکور حدیث په وجه به ئي قطع کوی او نفل به پریدی ځکه ددغه نه فرض اهم دي .

## ۴۲- دمخالفاتو نه ددویم رکعت ډیر اوږ دول داول

رکعت نه او یا دروستنو دواړو رکعتونو اوږدول زیات دمخکنیو دواړو نه .

او داد رسول الله صلی الله علیه وسلم دفعل نه او عمل نه خلاف کار د ے ، امام بخاری رحمه الله دابی قتاده رضی الله عنه نه روایت نقل کړے چه نبی صلی الله علیه وسلم به اول رکعت

اوږدکولو دماسپخين په مانځه کښې او دويم رکعت به ئې لنډولو اوهم دغه کار به ئي دسهار په مانځه کښې کولو .

* او رسول الله صلى الله عليه وسلم دا په مانځه کښې هم دغه شان کول لکه څنګه چه امام بخاری رحمه الله نقل کړی .

* دجابر بن سمره رضي الله عنه روايت دے چه سعد بن ابی وقاص رضی الله عنه ويلی : ده په خپله قصه کښې دکوفې والو سره : هر چه زه وم قسم په الله تعالى چه ما به دوی له درسول الله صلى الله عليه وسلم په طريقه مونځ کاو او ما به دهغه نه څه نه کمول ما به دماخوستن مونځ کولو نو په اولو دو رکعاتونو کښې به مې وخت تيراو ( يعنې اوږده ول به مې ) او روستي دوه رکعاتونه به مې لنډاو مختصر کول ...) الحديث.

## ۴۳- په مانځه کښې په اشاره دسلام جواب نه

ورکول داسې ډير پيښيږی چه څوك جماعت ته راځی او په مونځ کونکی باندې سلام وکړی نو داخو معلومه ده چه په لفظ او خولې به جواب نه ورکوی او حال او عمل دا تقاضاکوی چه په اشاره باندې جواب ورکړی لکه څنګه چه عبدالله ځوی دعمر رضی الله عنهما ويلی : (( ما بلال رضی الله عنه ته اويل چه رسول الله صلى الله عليه وسلم به انصارو ته څنګه جواب ورکاو چه کله به هغویورباندې سلام وکړه - بلال داسې اشاره وکړه چه رسول الله صلى الله عليه وسلم ورغوی خورکړه ( يعنې چه په ښيځ لاس به يې په ورغوی اشاره وکړه او لاس به ئي نه اوچتولو ).

* امام صنعاني ويلی چه داحديث دليل ددی د ے چه کله يو کس په مونځ کونکی سلام وکړی نو په اشاره به جواب ورکوی او خبری به نه کوی .

* او داشاری چه کومه طريقه ده نو په مسند کښی حديث دصهيب د ے دا وائي : چه زه درسول الله صلی الله عليه وسلم په خوا لاړم او سلام می ورباندی وکړه او دا په مانځه ولاړ و نو ماته ئي په اشاره جواب راکړه .

راوی وائي : ماته پته نشته مګر دګوتی په اشاره او ابن عمر په حديث کښی چه کومه طريقه دجواب درسول الله صلی الله عليه وسلم ده په انصارو باندی چه کله جواب به ئي کاو چه رسول الله صلی الله عليه وسلم ، اشاره وکړه داسی چه جعفر بن عون لاس خور کړه راوی دابن عمر ، نه نقل کوی چه لاس ئي خور کړه چه د لاس باطن ( خيټه ) ئی ښکته کړه او دلاس شائي پورته کړه او بيهقی يو روايت نقل کړ ے چه عبدالله بن مسعود رضی الله عنه په رسول الله صلی الله عليه وسلم باندی سلام وکړه نو په سر ئي اشاره وکړه .[1]

[1] - سنن کبری دبيهقی ۲ / ۲۶۰ .

## ۴۴- دارنګه بی ضرورته دامام نه روسته اواز رسول :

* دشیخ الاسلام ابن تیمیه رحمه الله تعالی نه تپوس وشو چه ایا دامام نه روسته اواز رسول مسحب دي اوکه بدعت ؟

نو هغه رحمه الله تعالی داسی جواب ورکړے : په اتفاق دامامانو سره په غیر دضرورت نه رسول داواز بدعت دی مستحب نه دی امام به په تکبیر باندی جهر کوی لکه څنګه چه رسو ل الله صلی الله علیه وسلم او دهغه خلفاو راشدینو کول او یو کس هم دهغوی نه روسته تکبیر نه وایه لیکن کله چه رسول الله صلی‌الله علیه وسلم بیمار ( مریض ) شو نو اواز ئي کمزورے او ضعیف شو نو ابو بکر الصدیق رضی الله عنه به دهغه اواز رساو .

په یو بل ځائی کښی هغه رحمه الله ویلی چه تکبیر ویل دامام نه روسته په زوره سره بی ضرورته نه دی جائز په اتفاق د امامانو او ټولو علماو .

ځکه چه بلال به د رسول الله صلی الله علیه وسلم نه روسته تکبیر نه وایه نه ده او نه نورو کسانو او نه به دخلفاو راشدینو په وخت کښی چا تکبیر رسولو .

## ۴۵- دتکبیر لفظ اوږده ول (( الله اکبار )) دا مطلقا

ناجائز د ے نه په اذان کښی اونه په مانځه کښی اونه په غیر

ددغونه . ځکه چه کله د ( اکبر ) لفظ اوږد کړي نو معنی بدله وی .

نو ( اکبار ) جمع دکبر ده او کبر ( طبل ) یومخه شی ته وائي چه ( چمبه یا داریال ( طمبل ) ورته وائي ) ځنی خلك ئي په واده وغیره مناسباتو کښی وهی .

او دارنګه کلمه د ( اکبر ) چه اوږده ئي کړی دویم فساد وربانـدی مرتب کیږی هغه دا دے چه مقتدی دامام نه مخکی کیږی ځکه چه امام کله داسی اواز اوږد کړی نو دمقتدی دمخکی والی سبب ګرځی او په اوږدوالی کښی دمقتدی دا فکر وی چه کوم رکن ته امام ځی نو هغه کیدلے شی رسیدلے وي ( او دا واقعا دګناه مستحق کیږی هسی نه چه سر ئي دخره شی ) .

## ۴۶ -چه یوسړی مونځ کوی او دځټ په دواړو طرفونو ئي څه شی نه وي .

اودابه ډیرخلك په احرام کښی وینی چه په حرم کښی اویاغیر دحرم به یوکس مونځ کوی او ولي به ئی ښکاره کړی وی او یابه ئی احرام مخی ته ایخودلے وی اوپه لنګ کښی په غیر دبل شی نه به پکی مونځ کوی .

* عن أبي هريرة رضى الله عنه قال : قال النبي صلى الله عليه وسلم : (( لا يصلي أحدكم في الثوب الواحد ليس على عاتقه شيئ ))

ترجمه : ( دابو هریره رضی الله عنه نـه روایت دے دا وائي چه رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلی چه مونځ دی یو کس

ستاسونه په يوه جامه کښې نه کوی چه په اوږو او څټ ئي څه نه وی ) [ بخاري روايت کړے ] .

حافظ ابن حجر وائی : چه مراد ددينه دادی چه نه تړی په مينځ او دواړه طرفونه دجامی په بډه کښی مضبوط کړی بلکی په غاړه ئی واړه وی او هسی پريدی داځکه مضبوطوالئ پکار وی چه دبرطرف دبدن هم څه ستر او پټوالے حاصل شی اګر که دا څه عورت هم نه دے او يا ددی وجی نه چه دا ډير محکم دی په پټوالي دعورت کښی . (خلاصه شوه خبره ئي)

## ۴۷- دارنګه دمخالفاتونه : چه په نری جامو کښی مونځ

کوی هغه چه عورت ورباندی نه پټيږی ( عورت دسره نه پټوی ).

دشيخ عبدالعزيز بن باز رحمه الله نه تپوس وشو چه کومه دنری تار نری جامی وی نو عورت ورباندی پټيږی او ايامونځ ورباندی کيږی صحيح دے چه يو مسلمان ئی اغوندی .

نوهغه رحمه الله داسی جواب ورکړے : چه کله ذکر شوی جامه بدن اوبشره نه پټوی ددی وجی نه چه نری نرمه وی نو مونځ پکی نه دے صحيح سړی دپاره مګر که لاندی پرتوګ يا لنګ وهلی وی او دنامه نه تر زنګنو نو پوری وی ( بياخو کيږی ) اوهر چه ښځه ده نو ددی پشان جامه کښی بالکل مونځ نه کيږی مګر که لاندی نوری جامی اغوستلی وی چه ټول بدن او جسم ئی پټوی اوکوم لنډ پرتوګ چه ددغو جامو لاندی يواځی وی دانه دے کافی .

او دسړی دپاره دامناسب دی چه کله ددغه جامی پشان جامه کښبی مونځ کوی نو لاندی به ئی جانګی وی او جاکټ یایو بل شی چه دواړه اوږی ورله پټوی یا یو پټ وی ددی حدیث دوجی نه چه رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلی د ے: (( لا يصل أحدكم في الثوب الواحد ليس على عاتقه شئ ))

ترجمه : ( یو کس ستاسونه دی په یوه جامه کښبی مونځ نه کوی چه په څټ ئی څه شے نه وی )

[دبخاری اومسلم دواړو حدیث د ے په صحت ئي اتفاق کړ ے] ( دکتاب الدعوات نه ) .

* محترم شیخ عبدالله بن جبرین حفظه الله داسی ویلی : ډیر خلك اوږدی جامی نه اغوندی یو پکی پرتوګ واغوندی او دپاسه تری چپن یا ( کمیص ) وی په سینه نو چه کله رکوع کوی چپنه تری بیرته شی ( واوړی یو طرف او بل طرف ته ) نو پرتوګ ئي ښکاره شی نو یائی دکوناتی څه حصه ښکاره شی او یائي څه حصه دشا ه ښکاري دهغه ځائی نه چه هغه عورت وی داسی چه روسته خلك ئي وینی او چه څنی عورت ئی ښکاره شی نو مونځ ئي باطليږي .

## ۴۸۔ دمخالفاتونه په مانځه کښې لاړې توکل دمونځ کونکی مخې قبلې ته اویا ښىٔ طرف ته.

امام بخاری رحمه الله ویلی : ( باب لیبزق عن یساره او تحت قدمه الیسری ) یعنی باب ایخودلے ددے دپاره چه مونځ کونکی به چپ (ګس ) طرف ته او یا دچپ (ګس ) قدم دلاندی لاړی توکي .

او دانس بن مالك رضي الله عنه په روایت سره ئی حدیث نقل کړے چه انس رضي الله عنه وائي چه رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلی (( إن المؤمن إذاكان في الصلاة فإنما يناجي ربه فلا يبزقن بين يديه و لا عن يمينه ولكن عن يساره أوتحت قدمه ))

ترجمه : مومن یقینا چه کله په مانځه کښې وی نو درب سره جرګه کوی نو مخې طرف ته او ښىٔ طرف ته دی لاړی نه توکی لیکن ګس طرف ته دی توکی او یاخودی دګس قدم نه لاندی توکي .

امام بخاری یو بل حدیث روایت هم دابو هریره رضی الله عنه په روایت نقل کړے چه دا د رسول الله صلی الله علیه وسلم نه نقل کوی چه هغه فرمائی : (( چه کله یو کس ستاسونه مانځه ته پاڅیږی نو مخی طرف ته دی لاړی نه توکی ځکه تر څوپوری چه داپه مانځه کښې وی نو داد الله تعالی سره جرګه کوی او ښی طرف ته دی هم نه توکی ځکه ښی طرف ته فرشته ملا ئکه وی نو چپ (ګس ) طرف ته دی توکی او یادی دقدم نه لاندے کړی نو دفن دی کړی

( يعنـي خـښـي دي كـړي خـاوري وغـيره څه شـي دي وربـاندي واچوي او يادي په څه شي پاكي كړي چه ختمي شي )) .

## ۴۹- اودارنګه دمخالفاتو نه په مانځه كښي جامې او ويخته راټولول .

* امام بخاري رحمه الله دعبدالله بن عباس په روايت باندي درسول الله صلى الله عليه وسلم حديث نقل كړے چه رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايلي :

(( أمرت أن أسجد على سبعة لا أكف شعرا و لا ثوبا ))

ترجمه :( ماته حكم شوى چه په اوه ( اندامونو ) سجده وكړم او جامى اوويخته نه راټولومه .

* ابن الاثير په نهايه كښي په ماده د ( كفت ) كښي داسې ويلي ( چه ځني ددينه حديث د ے ) (( نهينا أن نكفت الثياب في الصلاة )) ( مونږه ددينه منع شوي يو چه په مانځه كښي جامې راټولې كړو ) يعني چه ديو بل سره ئى ضم يو ځائى كړو او جمعه كړو دخوره ولونه يعني مقصد ترى په ركوع او سجده كښي په دواړو لاسونو باندى جامې راټولول دي .

## ۵۰- داهم دمخالفاتو نه ده چه په مانځه كښي په تشى لاس ايخودلي وى : دابوهريره رضي الله عنه نه روايت د ے دا وائي چه منع شوى ده چه يو سړى مونځ وكړى او لاس ئى په تشى ايخودلى وى .

دالفظ دبخاری د ے او په لفظ دمسلم کښې دابوهريره رضي الله عنه نه روايت د ے چه داد رسول الله صلی الله عليه وسلم نه نقل کوی (( چه رسول الله صلی الله عليه وسلم منع کړی ددينه چه يو سړے مونځ کوی او لاسونه ئي په تشو باندی ايخودلی وی
( يعنی يا ئی يولاس او يا ئی دواړه لاسونه په تشو ايخودلی وی او په مانځه ولاړ وی ) .

ابن حجر رحمه الله ويلی چه کوم لفظ د ( اختصار ) چه په حديث کښې د ے دابن ابی شيبه په روايت کښې دابن سيرين نه ئی نقل کړے چه لاس په تشی کيدی او بيا مونځ کوی او په دی خبره ابو داود هم يقين کړ ے او دائي مشهور تفسير د ے .

## ۵۱- اودمخالفاتو نه ستره مخی ته نه ايخودل ( چه په غير دستری نه مونځ کوی ) (*)

اويقينا چه په دی کښې ډير زيات احاديث راغلی چه لږ تری نقل کو اودلته ئي راوړو هرچه قولی احاديث دی عبدالله بن عمر رضي الله عنهما وائي چه رسول الله صلی الله عليه وسلم فرمايلی : (( لا تصلوا إلا إلى سترة ولا تدع أحدا يمربين يديك فإن أبى فليقاتله فإن معه القرين ))

---

(*) دستری بحث زيات دکتاب اتحاف الأخرة بتأكد الصلاة إلى السترة اودارنګه د ( كتاب أحكام السترة في مكة او غير ددی نه دارنګه حکم چه څوك دمونځ کونکی مخی ته ځی او تيريږی .

ترجمه : ( مونځ مه کوئ مګر ستری ته ئي کوئ او هيڅوك مخی ته مه پريدی چه مخی ته مو لاړ شی که انکار ئي وکړه نو جنګ ورسره وکړی ځکه دده سره ملګرےوی .
( يعنی شيطان ورسره وی او داديکه کوی ) [ داحديث ابن خزيمه حاکم بيهقی نقل کړے ] .
حاکم ويلی چه حديث صحيح دے او دمسلم په شرط دے اومسلم نقل کړے اوپه دی خبره ورسره ذهبی هم موافقه کړی .( [1] )

* دسهل ابن ابی حيثمه رضي الله عنه روايت دے چه رسول الله صلی الله عليه وسلم فرمايلی : (( إذاصلی أحدكم فليصل إلی سترة وليدن منها لايقطع الشيطان صلاته ))
ترجمه : ( چه کله ستاسونه يو کس مونځ کوی نو ستری ته دے وکړی اوورته دی نژدی شی نو شيطان ئی مونځ نه ماتوی )
[ داحديث ابن خزيمه او ابن حبان او حاکم نقل کړے اوويلی ئي دی حاکم چه صحيح دے دمسلم او بخاری په شرط دے اودی دواړو بخاری او مسلم نه دے نقل کړے ذهبی ورسره هم موافقه کړی او بغوی په شرح السنه کښی په لفظ دمقارب سره نقل کړے ]( [2] )

---

( [1] ) ( شيخ عبدالله بن جبرين حفظه الله تعالی ويلی چه داحديث مسلم روايت کړے احمد اوابن ماجه هم په دی سند په غير داولنی نه روايت کړے .
( [2] ) شيخ ابن جبرين حفظه الله وائي ليکن داحديث په سننو او مسانيدو کښی شته په دی لفظ باندی : (( إذاصلی أحدكم إلی سترة فليدن منها )) .

داخو ځنې قولې نصوص او دلائل و هر چه فعلې دی نو هغه دادي :

* عن عبدالله بن عمر رضي الله عنهما : (( أن رسول الله صلى الله عليه وسلم كان إذاخرج يوم العيد أمر بالحربة فتوضع بين يديه فيصلي إليها والناس وراء ه وكان يفعل ذلك في السفر فمن ثم اتخذها الأمراء ))

ترجمه : ( دعبدالله بن عمر رضی الله عنهما نه روايت د ے چه کله به رسول صلی الله عليه وسلم داختر په ورځ ووتلو نوپه نيزی سره به ئی حکم وکړه نو مخی ته به ئی ودره وله شوه نو هغی ته به ئي مونځ کاو او خلك به تری شاه ته و ، او داکار به ئي په سفرکښی هم کاو نو ددغی وجی نه به اميرانو هم دځان دپاره جوړه وله .

[ داحديث بخاری مسلم ابو داود وغيرو روايت کړ ے]

* دعبدالله بن عمر رضی الله عنهمانه روايت د ے دادرسول الله صلی الله عليه وسلم عمل نقل کوی چه رسول الله صلی الله عليه وسلم به خپله سورلۍ مخی ته پريستله او بيا به ئي ورته مونځ کاو .

( يعنی دهغی طرف ته به ئی کاو ) [ داحديث بخاری مسلم ابو داود روايت کړ ے].

* دستری دمسائلو دراوړلونه روسته څه مسائل مخی ته راځی چه دهغی ذکر کول ضروری دی .

## *اوله مسئله :چه دستری لوړوالے څومره د ے ؟

* **جواب داد ے** : چه امام مسلم په خپل صحیح مسلم کښې دام المومنین عائشې صدیقې نه نقل کړے دا وائي چه درسول الله صلی الله علیه وسلم نه په غزوه تبوك کښې دمونځ کونکې دسترې تپوس وشو ؟ نو رسول الله صلی الله علیه وسلم ورته وه فرمایل : (( كمؤخرة الرحل )) هغه اخری طرف دمورې چه کومه باندې سړے ناست وی دهغه په مقدار به ستره لوړه وی .

* دطلحه ځوی دعبیدالله رضی الله عنه روایت د ے داوائي چه رسول الله صلی‌الله علیه وسلم فرمایلی : (( إذاوضع أحدكم بين يديه مثل مؤخرة الرحل فليصل ولا يبال من مر وراء ذلك )) .
ترجمه : چه کله یو کس ستاسو نه خپلې مخې ته په اندازے او مقدار دسورلې داخرې طرف مورې (وغیره چه په اوښ یااس پرته وی ) دهغې داخرې حصې په مقدار ایخودلې وی نو مونځ دې کوی او هیڅ پروا نشته که دهغې نه شاه ته څوك تیریږی .
[ داحدیث مسلم روایت کړے ]

* امام نووی رحمه الله وائي : ( مؤخرة الرحل ) داهغه لرګے د ے چه په اخر طرف دزین وغیره کښې وی او دا په اندازه دځنګلې دهډوکې وی چه دا دوه حصې په ګز کښې جوړیږی ( یعنې دشرعې ګز دوه حصې چه ثلثین ورته وائي ) ( ګزبه درې حصې

کړی یوه به تری لری کړی او هغه دوه چه پاتی شی دهغی په مقدار ، یو روایت کښی ولویشت هم راغلی ) .

* **دویمه مسئاله** : دمونځ کونکی او دستری په مینځ کښی دمسافی مقدار څومره پکاردے ؟

امام بخاری رحمه الله په خپل صحیح بخاری کښی دعبدالله بن عمر رضی الله عنهما نه روایت کړے چه هغه به کله کعبی ته ننوتلو نو مخامخ به لاړو چه کله به داخل شه او دروازه به ئی شاه ته پریخودله نو تللو به تر دی چه ددی او مخی ته ددیوال په مینځ کښی به ددری ګزو په اندازه ځائی و نو مونځ به ئی وکړه دهغه ځائی قصد به ئي وکړه کوم چه بلال خبر کړےو چه نبی صلی الله علیه وسلم په هم دغه ځائی کښی مونځ کړے .

شاهد پکی داد ےچه دده او دستری په مینځ کښی به دری ګزه ځائی و .

* اوداهم راغلی چه مقدار اواندازه دستری او دسجدی په ځائی کښی څومر ه پکاروی ، دسهل بن سعد نه روایت د ےدا وائي چه درسو ل الله صلی الله علیه وسلم دمانځه دځائی او ددیوال په مینځ کښی به دیوه ګډی دتیریدولو ځائی و .

* اوپه بل روایت کښی داسی دی چه درسول الله صلی الله علیه وسلم دودریدلو دځائی نه اودقبلی تر مینځ به دبزی دتیریدلو په مقدار ځائی و .

* **څلورمه مسئله** :ایاحرمین (( مکه او مدینه )) دستری نه مستثنی دی اوکه دا هم پکی داخل دی ؟

* **جواب** ددی مسئلې دادې چه کوم دلائل دستری په حقله راغلی او امر ئی کړې نو ددینه مستثنی څه نشته او څه فرق دیوجماعت دبل نه نه د ې کړې.

بناپه د ې دلائلو دواړه حرمه پکی داخل دی داتری نشی وتلې مګر په دلیل سره .

داخوپه طریقی داجمال او اختصار سره خبره وه اوکومه چه په طریقی دتفصیل سره ده نو هغه داده چه ویلې کیږی :

**اول** : ټول جماعتونه په غیر داستثناء نه په عموم دنصوصو کښی داخل دي اودلائل ټولو ته شامل دي

**دویم** : په کومو احادیثو کښی چه امر په ستره شوی ټول یاځنی رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلی او هغه په مدینه کښی و (نو مسجدنبوی پکی داخل شو ) .

**دریم** : دنبی کریم صلی الله علیه وسلم عمل دا تائیده وی چه ستره به ودره وی په حرمینو کښی هم .

هرچه حرم مدنی د ې نو مخکې ورته اشاره وه شوه .

اوهر چه حرم مکی د ې نو ده ابی جحیفه رضی الله عنه نه روایت د ې دا وائي چه رسول الله په غرمه کښی وختی لاړه او په بطحاء

کښې دماسپخين او مازيګر دوه دوه رکعته مونځ وکړه او مخې ته نيزه يا ( سمبه ) ودره ولې وه .

[داحديث بخاری نقل کړے او په دی باب تړی باب السترة بمكة] ( يعنې په مکه کښې ستره ودره ول هم پکار ده )

وعن عبدالله بن أبـي أوفـى رضـي الله عنـه قـال : (( اعتمـر رسـول الله صلى الله عليه وسلم فطاف بالبيت وصلى خلف المقام ركعتين ومعه من يستره من الناس ))

ترجمـه : دعبدالله ځوی دابی اوفـی نـه روايـت د ے داوائـی چـه رسول الله صلی الله عليـه وسلم عمره وکړه او دبيـت الله نـه ئـی طواف وکړه او دمقام ابراهيم شاه تـه ئي دوه رکعتـه مونـځ وکـړه اودده سـره هغـه څوك و چـه دخلکـو نـه ئـي پنـاه کـاو ) ( يعنـی دستری قائم مقام و ) [ داحديث بخاری روايت کړے ] .

## ۵۲- دمخالفاتو نه داهم ده چه دمونځ کونکی مخی ته تيريږی .

امام منذری رحمه الله په الترغيب والترهيب کښې داسی ويلـی : الترهيب من المرور بين يدي المصلي.

يره ول دمونځ کونکی مخی ته د تيريدونه .

بيائي څنی احاديث راوړی چه هغه کښې دمونځ کونکی مخی ته دتيريدو نه منع راغلی او ګناه پکی ذکر کړی .

* دابی الجهيم رضی الله عنه روايت د ے داوائی چه رسول الله صلی الله عليه وسلم فرمايلی :(( لويعلم المار بين يدي المصلـي مـا ذاعليه لكان أن يقف أربعين خيراله من أن يمر بين يديه )) .

ترجمه : ( که چرته ديو مونځ کونکی مخی ته تيريدونکی په دی باندی پوهيدلی چه څومره ګناه ده په دی باندی نو خامخااورله بهتره وه چه ودريدلے وے څلويښت ددی نه چه د هغه مخی ته لاړ شی او تيرشی .

ابوالنضرچه دحديث په راويانو کښې يو راوی د ے دا وائي چه زه په دي نه پوهيږم چه څلويښت ورځی

و يلی او که مياشتی ويلی اوکه کلونه ويلي ؟

* امـام بخـاری رحمـه الله پـه خپـل صحيـح کـښې دابـی صـالح السـمان نـه روايت نقل کړے دا وائي : چـه مـا ابوسـعيدالخدري دجمعی په ورځ وليده چه ستری تـه ئي مونـځ کـاو چـه دخلکو نـه ورباندی ځان وه ساتی او بچ شی تری ، نو دابی معيط داولاد نـه يـو ځوان غوښتـل چه دده په مخ کښې لاړ شی نو ابو سعيد پـه سينه کښې ووهلو نـو بـل څه لار وغـيره ئي پيدا نکړه غير ددي دمخی نه نـو واپـس شـه چـه بيـا لاړ شـی دده مخـی تـه نـو ابـو سعيددمخکی ځل نـه ډير سـخت ووهلو او دفعـه ئي کړه نـو داد ابو سعيد نـه خفـه شـه او ودريـده خوګ شـه ، مـروان تـه ورغـے او شکايت ئي ورته وکړه دابو سعيدنه چه څه ئي ورسره کړی و نـو روسته ورپسی ابو سعيد ورغے دمروان خواله : نوهغه ورته وو يل څه چل د ے ستااو ستاددی وراره په مينځ کښې ای

اباسعيده ؟ ده ورته وويل دنبي صلى الله عليه وسلم نه مې اوريدلي دي چه هغه داسي ويل : (( چه کله يو کس ستاسو نه يو شي ته مونځ کوي چه دخلکونه وربانديځان بچ او خلاص کړی ( يعني ستری ته ) او يو کس غوښتل چه مخې ته ئې لاړ شي نو دغه دي دفع کړي اومنع دي کړی که انکار ئې وکړه اونه دفع کيده نو بيا دي ورسره جنګ وکړی ځکه داشيطان د ے )) .

داول حديث پحقله امام نووی ويلی چه په د ے کښي دليل د ے چه تلل دمونځ کونکی مخې ته حرام دي ځکه دحديث په معنی کښي سخت تاکيدی وعيداو نهی ده چه په مخکی به ئې نه ځي.

ابن حجر رحمه الله تعالى وائي ددغی تقاضا داده چه کبائرو غټوګناهونو نه شمارشي .

اوبيا ئی ويلی دي چه ظاهر حديث ئې مطلق منع دتللو نه دمونځ کونکی په مخ کښي کوی اګر که دتللو بله کومه لاره بيانه مومي بلکی ولاړ به وی ترهغه پوری چه مونځ خلاص کړی او ددی تائيد دابو سعيد رضی الله عنه قصه کوی ( کومه چه مخکی تيره شوي ) .

* شيخ ابن باز رحمه الله هم ويلی چه دحديث ظاهر دحراموالي او منع تقاضا کوی چه په مخکی يو کس لاړ شي ( يعنی دمونځ کونکی په مخکی به نه ځی ) .

او ده لره جائز دی چه تلونکی واپس کړی .

اللهم ، مګر که تلونکی دیته محتاج شی چه بله څه لاره بیانه مومي مګردده مخی ته او چه کله تلونکی لری وی دمونځ کونکی دمخی نه او مخی ته ئي ستره نه وی نو بیا دګناه نه خلاص دے او ګناه ګارنه دے ځکه چه کله لری وي ددغه نه عرفا نوبیاورته تیری دونکے نه وائی چه داد مونځ کونکی په مخ کښی لاړ داسی شو چه دستری نه شاه ته لاړه .

خبره ئی ختمه شوه .

* کله چه یو سړی په غیر دستری نه مونځ کوی نو څه ګناه نشته چه یو کس دری ګزه ځائی اندازه کړی او بیا دهغه نه هغی خواته لاړشی لکه ډیرو اهل علمو په دی خبره کړی اوهغه کس ګناه ګار دے چه ددری ګزه په مسافه کښی دمونځ کونکی مخی ته تیریږی .

* هرچه دمقتدی مخی ته څوك ځی نوګناه پکی نشته ځکه دامام ستره دادهغه چاهم ده چه کوم دامام نه روسته ولاړوی .

امام بخاری رحمه الله تعالی په دی باب تړلے او بیا ویلی : (( باب سترة الإمام سترة من خلفه )) چه ستره دامام ستره دروستنو دپاره هم ده او بیاییي عبدالله بن عباس رضی الله عنهما ته سند رسولے چه دا وائی چه زه په خره باندی سور وم چه راغلم او زه په دغه وخت کښی بلوغ او ځواني ته نژدی شوے وم او رسول الله صلی الله علیه وسلم خلکوله په منی کښی مونځ کاو په غیر دڅه دیوال نه نو زه دبعض صف په مخکی لاړم راکوز شوم او خره می

پریخوده چه څریدله او په صف کښی ننوتم نو هیڅچا په ما څه بدوه نه ویل او نه ئي څه بدوګڼل .

## ۵۳- دارنګه دمخالفاتو نه په مانځه کښی خوځیدل او حرکت کول .

که چرته یو انسان داو غواړی چه دخلکو په حرکاتو پسی ورپسی شی او دابنائی چه په مانځه کښی څومره حرکت کوی نو ډیر وخت ورباندی لړیږی په دغه باندی : لیکن داڅه منع نه ده چه د باب دتنبیه او خبرداری نه څه دغه او څه نور ذکر کړو ، نوځنی ددغه نه :

۱- په پوزه کښی ګوتی وهل دایو قبیحه او ناکاره صفت دے دمانځه نه بهر نو په مانځه کښی به څنګه ښه شی .

۲- دسرګره ول .

۳- دپټکي ،رومیال ( شماغ ) ټوپی وغیر ه په سر باندی برابرول او کله ښیٔ طرف ته او کله چپ طرف ته اوکله ئي ښکته کول اوکله ئي پورته کول وغیر ه داسی نور په دغه باندی ځان مشغوله ول .

دشیخ ابن باز رحمه الله نه تپوس شوی چه هغه داسی دے : زما مشکل دادے چه زه په مانځه کښی ډیر خوزیږم او حرکات کوم او مایو حدیث اوریدلے چه معنی ئی داده چه څوك ددری حرکاتو نه ډیر کړی مونځ ئي فاسدیږی نو ددی حدیث صحت څنګه دے

او ددغه حرکاتو نه او په مانځه کښې دعبثونه دخلاصې څه طریقه ده .

نوهغه داسې جواب ورکړے :

دمومن دپاره سنت دادي چه په زړه سره خپل مانځه ته متوجه شي او مانځه ته راوه ګرځي او په مانځه کښې په زړه او په بدن دواړو سره عاجزي وکړي هغه که نفل مونځ وي او که فرض مونځ وي دالله تعالی ددی قول په وجه : (( قدأفلح المؤمنون * الذين هم في صلاتهم خاشعون )) [ دسورت المومنون دغه دوه اياتونه ۱-۲ ]

ترجمه : ( په تحقیق کامیاب دی مومنان هغه کسان چه دوی په مونځونو کښې عاجزی کونکی ئي .

په دی لازم دی چه په مانځه کښې مطمئن وی او دادمهمو ارکانو او فرائضونه دی .

* اوهر چه دحرکاتو تحدید دی چه کوم دمانځه داطمنان اوعاجزی سره منافی دے په دری حرکاتو سره نودا دنبی صلی الله علیه وسلم حدیث نه دے او دبعضوعلماو خبره ده اوپه دی څه اعتماد نشی کیدلے اونه څه دلیل د ے .

لیکن په مانځه کښې عبث کار کول لکه پوزه خوځول ګوتی پکی وهل دارنګه په ږیره کښې اویاپه جامو لاس وهل او په دغه ځان مشغولول او چه کله داعبث کارونه په مانځه کښې ډیر شی اوپرلپسی وی نو مونځ باطلوی .

لیکن که دغه حرکات یاعبث کار کم وی او یاډیروی خو پرله پسی متصل نه وی نو مونځ وربـاندی نه باطلیږی لیکن دمسلمان دپاره داپکارده چه په خپل مانځه کښی عاجزی وکړی او همیشوالی په دغه وکړی او دعبثونه ځان وه ساتی او لږ او ډیری ټول پری دی .
دحرص دوجی نه په پوره والي اوکمال دمانځه باندی
[ دامختصر خبره وه ].
## ۵۴- اوځنی دمخالفاتو نه چه ډیر بیماران( مریضان )
پکی واقع دي : چه په ناستی مونځ کوی سره دقدرت او طاقت نه په ولاړی باندی او په دی کښی مریضان په اقسامو دی ځنی هغه دی چه په سرئي درد وی نو داهم داول نه تراخری پوری په ناسته مونځ کوی سره ددینه چه په ولاړی ورته څه تکلیف نه رسیږی .
اوځنی هغه دی چه په سترګه ئي درد وی او یائي په پوزه درد وی چه طبیب ډاکټر منع کړےوی چه سجده به نه کوی ځکه مرض ئي زیاتیږی .
نودغه مریض ( بیمار ) به ته وینی چه ټول مونځ به په ناستی کوی د ډاکټر دخبری نه روسته .
بناپه دی چه دا او یا داسی نور ددری واړو امامانو په نزد چه څوك ودریدلے شی او درکوع او سجدی نه عاجزوی نو ددی نه ودریدل نه ساقطیږی مونځ به په ولاړی کوی او رکوع به په اشاره

کوي او بیا به کینی او سجده به په اشاره کوی داځکه چه دمانځه دارکانو نه ودریدل رکن دےاو دا په دی قادر دے چه ودریږی نو وربandی لازم شو اوچه کله دبعضی ارکانو نه عاجز شی او نیشی کولے نو دا ددی تقاضانه کوی چه ټول تری نه ساقط شی اونه به ئي کوی ( یعنی چه کوم کولے شی هغه به کوی او چه کوم نشی کولے نو هغه به په هغه طریقه کوی چه کومه ورته اسانه وی ) .

اوداځکه چه ودریدل دمانځه دارکانو نه دی الله تعالی فرمائي :
(( وقوموا لله قانتين )) [ سورة بقره ايت : ۲۳۸ ] .
ترجمه : ( او ودریږه خاص الله ته عاجزی کونکی او چپ ) ،
عمران ځوی دحصین رضی الله عنه وائي چه په ماباندی بواسیر بیماری وه نو ماد نبی صلی الله علیه وسلم نه تپوس وکړه نو هغه راته داسی وه فرمایل : (( صل قائما فإن لم تستطع فقاعدا فإن لم تستطع فعلى جنب )) ترجمه : په ولاړی مونځ کوه که په ولاړی نه شی کولے نو بیائي په ناستی کوه اوکه په ناستی نه شی کولے بیائي په یوطرف ( یعنی یو اړخ او جانب ) کوه .[ داحدیث امام بخاری روایت کړے ]

## ۵۵۔ اودمخالفاتو نه داهم ده چه کله قاری وی خوچه ورکوټے وی نه ئي مخکی کوي .

ډیرخلك به داسی بیامومی چه دمانځه وخت شی او امام ئي نه وی راغلے او یادښارنه بهر وی او دمانځه وخت شی نو قاری ته نه

ګوری بلکې بې تپوسه یو مشر مخکې کوی چه کلونه ئې ډیروی اګر که دلته ښه قاری موجود وی او دغه بوډا یامشر سورت فاتحه الحمد هم ښه نه شي ویلے المهم ورکوتی نه مخکی کوی چه کله لوی او مشر موجودوی ځکه ځنی خلك دا کمے ګڼی دده په حق کښې او یا دنورو مقتدیانو په حق کښې .

ددوی داکار دصریحه سنت درسول الله صلی الله علیه وسلم نه خلاف د ے ، رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمائي : (( إذاکانوا ثلاثة فلیؤم أحدهم وأحقهم بالإمامة أقرؤهم )) .

ترجمه : ( چه کله دری کسان وي نو یو کس دی ورله امامتی وکړی ( اومخکی دی شی ) اوکوم چه په دوی کښې ډیرحقدار دی دامامتی نو هغه ښه قاری د دوی د ے ( یعنی قران کریم ښه وائي اوډیری هم حفظ کړ ے وی او پوهیږی هم ) .

[داحدیث احمد مسلم نسائي نقل کړ ے دابو سعیدخدري رضی الله عنه په روایت باندی ] [ د ( أقرأ) ځنو فقیه او ځنو أحفظ اغستلی ].

* وعن أبي مسعود عقبة بن عامر رضي الله عنه قال : قال رسول الله صلى الله عليه وسلم : (( يؤم القوم أقرؤهم لكتاب الله فإن كانوا في القراءة سواء فأعلمهم بالسنة فإن كانوا في السنة سواء فأقدمهم هجرة ... الحديث )) .[ رواه احمد ومسلم ]

ترجمه : دابی مسعود عقبه ځوی دعامر رضی الله عنه نه روایت د ے دا وائي چه رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلی دی :

( چه امامتی دقوم به ښه قاری ددوی نه کوی چه کوم دالله په کتاب پوهیږی که قراء ت کښی یو شان و نو بیاچه چا هجرت مخکی کړے وی .
[ دا اوږد حدیث دے احمد او مسلم روایت کړے ]
دا دواړه حدیثونه چه صریحه دلالت په دی کوی چه قاری ډیر حقدار دے دامامت او کوم چه په زیات تاکید دلالت کوي چه قاری به مخکی وی دبوډا او دبل مشرنه نودحدیث په لفظ کښی ورسره داشته
دے چه (( فإن كانوا في الهجرة سواء فأقدمهم سنا ))
ترجمه : که په هجرت کښی یو شان و نو بیا به مشر مخکی کیږی چه دچا کلونه ډیرو نو مرتبه دمشري داځلورمه مرتبه ده دقراء ت او علم بالسنه اومخکی والی دهجرت نه .
د دائمی لجنی په جواب کښی داسی راغلی : ( چه امامت دیو ماشوم صحیح کیږی ددی قول دنبی صلی الله علیه وسلم نه معلومیږی ( يؤم القوم أقرؤهم لكتاب الله ...)) الحد یث یعنی څوك چه دقران کریم ښه قاری او پوه وی هغه به دقوم امامتی کوي .
په صحیح بخاری کښی دعمروبن سلمه الجرمي نه روایت دے دا وائي چه کله دمانځه وخت شی نو تاسو له دی هغه څوك امامت کوی چه قران کریم ئی زیات زده کړےوي . داوائی چه دوی وه کتل نو زما نه په غیر ئي بل هیڅوك داسی پیدا نه کړه

چه دهغه قران کریم زمانه زیات زده و نو زه ئي مخکی کړم مونځ ته په دغه وخت کښی زه دشپږو او یا وه کلونو وم .([1])

## ۵۶- دارنګه دمخالفاتو نه : بهتره اوغوره جامی مانځه ته نه اغوستل .

داکار ډیر مسلمانان په ناپوهی سره کوی او یائي ځان په زوره په ناپوهی کښی اچولے وی چه مانځه ته راځی او خاص طور دسهار مانځه ته دخوب په جامو کښی راځي او یا هغه جامی وي چه هغه ډیری خرابی او بدبویه وی که یو سړی له ددغی په مقدار سره زر ور کوی چه دایو کار له او یا د واده ځائی ته ( یابلی دخادئي او خوشحالی ) ځائی ته پکی لاړشه نو انکار او سخته منع به وکړی او مانځه ته راتګ پکی بدنه ګنی .

ځکه الله تعالی خائسته دے او جمیل دے نو ښائست او جمال ئی خوښه وی او جماعت ته دتللو په وخت کښی چه مونځ کوی پاکی او خائست دهر مسلمان نه مطلوب دی الله تعالی فرمائی :

(( یابني أدم خذوا زینتکم عند کل مسجد )) [سورة الأعراف ایت : ۳۱]

ترجمه : ای دادم ځامنو واخلی تاسی خپل خائست په هر جماعت کښی ( یعنی پاکی جامی هر مانځه ته اوغوندی ) طحاوی بیهقی طبراني دعبدالله بن عمر رضي الله عنهما نه حدیث نقل کړے چه دا وائي چه رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلی : (( چه کله یو کس ستاسو نه مونځ کوي نو دوه جامی دی واغوندی

[1] مجلة البحوث : ۲۱/ ۷۴ .

ځکه الله تعالی ډیر حقدار دے دهغه چانه چه ته ورته ځان ښائسته کوی )) .

**۵۷- دمخالفاتونه دارنګه : ځنی خلك** داګناه ګنی چه کله ددی اودحمام ( لیټرین ) په مینځ کښی دیوال وی اوهغه طرف ته مونځ وکړی .

* دلته دشیخ ابن باز رحمه الله فتوی نقله و چه ددی ځائی سره ئي تعلق دے .

* سوال کونکے داسی وائي :ایاپه هغه ځائی کښی مونځ کول جائز دی چه مخی ته ئي حمام وی او په مینځ کښی دیوال وی فقط اوکه نه بل ځائی کښی کول غوره دی ؟

* نوهغه محترم په دی الفاظو جواب ورکړه ( چه ترجمه ئي داسی ده : هیڅ مانع نشته په دغه ذکر شوی ځائی کښی چه کله ځائی پاك وی اګر که مخی ته ئی حمام وی .

لکه څنګه چه دحمامونو سر باندی مونځ جائز دے خو چه پاك وی دغه په صحیح قول دعلماو کښی دي والله ولي التوفیق .

[ مجلة الدعوة شماره ، ۱۱۹۱په ۱۳/۱۰/۱٤۰۹ ه ]

**۵۸- دارنګه دمخالفاتونه : ځنی خلك** دمانځه داقامت او تکبیر په وخت کښی ( أقامها الله وأدامهاالله ) وائی :اودلیل ئي په دغه باندی دابوداود دا حدیث دی چه په خپل سنن کښی نقل کړے دابی امامه په روایت باندی چه هغه دځنی اصحابو درسول

الله صلى الله عليه وسلم نه نقل کړے چه بلال رضى الله عنه کله دمانځه دپاره اقامت کاو نو چه کله ئي
( قد قامت الصلاة ) ووايه نو نبى صلى الله عليه وسلم : ( أقامـها الله وأدامها) ووايه .

ترجمه : ( يعنى الله تعالى دى مونځ قائم او دائم او هميشه کړی ) داحديث ضعيف دے اعتماد ورباندی نشی کيدلے .

## ۵۹- دارنګه دمخالفـاتو نـه : ځنى خلك مـانځه تـه نه پاڅيږی تر څوچه اقامت کونکی

( قدقامت الصلاة ) نه وی ويلے اودا ئي عقيـده وی چـه داکـار سنت دے ، حق داده چه داکار ئي صحيح نه دے .

* امام مالك رحمه الله ويلى خلك چه کله داقامت په وخت کښى پاڅيږی نو ددغه دپاره ماخه حدنه دے اوريدلے چه قائم شـی ورلـه زما نظر دادے چه دادخلکو دطاقت په اندازه خبره ده ځکـه ځنـى خلك درانه وی او ځنى سپك وی ددوی خو داطاقت نشته چه ټول ديو سړی پشان شی . [ موطاء ص ۶۷ ]

## ۶۰- دمخالفاتونه داهم ده : چه پـه تخفيف او لنډوالى

دمانځه نه پوهيږی کوم چه مراد دے او په دى حديث کښى راغلے رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمـايي : (( إذاصلـى أحدكـم للنـاس فليخفف فإن فيهم الضعيف والسقيم والكبير ... ))

ترجمه : چه کله يو کس ستاسو نه خلکو له مونځ کوی نو لنډ او سپك دی کړی ځکه په دوی کښې کمزورے ضعيف او بيمار اوبوډاوی .
[ داحديث دابی هريره رضی الله عنه په روايت بخاری او مسلم نقل کړے ].
دارنګه رسو ل الله صلی الله عليه وسلم معاذبن جبل ملامته کړه چه کله ئي مونځ اوږد کړے و نو داسی ئي ورته اوفرمايل (( فتان فتان ، فتان )) دری کرت ئی ورته تکرار کړه او يائي ورته داسی وويل : (( فاتنا ، فاتنا ، فاتنا )) يعنی خلك په فتنه کښې اچوی اوتکليف ورکوی او د اوساطو مفصلو نه ئي ورته په دوو سورتو امر وکړه چه داپه مانځه کښې وايه .
* په دی دواړو احاديثو باندی ډير خلك دليل نيسی چه کله امام مونځ اوږد کړی مخکی ددينه چه دوی په دی دليل نيسی داکتل پکار دي چه دمانځه دلنډوالي او تخفيف اندازه او مقدار څومره دے .
* امام ابن قيم رحمه الله په خپله خبره کښې داسی ويلی چه کله د رسول الله صلی الله عليه وسلم دمانځه طريقه ذکرکوی .
په بخاری او مسلم کښې دانس رضی الله عنه نه داسی نقل دي چه رسول الله صلی الله عليه وسلم به مونځ لنډاوه او پوره کامل به ئي کاو .
اودارنګه په بخاری مسلم کښې يو بل روايت هم ددينه نقل دے داوائي چه ما ديو امام نه روسته داسی مونځ نه دے کړے مګر

درسول الله صلی الله علیـه وسلم مونـځ تـری ډیـر لنـډ او خفیـف و امام بخاری ورسره داهـم ذکرکړی (( وإن كـان يسمع بكـاء الصبـي فيخفف مخافة أن تفتن أمه ))

ترجمه : اوکه چرته خامخادماشوم ژړابه یي واوریده نو مونـځ بـه ئي لنډکړه ددی وجی نه چه یره به ورسره وه چه موربه ئي په فتنه اوتکلیف کښی وه غورزیږی.

نو رسول الله صلی الله علیه وسلم دمانځه صفت داسـی بیـان کړه چه لنډو خوپوره او کامله و او لنډخو به رسول الله صلی الله علیه وسلم کاو لیکن هغه لنډ والی نه و چه څوك ورباندی ګمان کـوی ځکه درسو ل الله صلی الله علیه وسلم دمانځه اندازه ورته نـه وی معلومـه ، ځکـه دا لنډوالے یو نسبی کـار د ے دد ے نسبت سـنت طریقی ته راجع د ے نه چه دامام او هغه چا خواهش تـه چه ددینه روسته ولاړوی ( یعنی مونـځ دچا دخواهـش تـابع نـه د ے بلکـی دسنت تابع د ے).

اوبیـادانس رضـی الله عنـه حدیث راوړ ے او پـه دی کـښی داذکـر کړي چه مادهیڅ یو سړی نه روسته داسـی مونـځ نـه د ے کـړ ے چه هغه دی درسول الله صلی الله علیـه وسـلم دمـانځه نـه لنډاو پـوره وی او رسول الله صلی الله علیه وسلم به کله سمع الله لمـن حمـده وویل نو وه به دریده تر دی پوری چه مونږه بـه وویـل چـه هیر شو اوڅه وهم ورته وشو بیابه ئي تکبیر وکـړه او سجده بـه ئی وکـړه

اوبیا به ددوسجدو په مینځ کښې کیناست چه مونږه به اوويل چه څه وهم ورته وشو هیرئی شو ( یعنی ډیر وخت به ئي تیر کړه ) .
ابن قیم رحمه الله وائي چه دا دانس حدیث دے چه درسول الله صلی الله علیه وسلم دمانځه ذکر په صحیح حدیث کښې وکړه او دهغه دمانځه طریقه ئي په پوره والی اولنډوالی سره بیان کړه اوپه دی کښې ئي دابیان کړه چه ددغه مانځه پوره والے ئي اواتمام ئي په اوږدوالي ددغه دو اعتدالینو سره ذکر کړه ( چه رکوع نه پورته شی اوبل ددو سجدو په مینځ کښې ) حتی چه یو کس به داګمان وکړه چه هیرئي شو او یاتری پاتی شو څه وهم ورته وه شه دااوږدوالی په وجه ، نو په دی حدیث کښې یئ دواړه کاره جمع کړه اودائي وویل چه مالنډاو پوره مونځ درسول الله صلی الله علیه وسلم نه په غیر دبل چا نه دے لیدلے نو داددی سره مشابه شو چه لنډوالے ئي په ودریدلو کښې شو او پوره والے په رکوع او سجده کښې شو اودارنګه په قومه او جلسه کښې ( درکوع روسته او دسجدی نه روسته )ځکه ودریدل قیام دمانځه دانه وی مګر پوره وي نو توصیف اوبیان یی په پوره والی سره نه کیږی په خلاف درکوع او سجدی اوددی دواړه نه روسته ( یعنی قومه او جلسه چه ورته وائي ) اوپه دغه کښې راز داد ےچه ودریدل لنډ او لږوی او رکوع او سجده او دارنګه ددی دواړه نه پورته کیدوکښې وخت ډیروی او اوږده ئي کړی نو مونځ پوره کیږی او تام وی داعتدال او نژدی والی په وجه دارکانو په

مینځ کښې نو داخبره ئي رشتیاده چه (( مارأيت أوجز ولا أتم من صلاة رسول الله صلى الله عليه وسلم )) ( ترجمه ئي مخکې تېره شوی ) .

نوداهغه شے دے چه رسول الله صلى الله عليه وسلم وربانده په خپل مانځه کښې اعتماد کاو ځکه ده به یو شان کول او برابر به ئی کول کوم چه درکوع او سجدې او دقیام ودریدو او اعتدال دمانځه و ) الخ دابن قیم رحمه الله خبره ختمه شوه .

دابن قیم خبره په انتهایي تحقیق کښې ده ځکه ډیر مونځونه نن ورځ درسو ل الله صلى الله عليه وسلم دمانځه او طریقې نه خلاف دي ډیر خلك به وینې که قیام ئی صحیح وی نو په رکوع او سجده کښې ټونګې وهي او ځنې ددینه هم ډیر شری او ناکاره وی چه په قیام رکوع او سجده ټولو کښې ټونګې وهي .

* اوکومه چه تاکیدی خبره ده هغه داده چه تخفیف او لنډوالے داسې نه دے لکه ځنګه چه ځنې خلك نن ورځو کښې کوي .

انس رضی الله عنه وائي چه رسول الله صلى الله عليه وسلم به مونږه ته په تخفیف او لنډوالی امر کاو او مونږه له به ئي امامتې او مونځ په سورت الصافات کاو .

* هیڅ شك شبه په دې کښې نشته چه رسول الله صلى الله عليه وسلم ډیر زیات درحم اومهربانی واله دے په خپل امت باندې دنورمخلوق نه (( بالمؤمنين رءوف رحيم )) ترجمه : ( په مومنانو باندې مهربانه نرم او درحم واله دے ) سره ددینه دهغه عمل او

وينا ته اوګوره ته به دابيامومي ضروري چه تخفيف او لنډوالی داسی نه دے لکه څنګه چه تر ی نن ورځ خلکو کوم فهم او پوه اغستلی او پوه شوی ، ( يعنی خلکو دغه فهم خطادے چه دومره زر زر مونځ کوی چه دقومی او جلسی پته په کښی نه لږی ، ياډير زيات مختصر قراء ت کوی .

## ۶۱- ځنی مخالفات چه په ښځو پوری متعلق دی :

هغه داچه ځنی ښځی دومره مونځ تاخيره وی او ناوخته کوی چه فرض مونځ ترهغه پوری نه کوی تر څو چه سږو مونځ نه وی کړے او که چرته يو ی پکی مخکی دسږو نه وکړه نو دا خطاشوه ، ( يعنی په خپل وخت پکاردے که سږو مونځ کړےوی او که نه ) .

## ۶۲- دارنګه ورغوی او لاس خوځول او حرکت ورکول

دسلام ګرځولو په وخت کښی چه کله ښئ طرف ته سلام ګرځوی نو ښئ طرف ته حرکت ورکوي او چه کله ګس ( چپ ) طرف ته ئی ګرځوی نو ګس ( چپ ) طرف ته حرکت ورکوی اوددی په منع کښی صريح او ښکاره دليل راغلے .

* درسو ل الله صلی الله عليه وسلم ملګرو صحابو رضی‌الله عنهم چه کله به ئی سلام ګرځولو نو په

لاسونو به ئي اشاری کولی نو رسول الله صلی الله عليه وسلم وه ليده نو داسی ئي ورته وه فرمايل :

(( ماشأنكم تشيرون بأيديكم كأنها أذناب خيل شمس ، إذاسلم أحدكم فليلتفت إلى صاحبه ولا يؤمي بيده ))

ترجمه : څه چل دے په تاسو باندے چه په لاسونو داسی اشاری کوی لکه دتريدلو اسونو دلکو پشان !! چه يوکس په تاسو کښی سلام ګرځوی نو خپل ملګری ته دی وه ګوری او په لاس دی اشاره نه کوی . [ داحديث مسلم نقل کړے]

معنی دشمس چه جمع دشموس ده هغه ځاروی ته وائی چه هغه تريدلے وی او يو ځائی نه ودريږی او ځان له وی ( ابن الاثير په نهايه کښی هم دغه معنی کړی ) .

## ۶۳ـ سرخوځول دسلام ګرځيدو په وخت کښی : په

ځنو مونځ کونکو دا ملاحظه ده چه هغوی کله سلام ګرځوی نو سر اوچت کړی اوبيائی ښکته کړی او دغه شان وی چه ترڅودسلام ګرځيدونه فارغ شی او داکار درسول الله صلی الله عليه وسلم دعمل نه خلاف دے چه هغه به کله سلام ګرځاو نو داسی نه دی کړی .

* ابوداود ترمذی نسائي داسی روايت نقل کړی چه رسول الله صلی الله عليه وسلم به کله سلام ګرځاو نو اول به ئي ښئ طرف ته وه ګرځاو او داسی به ئي ويل (( السلام عليکم ورحمة الله )) تردی پوری چه دښی طرف سپينوالے دمخ به ئی وه ليدل شو ، او ګس طرف ته به هم داسی ويل (( السلام عليکم ورحمة الله )) تردی چه سپينوالے دمخ به ئی ګس طرف ته وه ليدل شو نو دسر خوځيدل ئی پکی نه دی ذکر کړی نو پته وه لږيده چه دغه کار دسنت نه خلاف دے

(سرخوځول وغیره پکې نشته).

**۶۴- دارنګه دمخالفاتونه:** دفرض مانځه نه روسته لاس پورته کول.

* دشیخ عبدالعزیز بن باز رحمه الله نه تپوس شوی چه دفرض مانځه نه روسته لاس پورته کول شته که نه ؟

نوهغه داسې جواب ورکړے : داصحیح ثابت نه ده چه دفرض مانځه نه روسته رسول الله صلی الله علیه وسلم لاس پورته کړی وي او نه دصحابه کرامو رضی الله عنهم نه ثابت ده ترڅو پورې چه مونږه ته ددې علم دے او هغه چه ځنې خلك دفرض مانځه نه روسته لاس پورته کوی ( یعنې دعاکوی ) نو دابدعت دے او څه اصل ئي نشته ځکه نبی صلی الله علیه وسلم فرمایئ : (( من عمل عملا لیس علیه أمرنا فهورد ))

ترجمه : چاچه یو عمل وکړه او په هغه باندی زمونږه حکم نه و نو دا رد دے.

[ داحدیث امام مسلم په خپل صحیح کښې نقل کړے ]

اودارنګه بل حدیث دے چه رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمائي : من أحدث في أمرنا هذا ما لیس منه فهو رد ))

ترجمه : چاچه زمونږه په دی دین کښې نوے عمل وکړه هغه چه ددین نه نه و نو هغه رد دے ) [متفق علیه حدیث دے]

**۶۵ـ ځنې دمخالفاتو نه مصافحه کول دمونځ کونکو چه** کله سلام وګرځوی دمانځه نه او داویل چه ( تقبل الله اوحرما ) .

* دشیخ الاسلام ابن تیمیه رحمه الله نه تپوس وشو چه دمانځه نه روسته مصافحه او لاسونه ورکول یو بل ته سنت دی او که نه ؟

* نو هغه رحمه الله داسی جواب ورکړے .

* الحمد لله ، لاسونه یو بل ته دمانځه نه روسته ورکول چه مصافحه ورته وائي دا بدعت دے او سنت نه دے والله اعلم .

[الفتاوی ۲۳۹/۲۳ ]

* **دائمی لجنی ته په دی حقله داسی** سوال راغلے چه الفاظ ئي دادی : دد ے څه حکم دےچه دهر فرض مانځه نه روسته همیشه سلام او مصافحه یو کس دامام سره کوی او دهغه کسانو سره چه ښیۍ او ګس طرفونو ته يي وی ؟

* نو لجنی داسی جواب ورکړے :

چه په امام همیشه سلام کول او مصافحه لاس ورکول او مونځ کونکی داپه ځان لازم کړی چه ښی او ګس طرف کسانو سره هم دغه عمل کول دهر مانځه نه روسته ( یعنی دپنځه واړو مونځونو نه روسته دا بدعت دے ځکه دانه رسول الله صلی الله علیه وسلم نه ثابت د ی او نه دخلفاء راشیدینو نه ثابت دی او نه دنورو صحابه کرامونه او که ثابت و ے نو مونږ ته به نقل شوی و ے ځکه چه هر ورځ پنځه کرته دامونځ تکراریږی او داځه په مسلمانانو پټه نه ده عام خلکی وینی او دنبی صلی الله علیه

وسلم نه دا ثابت دی چه فرمايلی ئي دی : (( مـن أحـدث فـي أمرنـا هذا ما ليس منه فهو رد )) [۱] ترجمه : ( چاچـه نـوے کـار زمونړه پـه دين کښی وکړه هغه چه ددين نه نه و نوهغه رد دے )
( يعنی چه څوك پـه ديـن کـښی دځانـه څه جوړکړی نـو اجر پکـی نشته او بدعت دے اودسنت خلاف دے ).
* محترم شيخ عبدالله بن عبدالرحمن بن جبرين حفظه الله داسی ويلی : دفـرض مـانځه نـه روستـه چـه سلام وه ګرځوی ډير مونـځ کونکی يو بل ته لاس ورکـوی او مصافحـه کـوی چـه څوك ورسره په خواکښی ناست وی او داسی ورسره هم وائي ( تقبل الله ) او ( حراما) دابدعت دے دسلفونه ئي څه نقل او ثبوت نشتـه ( اهـ ) .

# ۶۶- پـه ګوتـو بـاندی تسـبيحات نـه ويـل او تسـبيح استعمالول ( عوام چه ورته تسفی وائي )

عبدالعزيز بن باز رحمه الله ديو سوال په جواب کښی داسی ويلی کله چه داسوال دتسبيح په باره کښی شوی وو:
* پريخـودل ئـي غـوره دي او ځنی علمـاو مکـروه ګڼلـی او غـوره داده چه په ګوتو باندی ووائي لکه څنګه چـه رسول الله صلی الله عليـه وسلم بـه کـول او درســو ل الله صلـی الله عليـه وسـلم نـه دا روايت هم شوی چه تسبيح ( سـبحان الله ) او تـهليل ( لا الـه الا الله ) ويل داپه ګوتو ويل پکارئي اوپه دی امرکړےاو فرمايلی دي : (( چه دابه خبری کوی او تپوس تری کيدلے شي )) .

---

[۱] مجلة البحوث الإسلامية ۱۹/ ۱۵۰ .

[ داحدیث ابوداود نقل کړے ]

* یواځې دښئ لاس په ګوتو اکتفاء کول بهتره دي او افضل کار دے ددوحدیثونو په وجه :

* اول حدیث داد ے چه نبی صلی الله علیه وسلم به تسبیحات په ښئ لاس ویل ( یعنی دښئ لاس ګوتی به ئي شمیرلي ) .

[ داحدیث ابوداود نقل کړے ]

* دویم حدیث : (( چه رسو ل الله صلی الله علیه وسلم به ( ښئ والے ( التیامن ) په هرشی کښی خوښولو تر ځوپوری چه ئی طاقت و په پاکوالي کښی او په پیزار پښپوکولو کښی او سرګیره ګمنځولو کښی بلکی په خپلو ټولو کارونو کښی )) .

[ داحدیث بخاری او مسلم نقل کړے ]

* دشیخ ابن بازرحمه الله نه دیو امام په باره کښی تپوس وشو چه دجماعت امام د ےاو یواځی په ښی لاس تسبیح وائي او ځنو مونځ کونکو دا ناشنا ګڼلی .

* نو محترم شیخ داسی جواب ورکړے : کوم څه چه امام کړی داصحیح کار د ے دنبی صلی الله علیه وسلم نه ثابت دی چه هغه به دښئ لاس دګوتی په شمیر تسبیح ویلی او چاچه په دواړو لاسونو وه شمیرلی نوڅه پروانه کوی ځکه چه غالبه احادیث مطلق ذکر شوي ، لیکن تسبیحات په ښئ لاس ویل دابهتره او غوره عمل د ےاوپه سنت عمل د ے چه رسول الله صلی الله علیه وسلم نه هم دغه ثابت دی . والله ولي التوفیق .

# ۶۷- اودارنګه دمخالفاتونه نظرمشغوله کول

( اواسمان ته پورته کتل ) :

* قال صلى الله عليه وسلم :(( لينتهين أقـوام يرفعـون أبصـارهم إلـى السماء في الصلاة أو لاترجع إليهم
أبصارهم ))

ترجمه : رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلی :

( چه خامخا دپورته کتلو نه دی خلك منع شی چه په مانځه کښی پورتـه ګوری او کـه نـه الله تعـالی بـه تـری نظـر واخلی اوواپـس بـه ورتـه نشـي ) . ( يعنـی ړوندبـه ئـي کـړی ) .[داحديـث مسـلم احمـد ابوداود ابن ماجه دجابر بن سمره اوانس رضی الله عنهما نه روايت کړے ]

اوپه دی باندی ابن خزيمه باب تړلے چه ويلی ئي دی
( باب التغليظ في النظر إلى السماء في الصلاة ) .

( يعنی په مانځه کښی اسمان ته کتل نارواکار دے اوخلاف سنت دی ) کله چه دغه دلائل ذکر شو نو معلومه داشوه چه سنت داده چه مونځ کونکی دی دسجدی ځائی ته ګوری .

حـاکم پـه مسـتدرك کښی دعـائشـی صديقی رضـی الله عنــها پـه روايت حديث نقل کړے چه دا وائي چه کله رسو ل الله صلی الله عليه وسلم کعبی ته داخل شو نو دسجدی دځائی نه ئي بل خواته نظرنه دے اړولے ترهغه پوری چه تری ووتلو .

[ حـاکم وائـي چه صحيح دےاو پـه شرط دشـيخينو دےاو پـه دی ورسـره ذهبی هم موافقه کړی ] .

امام احمد او ابن خزيمه او بيهقي په حسن سندسره دعبدالله بن زبير رضي الله عنه نه نقل كړى چه نبى صلى الله عليه وسلم به كله تشهد په حال كښې و نو ګس لاس به ئي په ګس ورانه (پتون) كيخوده او ښئ لاس به يئ په ښى ورانه كيخوده او په مسواكى ګوته به ئي اشاره كوله اونظربه ئي داشارى نه بل خوانه اړه ولو (يعنى په كومه ګوته چه به ئي اشاره كوله هم هغى ته به ئي كتل) دادواړه حديثونه په دى دلالت كوى چه مونځ كونكى به دسجدى ځائى ته ګورى او كه خوښه ئي شى نو مسواكى داشارى ګوتى ته به ګورى او دادتشهد په دوران كښى .

## ۶۸- دارنګه دمخالفاتونه چه مونځ كونكے خپل ارګمے نه زغمى په مانځه كښى (اوخوله وازه كړى ،اه ، كوى) .

مسلم او ابوداود دابوسعيدالخدرى رضى الله عنه نه روايت كړے چه هغه ئى درسول الله صلى الله عليه وسلم نه نقل كوى چه رسو ل الله صلى الله عليه وسلم فرمايلى : إذاتثاءب أحدكم في الصلاة فليكظم ما استطاع فإن الشيطان يدخل )) .

ترجمه : (چه كله يو كس ستاسونه په مانځه كښى ارګمى كوى نو چه څومره ئي طاقت وى دفع دى كړى اووه دزغمى ځكه شيطان پكى ننوځى .

اوكظم ديته وائي چه ارګمے واپس كړى رد ئي كړى ترڅوپورى چه ئى طاقت وى اوداپه دى هم كيږى چه په خوله لاس كيدى لكه په ځنو رواياتو كښى شته : (( إذاتثاءب أحدكم فليمسك بيده على فمه )).

ترجمه : چه کله یوکس په تاسو کښې ارګمے وکړی نو په خوله دی لاس کیدی اووه دی نیسی .[داحدیث مسلم دابوسعیدالخدری رضی الله عنه په روایت نقل کړے]

## ۶۹- دارنګه دمخالفاتو نه په مانځه کښې خوله پټول چه یاخوئي ورنه څه ځادر تاوکړےوی

( یعنی لچك ئی وهلےوی ) اویائي په بل څه پټه کړی وي .

ابوداوداوابن ماجه او بغوی دابی هریره رضی الله عنه نه روایت کړے چه نبی صلی الله علیه وسلم منع کړی چه یو کس دی خوله پټه کړی .

اوددینه هغه پټول مستثنی دي چه کله ئـي دارګمی په وخت کښې پټه کړی کوم چه لړمخکی تیرشو .

شیخ عبدالعزیز بن باز رحمه الله ویلی چه دخولی نه څه شی تاوهل مکروه دی مګرکه دعذراو څه بیماری په وجه وی .([1])

## ۷۰- دارنګه دمخالفاتونه چه کله اذان وشی او بیادجماعت نه وځی .

امام منذری رحمه الله ویلی : ((الترهیب من الخروج من المسجدبعدالاذان لغیرعذر)) یره ول چه په غیر دعذر نه دجماعت نه وځی چه کله اذان وشی ( یعنی چه اذان وشی او روسته دجماعت نه وو ځی دغه کس دعذابه یره ول ).

---

([1]) کتاب الدعوة ( الفتاوی ) ص ۸۳ .

بیائي ددینه روسته احادیث راوړی چه ابوهریره رضی الله عنه ویلی چه یو سړی دجماعت نه ووت چه اذان شوی و نو هغه ورته داسی وویل : (( أماهذا فقد عصی أباالقاسم صلی الله علیه وسلم )) هر چه داوو نودی داباالقاسم ( یعنی رسول لله صلی الله علیه وسلم ) نافرمانی وکړه . [ داروایت مسلم او احمد نقل کړے ] اودائي ورسره زیات کړی ( چه کله تاسو په جماعت کښې ئي اودمانځه دپاره اذان وشی نو یو کس ستاسو نه دی ترهغه پوری نه وځی چه مونځ ئي نه وی کړے ) امام ترمذی رحمه الله وائي چه په دی باندی داهل علموعمل د ے درسول الله صلی الله علیه وسلم صحابه کرام اودهغو نه روسته د علماو چه یو کس به هم داذان نه روسته نه وته دجماعت نه مګر که چرته ئی ډیر غذر و چه اودس کوی او یابل داسی کار چه خلاصون به تری نه و . [ خبره ئي ختمه شوه ] .

## ۷۱- دارنګه دمخالفاتونه چه کله جماعت ته وځی او دلاسونو ګوتي په یوه بله کښی ورکړی چه

( تشبیك ) ورته په عربی کښی وائی دادمانځه دخلاصیدو پوری منع دی ځکه ددینه منع شوی چه ګوتی په یو بل کښی ورکړی او مونځ ته ځی اویا مونځ کوی .

دکعب بن عجره رضی الله عنه نه روایت د ے دا وائي چه رسو ل الله صلی الله علیه وسلم فرمایلی :

(( إذاتوضأ أحدکم فأحسن وضوءه ثم خرج عامدا إلی المسجد فلایشبکن بین یدیه فإنه في صلاة ))

ترجمه : ( کله چه یو کس په تاسو کښې اودس وکړي او ښه کړي اودس خپل او بیا جماعت ته دوتلو په اراده ووځي نو ګوتې دې په یو بل کښې نه ورکوي ځکه دے په مانځه کښې دے) .
[ داحدیث احمد او ابوداود او ترمذی نقل کړے] .

دابوهریره رضی الله عنه نه روایت دےدا وائي چه رسو ل الله صلی الله علیه وسلم فرمایلی : (( چه کله یو کس په تاسو کښې اودس وکړي په خپل کورکښې اوبیاجماعت ته راغے نوداپه مانځه کښې دےتردې چه واپس شي نوداسې دې نه کوي : (( وشبك بين أصابعه )) یعنی ګوتې په یوبل کښې ورکړي او ننه ئي ایستلی . [ داحدیث حاکم روایت کړے]

* بیادابوهریره رضی‌الله عنه نه روایت دےدادنبی صلی الله علیه وسلم نه نقل کوي چه رسو ل الله صلی الله علیه وسلم فرمایلی : (( إذاتوضأ أحدكم للصلاة فلايشبكن بين أصابعه ))

ترجمه : ( چه کله یو کس ستاسو نه دمانځه دپاره اودس وکړي نو ګوتې خپلې دې په یوبل کښې نه ننه باسي ) [ داحدیث طبرانی په معجم الاوسط کښې نقل کړے] .

داټول احادیث په دې دلالت کوي چه ګوتې به په یوبل کښې نه ننه باسي چه کله مانځه ته ووځي تردې پورې چه فارغ شي ترینه

## ۷۲- دارنګه دمخالفاتو نه دسورت فاتحې نه روسته چپ کیدل او سکته کول اوږده سکته ( یعنې غلې ودریدل )

اوداسکته او چپ ودریده درسول الله صلی الله علیه وسلم نه په صحیح حدیث کښې نه دی ثابت .

* شیخ الاسلام ابن تیمیه رحمه الله په فتاوی کښې ویلی : اوامام احمد رحمه الله نه ده مستحب کړی چه امام دی دمقتدی د قراء ت دپاره غلے شی .

لیکن ځنو ملګرو ئي مستحب ګڼلی دغه ، او دامعلومه ده چه نبی علیه السلام که چرته سکته کولے او چپ کیدلے نو دسورت فاتحی لوستل خو بیا کیده پکی اودابیا پوره اسباب او دواعی دهغی په نقل به وی نو کله چه دایو کس هم نه ده نقل کړی نو معلومه شوه چه دغه سکته نه وه او هم دارنګه که چرته ټولو صحابه کرامو درسو ل الله صلی الله علیه وسلم نه روسته فاتحه ویلے یاپه اوله سکته کښې اویاپه دویمه کښې نو بیاخوبه پوره کسانو دغه نقل کړے وے نو ځنګه یو کس هم دصحابو نه نه ده نقل کړی چه دوی به په دویمه سکته کښې سورت فاتحه ویله سره ددینه که داجائزوے نو صحابه کرام ډیر حقدار و دهغه په علم نودامعلومه شوه چه دابدعت دے . اه [ خبره ئي ختمه شوه ].

اودشیخ عبدالعزیز بن باز رحمه الله نه په دی مسئله کښې دوه سواله شوی چه اولنے سوال داسی دے : امام چه کله دفاتحی نه روسته ودریږی دومره وخت چه فاتحه پکی وه لوستل شی نوددی څه حکم دے اوکه امام وه نه دریږی په دغه وخت کښې نو مقتدی به کله فاتحه لولي ؟

* نوهغه داسې جواب ورکړه : دلته څه داسې صحيح او صريحه واضحه دليل په دې نشته چه هغه په مشروعيت او جواز دسکتې دامام باندې دلالت وکړي تردې پورې چه مقتدي سورت فاتحه په جهري مانځه کښې ووائي هرچه مقتدي دے نو دهغه دپاره جائزدي چه کله امام په ايت ودريږي دهغه په سکتوکښې دې سورت فاتحه وائي که چرته چپ کيده اوکه داورته اسانه نه وه نو بيادې مقتدي په پټه وائي اګرکه امام قراء ت لولي بيابه چپ کيږي ( يعنې نور قراء ت به ورپسې نه وائي ) ددې قول درسول الله صلى الله عليه وسلم په وجه (( لا صلاة لمن لم يقرأ بفاتحة الكتاب )) .

ترجمه :( نشته دے مونځ دهغه چاچه سورت فاتحه ئي وه نه ويله ) [ دامتفق عليه حديث دے].

او دويم حديث داد ےچه رسول الله صلى الله عليه وسلم وه فرمايل : (( لعلكم تقرؤن خلف إمامكم ؟ قالوا : نعم . قال لاتفعلوا إلابفاتحة الكتاب فإنه لا صلاة لمن لم يقرأ بها )) .

ترجمه : ( شايدتاسو دامام ن روسته قراء ت وائي : هغوی وويل او ، نو رسول الله صلى الله عليه وسلم ورته وه فرمايل داسې مه کوی مګرسورت فاتحه لولئ ځکه دهغه چامونځ نه کيږي چه سورت فاتحه ئې وه نه لوستله ) [ داحديث احمدابوداود او ابن حبان په حسن سند سره نقل کړے] .

* دادواړه حديثونه داقول دالله تعالى عزوجل خاص کوی :

(( وإذاقرئ القرأن فاستمعوا له وأنصتوا لعلكم ترحمون )) [ سورت الأعراف ، اية ٢٠٤ ]

ترجمه : ( کله چه قران کریم لوستل کیږی نو غوږ ورته کیدئی او چپ شئ شاید چه په تاسو رحم وکړے شي ) .

* اوداقول دنبی صلی الله علیه وسلم : (( إنما جعل الإمام ليؤتم به فلاتختلفوا عليه فإذا كبر فكبروا وإذاقرأ فانصتوا ))

ترجمه : یقینا امام ددی دپاره مقرر شوے چه په هغه پسی اقتدا وشی نو اختلاف او خلط وربانډی مه راولي چه کله الله اکبر ووائي نو تاسو ورپسی الله اکبر( تکبیر ) وائي ، اوچه کله قراء ت لولي نو بیاچپ شئ . [ دا اوږد حدیث دے اومسلم په خپل صحیح کښی روایت کړے ].

اود دویم سوال جواب هم دغه شان د ے . اھ

## ۷۳- دارنګه دمخالفاتونه دستنو په مینځ کښی مونځ کول .

* قره رضی الله عنه وائي : (( كنا ننهى أن نصف بين السواري على عهد رسول الله صلى الله عليه وسلم ونطرد عنها طردا ))

ترجمه : ( مونږه درسول الله صلی الله علیه وسلم په وخت کښی منع کیدلے شو او شړلے شو چه دستنو په مینځ کښی مونځ وکړو او صف شو دهغی نه .

[ داحدیث ابن ماجه او ابن خزیمه ابن حبان حاکم بیهقی او طیالسي.نقل کړ ے اوحاکم ویلی چه سند صحیح دے اوذهبی ورسره موافقه کړی ] .

* عبدالحمیدبن محمود وائي چه مادانس بن مالك رضی الله عنه سره دجمعي مونځ کاو نومونږه ستنوته ټیل وهلے شو نو کله به مخکی شو اوکله به روسته شو نو انس رضی الله عنه وویل :

(( مونږه به درسول الله صلی الله علیه وسلم په وخت کښې ددینه ځان ساته . [ ابوداود ترمذی نسائي ابن حبان او حاکم نقل کړے]

امام بیهقی رحمه الله وائي چه ( والله اعلم ) یعنی الله تعالی ښه پوهیږی لیکن اصلی وجه داده چه ستنی په مینځ کښی حائل واقع کیږی او صف متصل او پیوست نه وی ( بلکی قطعه کوی ) اوکه یو کس یواځې مونځ کوی اودستنو نه تجاوز نه کوی نو مکروه نه دے ان شاء الله تعالی .

امام بخاری روایت نقل کړے چه نبی صلی الله علیه وسلم کعبی ته داخل شو اودمخکنو دو ستنو په مینځ کښی مونځ وکړو .

امام مالك رحمه الله اجازه ورکړی چه کله خلك ډیر وی او ګنه وی نوویلی ئي دی چه د ستنو په مینځ کښی که صفونه ودریږی او جماعت ورباندی تنګ شی نو څه پروا نشته .

## ۷۴- اودارنګه دمخالفاتو نه چه څنو خلکو داعادت جوړ کړے چه قران کریم ښکلوی ( اودمخ سره ئي نیسی ) غالبا دادتلاوت نه روسته او یاچه قران کریم په یو غیر مناسب ځائی کښی ووینی اویاتری وه لویږی .

په دی خبره کښی شك نشته داکار چه څوك کوی نودقران کریم احترام او عزت ئي په زړه کښی قصد
کړےوي اوداهانت نه ئی بچ کوی ، لیکن دنیت صلاح دلیل په اصلاح دعمل نشی کیدلے .

* دشیخ الاسلام ابن تیمیه رحمه الله نه تپوس شوی چه قران کریم ته پاڅیدل او ودریدل اودهغی ښکله ول او ایا دامکروه دی چه یوکس ئي دفال دپاره بیرته کړی ؟
نوداسی جواب ئی ورکړے : الحمدلله ، دسلفونه په دی حقله څه نه دی نقل شوی چه قران کریم ته پاڅی اویائي ښکل ( یعنی چپ ) کړی دامام احمد رحمه الله نه دقران کریم دښکلولو پحقله تپوس شوی نوهغه داسی ویلی : ماپه دی کښی څه نه دی اوریدلی لیکن دعکرمه ابن ابی جهل نه دا روایت شوی چه هغه به قران کریم بیرته کړه او مخ به یی وربراندی کیخوده او داسی به ئی ویل : ( کلام ربي کلام ربي ) زمادرب کلام دے زما درب کلام دے .
لیکن دسلفو داعادت نه و چه قران کریم ته پاڅیږی نو دائی هم عادت نه و چه ځنی خلك ځنی نوروته پاڅیږی او مګر که چیرته یو کس غائب وی دسفر نه راشی اویا داسی نور وغیره ددغه پشان .
* بیادهغه خبری نه روسته داسی ویلی : او ، هرچه قران کریم دفال دپاره بیرته کول دی نو دسلفونه څه نقل شی په دی کښی نشته او متاخرینو روستنو په دی کښی نزاع او بحث کړے اوقاضی ابویعلی په دی کښی نزاع او پوره بحث ذکر کړ ی .
دابن بطه نه ئی ذکر کړی چه ده فال نیولے او دغه عمل کړی او دنورونه ذکر کړی چه بدګڼلی ځکه داهغه فال نه دے چه کوم به

رسول الله صلى الله عليه وسلم خوښاو ځکه رسول الله صلى الله عليه وسلم به فال خوښاو او ( طيره ) ( يعنى مرغه پاڅول ) به ئي بد ګڼل .

كوم فال چه به ئى خوښ و نو هغه داو چه څوك كوم كار كوى او يا ورته څه اراده وكړى او توكل او بروسه ئي په الله تعالى وى او هغه خبره يايوكلمه لفظ واورى چه دخوشحالى وى .

لكه داسى واورى چه يا( نجيح ) يا مفلح ، ياسعيد ، يامنصور ، اوياداسى نور الفاظ چه په هغه كښى

( دكاميابى اويوه نيكه ښه نښه علامه اومعنى وى ) تراخره ، خبره ئي ختمه شوه رحمه الله تعالى .

[ مجموع الفتاوى ۲۳ص ۶۵-۶۶ ].

## ۷۵- اودارنګه دمخالفاتونه نه دقران كريم په لوستلوكښى تكلف كول .

* ځكه ځنى قاريان خلك متنفره كوى چه دالله تعالى كلام واورى اودا په دى وجه چه ددوى په مشقت او تكلف لوستلو سره په اداكولو دحروفو كښى اودحرف راويستل دخپل مخرج نه په طريقى دتكلف سره .

الله تعالى فرمائي : (( ولقد يسرنا القرأن للذكر فهل من مدكر ))

[ سورة القمر أية : ۱۷ ] ترجمه : په تحقيق سره خامخامونږه قران كريم اسان كړے دپاره دنصيحت قبلولو ( اودپنداغستلو ) زده كولو اياڅوك پندقبلونكے اوزده كونكے شته .

ابن کثیر رحمه الله ویلي : ( هونا قراء ته ) یعني لوستل مو ورله اسان کړی . اوسدي ویلي : ( یسرنا تلاوته علی الألسن ) تلاوت مو ورله اسان کړے په ژبوباندی . اوضحاك ویلي دابن عباس په روایت دهغه نه نقل کړے که چرته الله تعالی دا قران په ژبه دبني ادمو نه وے اسان کړے نو هیچا دا نشو لوستلے یو کس دمخلوق نه چه دالله تعالی په کلام خبری وکړی او خوله پری وه خوزه وی .

[ ختم شو ، دتفسیر ابن کثیر نه ۴ ص ۲۸۲ ] .

## ۷۶- دمخالفاتو نه ځنی عام خلك ددو سجدو په مینځ کبنی داسی وائي ( اللهم خل عني ) ای الله لری کړه زمانه . دا لفظ دماثور او سنت طریقی نه خلاف دے .

بلکی داسی دی وائي : چه کوم راغلی : (( رب اغفر لي وارحمني واهدني وارزقني )) ([1])

ترجمه ك : ( ای ربه ګناه راته وه بخښه اورحم راباندی وکړه اوهدایت ( خودنه ) راته وکړه اورزق راته راکړه ) .

## ۷۷- اودارنګه دمخالفاتو نه :ځنی مسلمانان په خپل مانځه کبنی یو طرف اوبل ته اوړی راوړی . اوکله خپل جسم بدن مخکی تیل وهی اوکله ئي روسته ( یعنی روسته کیږی

---

([1]) مسائل مهمة تتعلق بالصلاة للشيخ عبدالله بن منصور الزامل رحمه الله تعالى .

اومخکی کیږی ) په غیر دځه حاجت اوضرورت نه اوداښول کارونه په مانځه کښی دخشوع اوعاجزی نه خلاف دي . ([1])

## ۷۸- اودارنګه دمخالفاتونه :ځنی مونځ کونکی چه کله

سجده سهوه کوی نوپه سجده کی داسی وائي : ( سبحان من لا یسهوو لا ینام )

ترجمه : ( پاکی ده هغه چاله چه نه سهوه کیږی اونه اوده کیږي ،

اوځنی دا ایت وائي : (( وما كان ربك نسيا )) ( ستارب نه هیره وی ) اویاداسی وائي :

(( ربنالاتؤاخذناإن نسينا أوأخطأنا )) ( ای زمونږه ربه که مونږه خطاشو اویاهیر کړو نو موږه مه نیسه ) .

* په کتاب السنن والمبتدعات کښی راغلي چه دنبی صلی الله علیه وسلم نه کوم خاص دعانه ده نقل شوی دسجده سهوی دپاره بلکی ددی اذکار هم دنوروعامو سجدوپشان دی چه کومی په مانځه کښی دي .

---

([1]) فائده : داحدیث چه نبی صلی الله علیه وسلم یو سړی وه لیده چه په مانځه کښی په ږیره لوبی عبث کارکول یعنی په ږیره کی ګوتی وهلی نو رسول الله صلی الله علیه وسلم وه فرمایل : (( لوخشع قلب هذا لخشعت جوارحه )) که ددی سړی زړه عاجزی او خشوع کولې نو نورو اندامونو به ئي هم کولې . داحدیث موضوعي دے اودسعیدبن المسیب نه ئي موقوف روایت کړے لیکن ددنه هم نه دے صحیح .
داشیخ البانی رحمه الله ذکرکړے [ السلسلة الضعيفة حديث / ۱۱۰ ]

اوکوم چه ویلی شی چه هغه به په دی کښی : ( سبحان من لا یسهو ولا ینام ) ویل نو دا رسول الله صلی الله علیه وسلم نه دی کړی اونه صحابه کرامو اونه وړباندی هیڅ یو دلیل دسنت نه شته . ([1])

* اوکوم کس چه مخکښی دوه ایتونه لولی نو سره ددغه نه په دغه عمل هیڅ دلیل نشته او داپه صریحه نهی اومنع کښی واقع شه کومه کښی چه منع راغلی دقران کریم دلوستلو نه په رکوع اوپه سجده کښی .

امام مسلم دعبدالله بن عباس رضی الله عنهما په روایت باندی یو مرفوع حدیث نقل کړے :(( ...ألا وإني نهيت أن أقرأ القرأن راكعا أوساجدا )) ([2])

(خبردار یقینا زه منع شوے یم دلوستلو دقران کریم نه په رکوع او په سجده کښی ) .

## ۷۹- په ځنی غټواولویو جماعتونو کښی ځنی کسان

چه داخل شی اوجمع ولاړه وی نو بل صف جوړه وی او حال داوی

---

([1]) السنن والمبتدعات ص ۷۶ .

([2]) مسلم سره دشرح النووی نه ۴/ ۱۶۹ .

فائده : شیخ البانی رحمه الله په دے حدیث تعلیق کړےاووائي : چه نهی مطلقه ده او شاملیږی فرضواونفلو دواړو ته اوهرچه دابن عساکر زیادت دے په ( ۲۹۹/۱۷ /۱ ) (چه په نفلوکښی څه ګناه نشته ) نودا شاذ دےاو یامنکر دےاودا ابن عساکر معلول کړے په دی څه عمل جائز نه دے .

[ ختم شو : صفة صلاة النبي صلى الله عليه وسلم ص ۱۱۵ ]

چه مخکی صف کښی ځائی وی لیکن دانوے صف جوړه وی اودبل طرف نه مخکی صف مکمل نه وي لیکن دمسافی دلری والي په وجه (چه لږه فاصله وی) اویاپه دی طمعه وی چه رکعت به لاندی کړم نو کسل او سستی وکړی او صف نه پوره کوی دبل طرفه اوددی داعمل دصف په پوره کولو کښی خلل اونقصان اچوی ځکه صف جوړه وی اومخکی صف لا پوره نه د ے.

اوهم دارنګه ډیر کرت نور کسان به روسته راځی اویو بل صف به جوړه وی لکه ده چه څه کړی هغه نور ئی هم کوی نو صفونه به نیمګړی اوناقص پاتی کیږی ددواړو طرفونه اودا کار نه دے جائز ددی قول دنبی صلی الله علیه وسلم په وجه (( ومن قطع صفا قطعه الله عزوجل )) چاچه صف پری کړه الله عزوجل به داقطع کړی [ داحدیث احمد ابوداود او نسائي نقل کړے].

اودارنګه حدیث د ے (( أقيموا صفوفكم أو ليخالفن الله بين قلوبكم )) ترجمه : (خپل صفونه جوړ کړی اویابه خامخا الله تعالی ستاسو په زړونو کښی مخالفت واچوی) .[ابو داود او ابن حبان روایت کړ ے داحدیث ]

## ۸۰- ځنی امامان چه کله په صف کښی کوږوالے وینی

اودصفونو جوړه ولو په وخت کښی ورته داسی وائي : ((إن الله لا ينظر إلى الصف الأعوج )) ترجمه : (يقينا الله تعالی کوږ صف ته نه ګوری) اوکله ورسره داهم ووائي چه دارسول الله صلی الله

عليه وسلم ويلی نو ( قال ) ورسره وائي چه قال رسول الله صلی الله عليه وسلم .

ليکن داوږد بحث نه روسته چه دخلکو په مينځ کښی دامعروف او مشهور د ے خو چه څومره تپوس مونږه داهل علمونه کړ ے نو په هيڅ کتاب کښی نشته اونه اهل علمو پيژانده اونه کوم کس ددينه څه بحث کړ ے . داټول دبحث په اعتبارسره ليکن چه څوك ئي وائي نو هغه دی ثبوت پيش کړی او په دی د ے بحث اوخبره يعنی تلفظ نه کوی مګر چه کله ښه تاکيدئي دصحت وکړی .

بيانور احاديث درسول الله صلی الله عليه وسلم نه نقل دی چه صحيح احاديث دی اوهغه پوره دی چه دنورونه سړی بی پروا کوي ( دمثال په طور نه دحصر په طريقه ) داقول درسول الله صلی الله عليه وسلم (( سووا صفوفكم )) ( خپل صفونه برابراوجوړ کړی )[ بخاری او مسلم روايت کړ ے ].

اودا قول درسول الله صلی الله عليه وسلم : (( أحسنوا إقامة الصفوف في الصلاة )) ( ښه اوبهتره کړی په مانځه کښی دصفونو سيده کول او نيغ ودره ول او برابره ول ) .[ احمد په مسند کښی روايت کړ ے ] .

اوداقول د رسول الله صلى الله عليه وسلم : (( رصوا صفوفكم وقاربوا بينها )) ([1])

( صفونه سيده برابرکړی او نژدی شی یو بل ته په صفونو کښی ) [ احمد او ابوداود نقل کړے ] .

## ۸۱- په ځنی مونځ کونکو داعتراض دے چه کله

درکوع نه پورته کیږی نوداسی لاس او چتوی اورفع اليدين كوی لکه دعاچه کوي .

اوداکار درسول الله صلی الله علیه وسلم دسنتو خلاف دے ځکه رسول الله صلى الله عليه وسلم به داوړو برابر لاسونه اوچتول اوكله به ئي دغوږ نو دنرموسره برابر ول نه دا چه داسی اوچت شی لکه دعاچه کوي اوددعا په هيئت او شکل سره ئی اوچتوی .

## ۸۲- هغه بیماران اومریضان چه یو شمیر مونځونه تری

فوت شی اوقضاشی دغه مونځونه نه کوی مګر هم په دغه وقت د سبا ورځی اوداواضحه خطا ده ښکاره ، په دغو دا واجب ده چه کوم مونځ تری قضاشی نو سمدستی اوفورا به ئي کوی ( چه قادرشه وربانديی ) داحديث دليل دے نبی صلی الله علیه وسلم فرمائي : (( من نسي صلاة أونام عنها فكفارتها أن يصليها إذا ذكرها ))

---

([1]) دفائدی په غرض دارساله اوګوره ( تسوية الصفوف وأثرهافي حياة الأمة ) حسين العوايشه .

ترجمه : (دچانه چه مونځ هير شه اويا ترې وده شه نو دګناه نه دخلاصئ اوكفاره ئي داده چه كله ورته يادشي نو ودى كړى ).
[داحديث بخاري مسلم ابو داود نسائي ترمذى په نژدى الفاظو نقل كړے]

## ۸۳۔ دكسوف او خسوف (يعنى دنور او سپوږمى

دتوريدو مونځ ) چه كله داتورشى نو خلك مونځ كوى نو چه امام يوه ركوع وكړى بيا ورسره څوك شريك شى او امام سلام وه ګرځوى نو دا ورسره هم سلام ګرځوى اوداكار خطادے ځكه ددى داعقيده وى چه دنورو مونځونو پشان چه كله ركوع لاندى كړى نو ركعت ئى لاندى كړه اوحال دادے چه دا دامام دويمه ركوع اوپه كسوف او خسوف مونځونو كښى په هر ركعت كښى دوه ياډيرى ركوع ګانى دى اوركعت نه لاندى كيږى مګر چه كله اوله ركوع لاندى كړى هر چه نورمونځونه دى نو په هر ركعت كښى يوه ركوع ده .

او دائمى لجنى ته داسى سوال راغلے دے : چه مفهوم ئي په لاندى ډول دے :ايادا صحيح ده چه دكسوف دمانځه دويمه ركوع سنت ده او چه كوم كس راشى نو دغى ركوع له اعتبار نشته ترڅو چه ئى اوله ركوع نه وى رسولي نوركعت چه كامل كيږى په دوه ركوع ګانو سره كامل كيږى چه كله امام سلام وه ګرځوي اوكه نه دا دويمه ركوع داولنى ركوع قائم مقام ده ؟

نو دلجنى جواب په دى ډول دے : صحيح داده چه په صلاة كسوف كښى چه اوله ركو ع فوت شوه نو دغه ركعت صحيح نه

دےنو په دغه کس دوه رکوع ګاني لازم دي سره دبل رکعت نه ځکه دکسوف مونځ عبادت دےاو عبادات موقوف او مقصور په هغه طريقه او کيفيت پورى دي چه په کومه طريقه او کيفيت نقل شوى وى په صحيو او مثبته دلائلو .(١) (ختم شو)

## ۸۴- ځني مقتديان ډير وخت ناست وى اوامام

پاڅيدلے وى بل رکعت ته په داسى حال کښى چه امام ددغه بل رکعت نه څه وخت تير کړى وى او دا لاتراوسه ناست وى .

* اوداکار دسنت خلاف دےځکه په ده باندى دامام متابعت او تابعدارى واجب ده په دى قول درسول الله صلى الله عليه وسلم باندى : (( إنما جعل الإمام ليؤتم به )) الحديث .[ داحديث بخارى اومسلم نقل کړے]

(معنى ئىهم دغه ده چه امام ددى دپاره مقرر شوےچه هغه پسى اقتداء او متابعت وشى)

* شيخ محمد بن ابراهيم رحمه الله ويلى : چه غالبه او اکثره مونځ باطله وي مګر کوم کس چه داکار کوى هغه زياتره جاهلان وى ځکه ده دمانځه يو رکن پريخوده او داچه پريدى دکسل او سستى دوجى نه پريدى چه په باقى مانځه کښى سستى کوى نو ځوك چه داسى کوى هغه له تنبيه ورکول پکار ده (ليکن داپه نظر کښى نيول پکار دى چه ددينه جلسه استراحت نه ده مراد هغه سنت ده مخکى ئى ذکر تيرشوى و ) .

---

(١) مجلة البحوث الإسلامية ٩٨/١٣،٩٣/٢٣ .

**۸۵- ځنې مونځ کونکي دسجدې ځائې ته ګوري او** داسنت عمل د ےلیکن کله چه امام ( غیر المغضوب علیهم ولا الضالین ) ووائي نو دغه مقتدی ورسره لږ سر پورته کړی او بیا ( امین ) ووائي اودهر امین سره سر اوچته ول او دا یو عبادت ګرځول دانه دی جائز ناروا کار د ےاو بدعت دے نو ےشے د ے.

**۸۶- دځنو خلکودا عادت وی چه په اولنی تکبیر** تحریمه کښې اواز اوچت کړی واضحه او په زوره تکبیر وائي چه داد نورو تکبیرونو نه مخالف د ےکه دامقتدی وی او که ځانله مونځ کونکی وی منفرد .

اودا تکبیر یواځې کول ، تکبیر تحریمه چه په دی اواز پورته کړی په غیر دنورو نه دا دلیل غواړي .

* رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلی : (( صلوا کما رأیتموني أصلي )) ( یعنی زما په طریقه مونځ کوی ) اوچاچه ددنه مونځ نقل کړی هغوی دانه دی ذکر کړی چه تکبیر تحریمه ( اولنی تکبیر) ئي خاص کړےپه اواز اوچتولو .

اوداد بحث پوره والے دے ، والله اعلم .

**۸۷- په ځنوښارونو کښې چه کله مونځ خلاص کړی** یوکس پاځي سورت فاتحه وه لولي اودهغی نه روسته ووائی چه داد حضرت النبی دپاره اویامطلق داسی ووائی (إلی حضرة النبي)

* په دې حقله دشیخ ابن عثیمین رحمه الله تعالی دا جواب د ے ( ددې حکم بدعت دے ، دهغه بدعت نه چه داد نبی صلی الله علیه وسلم په زمانه کښې نه و اونه دخلفاء راشدینو په زمانه کښې و اوهر هغه کار چه نوے په دین کښې جوړ شي نود هغه کونکی ته فائده او نفع نه رسوي بلکې ضرر ورسوی ... ) .

لکه ددغه نه رسول الله صلی الله علیه وسلم یره او منع کړی
(( إياكم ومحدثات الأمور فإن كل بدعة ضلالة )) .

ترجمه : ځان دنو اومحدثاتو کارونو نه وه ساتئ ځکه هر نوے کار بی لاري اوهلاکت اوضلالت د ے ( یعنی چه په دین کښې دځانه نوے څه کوی ) اوداکار چه دمانځه نه روسته سورت فاتحه او ایت الکرسی لولي په اوچت اواز او په زوره اونورو خلکو ورته غوږ نیولے وی نودا خو بیشکه دهغه بدعت نه دے چه دکوم نه ئی منع شوی اوددغه په ځائی خلکوته دهغه امر پکار دے چه وی کړی چه کوم اذکار په سنت سره ثابت دی اوپه حدیثوکښې راغلی دمونځونو نه روسته . [ تراخره مختصر ] (1) .

## ۸۸- ځنی خلك چه کله ځانله مونځ کوی اودده سره

څوك ودریږی نو په لاس ئي تیل وهی او دا ورته وائي چه مه ودریږه زماسره ، لری شه خاص کر چه کله څو ك نفل کوی ددی ګمان وی چه دانه ده جائز چه دا امام شی دهغه دپاره او دانفل کوي اودابل دی فرض ورپسی کوي ، اودا فهم خطا دے صحیح

(1) فتاوی نور علی الدرب ص ۴۰ .

ددی جواز د ے دائمی لجنی ته داسی یو سوال په دی حقله هم راغلے :

* چه کله یو کس ځانله مونځ کوی یواځی اوبل کس ورسره شریك شی اودهغه مقتدی شی ایادا جائز دي اوکه نه ؟

نولجنی داسی جواب ورکړے : ( داجائز دی اونفل اوفرض پکی برابر اویو شان دی ) [1] .

په یوبل جواب دلجنی کښی داسی دی : ( اقتداء دمفترض په متنفل پسی جائز ده ) ( یعنی چه یوکس نفل کوی اوبل ورپسی فرض کوی ) دلیل ورله قصه دمعاذ رضی الله عنه ده ځکه چه هغه به دنبی صلی الله علیه وسلم سره مونځ وکړه اوبیابه یې هم دغه مونځ چه قوم ته به راغے هغوله به ئي بیاوکړه .

[ دبخاری او مسلم حدیث دے ] .

## ۸۹- دجنازی دمانځه په وخت کښی ځنی خلك دامام

ښیۍ طرف ته صف جوړه وی اوکله دمونځ کونکو شمیر لږوی په دغه صف کښی په داسی طریقه چه دصف اخرته نه رسیږی .

* اوکوم عادت چه زیات خلك ئی کوي چه دامام ښیۍ طرف ته دمړی خپلوان او رشته دار ودریږی نو دلیل ته ئي ضرورت د ے .

* نوداسی ورته ویلےشی : چه صحیح اوحق داده چه ټول په پوره صفونو کښی دامام شاه ته ودریږی دعامو احادیثو په وجه باندی کوم چه دصفونو پحقله راغلي دی چه په مانځه کښی

---

[1] مجلة البحوث ۹٤/۲۳ .

صفونه پوره کړی اوکامل کړئ نو دیومانځه نه ئي دبل مانځه سره څه فرق نه دے کړے اوددغو احادیثو نه داقول درسو ل الله صلى الله عليه وسلم هم دے :(( لتسون صفوفکم أو ليخالفن الله بين وجوهكم )) ترجمه : (خامخابه تاسو خپل صفونه جوړه وی اوکه نه الله تعالی به مومخونه بل طرف ته واړه وی ) [ داحدیث بخاری او مسلم نقل کړے ].

## ۹۰- ځنی مقتدیان امام ډیر بد ګڼی چه یوسورت په

بل سورت باندی مخکی کړی دمصحف دترتیب خلاف او ځنی خلك ډیره مبالغه کوی لکه امام چه یو حرام کار کړے وی اودا ددوی جهل اوناپوهی ده ځکه دقران کریم دسورتونو په ترتیب کښی دعلماو اختلاف دے ایا چه داتوقیفی دشارع دطرفه دي اوکه دصحابه کرامو رضي الله عنهم اجتهاد دے ؟

شیخ الاسلام ابن تیمیه اوابن کثیر اوغیر ددوی نه داوائي چه ترتیب دسورتونو داد صحابو رضی الله عنهم اجتهاد دے.

* او دائمی لجنی ته یو سوال راغلے چه یو سړی کړے :چه امام په جمع مونځ کوی او په اول رکعت کښی دسورت فاتحی نه روسته (تبت ) وه لوستلو او په دویم رکعت کښی سورت الفیل وه لوستلو او دا دماخوستن مونځ و نو ایا داجائز ده چه یو سورت مخکی کړی دهغه نه چه هغه روسته وی او که نه ؟

* نو جواب ئي داسي وركړے : ( خبره كه داسي وى لكه څنګه چه ذكر شوى نو په دغه كښې څه نه شته ليكن غوره داده چه په دويم ركعت كښې چه كوم سورت وائى دادهغه سورت نـه روستـه وى كوم چه په اول ركعت كښې ويلى وى يعنـي موافـق دقـران كريم دترتيب سره وبالله التوفيق .([1])

## ۹۱- په څنوخلكو دايوه ملاحظه ده چه كله امام مونځ

كوى اودهغه سره يو مقتدى وى لكه دځنو خلكو نـه مونځ فوت شوى وى اوبيا ځانله دوه كسه ودريږى نو امـام دمقتـدى نـه لږ مخكې شي او اصل داده چه امام او مقتدى به يـو شان برابـر ودريږى متصل دامام سره نـه بـه مخكې كيږى او نـه بـه روستـه كيږى .

* امام بخارى رحمه الله ويلى : ( باب : يقوم عن يمين الإمام بحذائه سواء إذاكان اثنين ) بـاب تړلے چه ودريـږى بـه ښئ طرف دامام په خواكښې برابر يو شان چه كله دوه كسان وى .

بيـائى حديث دابـن عبـاس رضـى الله عنـهما ذكـر كـړے كلـه چـه دخپلې ترور ميمونـى رضـى الله عنـها كـره شپـه وه نـو پـه حديـث كښې دادي چه ( رسول الله صلى الله عليه وسلم وده شـولو بيـائي مونځ كاو او ابن عباس ئي كس طرف ته ودريده نو داوائي چه زه ئي ښئ طرف ته راوه ګرزه ولم ...) اوږد حديث دے .

---

[1] مجلة البحوث الإسلامية ١٩/ ١٤٨ .

* ابن حجر رحمه الله : ( داقول چه ( سواء ) دے یعنی نه مخکی او نه روسته ابن جریج وائی چه عطاء ته می وویل چه یو کس دبل کس سره مونځ کوی نو چرته به ودرېږی هغه وویل چه ښی طرف دهغه سره ماورته وویل چه دهغه سره برابر یو شان چه دهغه سره صف شی اویو دبل نه مخکی نه وي ؟
هغه وویل :او، ورته می وویل چه ستا خوښه ده چه بالکل به ورسره متصل وی تردی پوری چه په مینځ کښی هیڅ چاود او سورے نه وی هغه وویل : او .
[ الفتح ۲/۱۹۰-۱۹۱ ]

## ۹۲- ډیر خلك په مانځه کښی شامل شی دامام سره

او امام په حالت د رکوع کښی وی اوکله چه دادمانځه دشاملیدو دپاره الله اکبر اووائي نو امام سمع الله لمن حمده ووائی سره ددینه چه امام راپورته شی نودغه خلك دا رکعت شماری دمانځه نه او اعتبار ورکوي نودا ددوی جهل او ناپوهی ده که نه دا رکعت په دغه حالت کښی نشی شمیرلے او درکعت موندونکی نه دے ځکه دامام سره په رکوع کښی هیڅ شریك شوی نه دے .
* ددائمی لجنی په فتوی کښی داسی راغلی : چاچه تکبیر احرام وه تاړه یعنی تکبیر ئي ووایه او امام پورته کیده درکوع نه نو دغه رکعت معتبر نه دے .
اوهم دغه رنګه چاچه تکبیر احرام ووایه او بیائی تکبیر درکوع وکړه اوامام درکوع نه پورته کیده نودا رکعت هم معتبرنه دے

ځکه دغه کس دامام سره اشتراك وه نکړه او فوت شو تری په دومره مقدار کښی چه دا په رکوع کښی شریك شی چه ددغه رکعت دمعتبر والی دپاره کافی شی .
دسلام ګرځولونه روسته به دغه رکعت کوی چه کله امام سلام وه ګرځاو اوچاچه تکبیر تحریمه وکړه اوبیائي امام په رکوع کښی بیاموندہ اودغه کس ورسره دومره رکوع وکړه چه دا ښه مطمئن شو او ښه ( طمانیه ) وخت ئی تیرکړه نو دجمهورو علماو په نزد دا رکعت معتبر دے ، اوداحدیث وربانډی دلیل دے : (( إذاجئتم إلى الصلاة ونحن سجود فاسجدوا ولاتعدوها شيئا ومن أدرك الركعة فقد أدرك الصلاة )) .
ترجمه : ( کله چه تاسو مانځه ته راشئ اومونږ په حالت دسجدی کښی و نو سجده کوی اودغه هیڅ شی مه شمیرئ اوچاچه رکوع لاندی کړه نو په تحقیق ده مونځ لاندی کړه اوبیاموندہ ) ( یعنی دکاملی رکوع موندونکے داد رکعت موندونکے دے ) .
[ داحدیث ابوداود او ابن خزیمه او حاکم په مستدرك کښی نقل کړے ] .
اوبل حدیث دے : (( من أدرك ركعة من الصلاة فقد أدرك الصلاة ))
ترجمه : ( چاچه دمانځه یو رکعت لاندی کړه نوده ټول مونځ لاندی کړه ) اویاچاچه رکوع بیاموندہ نوده رکعت لاندی کړه ) .
[ داحدیث بخاری او مسلم نقل کړے ][1].

---

[1] مجلة البحوث الإسلامية دویم جلد عدد اول ص ۱۸۸ .

[د رکعة معنی محدیثینو په رکوع او رکعت دواړه سره کړی لیکن دلته تر ی مولف درکوع معنی اغستلی اوپه دلیل کښی داحدیث پیش کړے].

## ٩٣- ځنی خلك چه په مانځه کښی بی اودسه شی او

اودس ئي مات شی اویا ورته یادشی چه بی اودسه په مانځه ودریدلے د ے نو ښی اوګس طرف ته سلام وه ګرځوی ،که ولاړ وی او که ناست وی ، او بیا دمانځه نه ووځی دلته خطائي دا سلام ګرځول دی ځکه دا ځائی او وخت دسلام ګرځولو نه

د ے سلام دمانځه په اخری کښی ګرځول پکاردی ، چه کله ورته یادشی چه اودس ئی نشته او یائي اودس مات شی نو دمانځه نه دی وګرځی اوسلام دی نه ګرځوی اونور مونځ دی نه کوی .

ځکه سلام دمانځه په خلاصیدولو پوری خاص دے لکه حدیث دے :(( تحريمها التكبير وتحليلها التسليم ))

ترجمه : ( حراموالی ئي په تکبیر سره راځی او حلالوالی په سلام ګرځولو سره ) .

[ داحدیث احمد ابو داود ترمذی او ابن ماجه نقل کړے]

## ٩۴- په ځنو مونځ کونکو دایوه ملاحظه شته چه

داخری رکعت دویمه سجده ډیره اوږده کوی اودا واضحه وی دومره اوږده کړی چه درکعت په اندازه اویائي رکعت ته نژدی کړی اودا دسنت خلاف کار د ے .

* اوكوم چه درسول الله صلی الله عليه وسلم نه ثبوت د ے چه هغه به سجده دركوع په مقدار اوږده وله اويابه ئی ډيره اوږده كړه ليكن دابه ديوعذر په وجه وه لكه څنګه چه دځنوصحابه كرامونه نقل دی (( چه نبی صلی الله عليه وسلم په وخت كښی مونځ كاو اوسجده ئي پكی اوږده كړه نو خلكو وويل چه ای رسول الله تاسوپه مينځ ددی مانځه كښی داسجده دومره اوږده كړه تردی چه مونږه ګمان وكړه چه څه كار اوحادثه شوی ده اوياخودرته وحي كيږی نو هغه ورته وويل چه ټول كارونه نه و ليكن زماځوی زه سورلے ګرځولے وم ( يعنی زه راحله اوسورلے كړےوم ) چه زما په شاه باندی و نو مادابده وګڼله چه زه په هغه باندی تندی اوتيزی وكړم تردی چه خپل حاجت پوره كړی .([1])
نودايوعارضی حالت د ے داچه يو مونځ كونكی هميشه داخری ركعت اخری سجده ډيره اوږده وی نو داكار نه دی جائز او خلاف سنت د ے .

## ۹۵- ځنی خلك چه كله پاڅيږی او كوم مونځ چه ترينه

شوےوی دامام سره اوهغه راګرځوی اوبيابل كس راشی اودهغه سره ودريږی نودغه كس ئي نه پريدی اوټيل وهی چه زما سره مه ودريږه بلكی چه نور كسان ئي وينی نو هم ئی بدګڼی چه دا ولی ورسره ودريده او دا انكار او بدګڼل ئي بی ځائی دي .
يو سوال دائمی لجنی ته راغلے چه په دی طريقه د ے

---

([1]) صفة صلاة النبي صلى الله عليه وسلم ص ١٥٧- وګوره .

* یوکس دی چه مانځه ته راغلے اوپه ځنی مانځه کښې شامل شو اوڅه مونځ تری دجمعې شوے ئي بیا داکس پاڅیده او بل کس راغے اوپه دغه کس پسې ودریده نو ایاددغه روستنی کس اقتداء او ودریده په دغه اولنی پسې جائز دی اوکه نه ؟

* نوجواب داد ے چه : او ، ددغه روستی دپاره چه کوم په اخره کښې راغے اقتداء به کوی په هغه کس پسې چه هغه څه مونځ دجمعې سره مخکې کړے او څه دامام دسلام ګرځولو نه روسته کوی چه باقی پوره کړی .

اواصل دلیل په دی کښې داد ے چه کوم ابو داود ترمذی نقل کړ ے اوترمذی ورته حسن ویلی او ابن خزیمه صحیح کړے او ابن حبان او حاکم هم ، هغه داچه نبی صلی الله علیه وسلم یوسړ ے ولیده چه ځانله مونځ ئي کاو نووی فرمایل : (( ألارجل يتصدق على هذا فيصلي معه )) .

ترجمه : ( ایایو کس نشته چه په دی باندی صدقه او خیرات وکړی اوده سره مونځ وکړی ).

اوکوم حدیث چه جماعت دمحدیثینو ټولو نقل کړے چه ابن عباس رضی الله عنهما وائي چه مادخپلې تروږمیمونه رضی الله عنها په کور کښې شپه وه نو نبی صلی الله علیه وسلم دشپې پاڅیده او مونځ ئی کاو نو زه هم پاڅیدم او دهغه ګس طرف ته ورسره وه دریدم نو زه ئي دسره وه نیولم او خپل ښئ طرف ته ئي راتاو کړم او ښئ طرف ته ئي وه دریدلم .

* دا ادله چه راغلی په دی دلالت کوی چه جائز ده چه ځانله مونځ کونکے نقل شی او امام وګرځی په مینځ دمانځه کښی اوپه فرضو کښی هیڅ فرق نشته مګر په دلیل سره چه هغه تخصیص غواړی اوکه په امام پسی څه مونځ رسولے وی او بیا ورپسی په باقی مانځه کښی بل کس اقتداء کوی چه دجمعی ثواب حاصل کړی دادعلماو په صحیح قول کښی جائز ده .

[ خلاص شو ]

## ۹۶- په حالت د ودریدو کښی چه امام سهوه شی

اوزیاتی رکعت ته پاڅیږی لکه پنځم ته چه کله څلور رکعاتیز مونځ وی اویا دسهار په مانځه کښی دریم رکعت ته او څلورم ته دماښام په مانځه کښی .

* نوځنی مونځ کونکی دهغه دتابعداری په وجه ورسره پاڅیږی سره ددینه چه پوهیږی چه دازیاتی رکعت کوی نو دا ددوی جهل دے نو ددوی دپاره دا متابعت په دی کښی نه دی مناسب .

* اومونځ کونکی په دغه حالت کښی دامام سره په اقسامو وي :

* ځنی په دی ګمان وی چه امام صحیح کار کوی او خطانه دے په خپل کار کښی نو تابعداری کوی نو په دوی څه نشته دی .

* دویم قسم پوهیږی چه امام یو رکعت زیات کړه نو تسبیح ووائي لیکن امام څه توجه ورنه کړی اوخپل کار جاری وساتي نودوی دامام تابعداری وه نکړی اوهم دغه شان ناست پاتی شی

تردی چه امام سلام وه ګرځوی نو هغوی ورسره هم سلام وګرځوی
نو دامونځ ئي صحيح د ے .
* دريم قسم هم دمخکی پشان د ی ليکن دوی سلام وه ګرځوی
اودامام انتظار وه نکړی مونځ ئی صحيح د ے ليکن چاچه دامام
سره سلام وه ګرځاو هغوی ددوی نه ښه دی .
* څلورم قسم چه دامام تابعداری کوی اوپوهيږی چه دازياتی
رکعت کوی اوداخطاده .
* ددائمی لجنی په فتوی کښی راغلی :
* چه کله امام په څلور رکعتيز مانځه کښی پنځم ته پاڅيږی
اوهغه خبر شی اوبياهم خپل عمل جاری وه ساتی نو هر څوك چه
دده په خطاپوه شوی وی نوپه دغه واجب دی چه پريدی اوځانله
سلام وه ګرځوی اويا انتظار وکړی اودهغه سره سلام وګرځوی .
* ددی مسئلی تپوس دشيخ الاسلام ابن تيميه رحمه الله نه شوے
نوهغه داسی ويلی : دمقتديانو دپاره نه دی مناسب چه دهغه
تابعداری وکړی بلکی انتظار به يي کوی ترڅوچه ورسره سلام وه
ګرځوی اويادامام نه مخکی سلام وه ګرځوی ليکن انتظارورله
غوره د ے . [ مجموع الفتاوی ٢٣/ ٥٣ ].
ليکن که چائي تابعداری وکړه چه حکم شرعي ورته نه و معلوم
نو مونځ ئي صحيح دے پشان دهغه چا دے چه هغه په دی نه
پوهيږی چه دائی زياتی رکعت د ے .
وصلی الله علی النبی محمد واله وصحبه وسلم [ مجلة
البحوث ٨٧/١٥ ] .

## ۹۷- کله په ځنی خلکو دمانځه وخت راشی اودا په باغچه (اویاپه بل شی کښی وی) نو په هغه کښی مونځ کوی اودجماعت (مسجد) مونځ پریدی

* اوددی مسئلی جواب شیخ ابن باز رحمه الله داسی کړے

(دیومسلمان دپاره دانه دی جائز چه هغه چرته په باغ وغیره کښی مونځ کوی اګرکه داپه یو پاك باغ اوپاکه ځمکه وی بلکی په دی واجب دی چه دنورو مسلمانانو ورځو سره په جماعتونو کښی دالله تعالی په کورونو کښی مونځ وکړی دکومو په حقله چه الله تعالی فرمایلی : (( في بيوت أذن الله أن ترفع ويذكر فيها اسمه يسبح له فيها بالغدو والأصال * رجال لاتلهيهم تجارة ولا بيع عن ذكر الله وإقام الصلاة وإيتاء الزكاة يخافون يوما تتقلب فيه القلوب والأبصار * ليجزيهم أحسن ماعملوا ويزيدهم من فضله والله يرزق من يشاء بغير حساب )) .[ سورة النور الأيات : ۳٦- ۳۸ ] .

ترجمه : په کورونو (جماعتونو) کښی چه حکم کړے دے الله تعالی چه پورته دی کړے شی اویادکړے شی په هغه کښی نوم ددغه (الله) چه تسبیح اوپاکی وائی دغه له په دغوکورونوکښی سبا اوبیګاه .

داسی سړی دی چه نه غافله کوی دوی سوداګری اونه خرڅول اغستل دالله تعالی دذکر نه اودکولو دمانځه نه په صحیح طریقه اود ورکولو دزکات نه اویریږی دداسی ورځ نه چه اوړی راوړی به پکی زړونه اوسترګی .

ددی دپاره چه جزا اوبدله ورکړی دوی لـه الله تعالی غـوره بدلـه دهغه عملونوچه دوی کړی اوزیات به کړی دوی له دخپل رحمت اومهربانی نـه او الله تعالی رزق ورکوی چاتـه چه اوغواړی ډیـر زیات اوبی حسابه.

اوداقول دنبی صلی الله علیه وسلم : (( من سمع النداء فلم یأت فلا صلاة له إلا من عذر ))

ترجمه : (چاچه اذان واوریده او رانغلو ( جماعت ) ته نو مونځ ئی نه کیږی مګر که عذرئی و . [ داحدیث ابن ماجه دارقطنی ابن حبان اوحاکم نقل کړےاوسند ئي دمسلم په شرط د ے] .

اودرسول الله صلی الله علیه وسلم نه یو ړوند سړی تپوس وکړه ایاماته اجازه شته چه په کور کښی مونځ وکړم ؟

نو نبی صلی الله علیه وسلم ورته وویل چه ایاته اذان اوری ؟ هغه وویل : او ، نو رسو ل الله صلی الله علیه وسلم ورتـه وویـل چـه بیاخو راځه اواجابت وکړه . [ داحدیث په صحیح مسلم کښی د ے].

## ۹۸- ځنی امامان سلام اوږده وی بلکی کله ئی

ډیراوږد کړی ښیٔ طرف ته او ګس طرف ته .

اوددی په دی کار سره ځنی مقتدیان ددی سره کله موافق شی اوکله تری مخکی شی په سلام کښی .

داسی یوسوال هم دائمی لجنی ته راغلے چه په دی طریقه د ے :

* دمقتدی دامام سره په دواړو سلامونو کښې دمتابعت څه حکم دے ایاداجائز دےاوکه نه انتظار به کوی چه امام به ددویم سلام نه فارغ شی نودابه سلام وګرځوی ؟

* نوجواب ئی داسی ورکړےبخاری اومسلم په خپلو صحیحینو کښې نقل کړی چه نبی صلی الله علیه وسلم فرمایلی : (( إنما جعل الإمام ليؤتم به فإذا كبر فكبروا وإذاركع فاركعوا وإذا سجد فاسجدوا )) .

ترجمه : امام ددی دپاره مقرر شوےچه په هغه پسې اقتداء وشی چه کله هغه تکبير ووائی نو تاسوئي هم ووائي اوچه کله هغه رکوع ته لاړشی نوتاسوهم رکوع ته لاړ شئ اوچه کله سجدی ته لاړشی نو تاسوهم سجده وکړی .

اوصحیح مذهب دادےچه دواړه سلامونه دمانځه د ارکانونه یو رکن دے ، اوسلام ګرځول دمقتدی کوم چه اولنےسلام دے مخکی دسلام ګرځولو دامام نه چه دویم سلام ګرځوی نو داد امام مخالفت دےاودا ناجائز دے.(١)

## ۹۹- اوددغه مخالفاتونه دمانځه نه روسته په جمع اویوځائی دعاکول .

* دشیخ محمدبن عثیمین رحمه الله نه په دی موضوع تپوس شوےچه سوال په دی طریقه دے:

---

(١) مجلة البحوث الإسلامية ١٢ص ٩١ .

* امام دمانځه نه روسته په جمع اوتهوله سره دعـاکوی ایاداجائزه ده ؟

جواب داد ے : دابدعت دے اودهغه بدعاتو نه دے چه دنبی صلی الله علیـه وسلم نـه نـه د ے راغلے اونـه دهغـه دصحابـه کرامونـه اودمونځ کونکو دپاره داجائز اوروا دي چـه دمـانځه روستـه دالله تعالی ذکر کوی اودا ذکر په جهر هریوکس ځانله ځانله کوی اودا درسول الله صلی الله علیه وسلم نه هم دغه شان جهرا راغلے لکـه په صحیح بخاری کښې دابن عباس رضی الله عنهما حدیث د ے داوائي : (( چه رسول الله صلی الله علیه وسلم په زمانـه کښې چه بـه خلکو دفرض مـانځه نـۀ سـلام وه ګرځولـو نـو پـه ذکـر بـه اواز پورته او اوچت شولو )) .([2])

## ۱۰۰ـ ځنی مونځ کونکی په مسواکی ګوتـه پـه مـانځه کښې چه کلـه دالله تعـالی نومونـه یاصفتونـه ذکر شی نـو اشـاره کوی .

لکه داقول دالله تعالی شو : (( هو الله الذي لا إلـه إلاهـو عـالم الغيب والشهادة هو الرحمن الرحيـم )) [ سـورة الحشـر أيـة : ۲۲ ] . اوداپـه ګوتـه اشـاره کـول دایـو زیـات عمـل دےپـه مـانځه کـښې دا دلیـل تـه ضرورت لری اوکومو کسانو چه درسول الله صلی الله علیه وسلم مونځ نقـل کـړےنـو هغـوی دانـه دی نقـل کـړی چـه هغـه بـه سـبابه مسـواکی ګوتـه خوځوله .

---

([2]) فتاوی نور علی الدرب دشیخ ابن عثیمین – اوله حلقه ص ۱۲۰ .

اونه دا اهل علموذکر کړی دسوال جواب مطابق چه کوم بحث راغلی وی .

## ۱۰۱- داهم دمخالفاتو نه ده چه ځنی مقتدیان ئي

کوی چه کله امام تکبیر تحریمه ( الله اکبر) ووائي نوهغوی عزوجل ووائي بیاروسته تکبیر تحریمه ووائي اوداکار بدعت دے درسول الله صلی الله علیه وسلم دهدایت نه مخالفت د ے رسول الله صلی الله علیه وسلم روستو ولاړو کسانو ته نه دی ویلی چه تاسو داسی ووائي بلکی په دی ورته امر کړے چه په امام پسی اقتداء وکړی (( إنما جعل الإمام ليؤتم به فإذاكبر فكبروا ... )) الحدیث بخاری مسلم روایت کړے ( اومعنی ئی مخکی تیره شوی خوځله مو ذکر کړی ) .

## ۱۰۲- دایو اعتراض د ے چه په ځنو جماعتونو کښی

دماشومانو دپاره دجماعت په اخره کښی یو مستقل صف جوړه وی دصفونو په اخیره کښی نه وی بلکی دجماعت په اخیره کښی وی .

* داجهالت اوناپوهی ده ددو وجو اوکارونونه :

اوله داده : چه دماشومانو دپاره ئي یو مستقل صف جوړکړه اوپه یو صف کښی راجمع کړه اودا دلیل شرعی ته ضرورت لری چه دلیل شی ورباندی موجودوی ، که دا تری قصد کوی چه دخلکو په مینځ کښی خلك مشغوله وی او ورانی کوی نو دا خو په

طريقه اولى سره په ځانله صف كښى هم كوى ددينه چه لاجدا جدا وى (او په مختلفو صفونو كښى ولاړوى ).

دويمه وجه داده : چه دوى روسته كول په اخرى حصى دجماعت كښى نو دامخالفت دهغه امر او حكم نه دى چه په كوم كښى دصفونو په جوړه ولو شوے اودهغى په اكمال شوى .

## ۱۰۳- دسجدى مخالفات

اوكوم چه دځنوخكلو نه ليدل كيږى چه هغوى په مينځ دسجدى كښى لاس موټے كوى او ګوتى ئي راټولى كړى وى ، اوداد صحيح حديث خلاف دي :

(( أمرت أن أسجد على سبعة أعظم )) .

ترجمه : ماته حكم شوے چه زه په اوه هډوكو

( اندامونو ) سجده وكړم .[ بخارى اومسلم داحديث دابن عباس رضى الله عنهما په روايت نقل كړے ] .

(( اورسول الله صلى الله عليه وسلم به اعتماد په دواړو ورغوكاو په سجده كښى اوخوره ول به ئي ))

[ داحديث ابوداود نقل كړے اوحاكم ورته صحيح ويلے دے اوذهبى ورسره موافقت كړے ] .

اوبل حديث چه (( ددواړو لاسونوګوتى به ئي يو ځائى كولى ))

( يعنى ګوتى به ئى نژدى كولى ) [ ابن خزيمه او بيهقى نقل كړے اوحاكم ورته صحيح ويلے اوذهبى ورسره موافقت كړے ] .

(( اوقبلى ته به ئى مخامخ كولے خپلے ګوتى )) [ بيهقى او ابن ابى شيبه نقل كړے ].

## ۱۰۴- ځنې خلك په خپلو مونځونو كښې په لويه

خطاكښې واقع كيږى اوسبب دخطاء كيدو ياخوئي ډيره جلتي اوتندى وى اويائي جهل اوبى علمى وى اويااامام ته متوجه نه وى .

* اوهغه خطاء داده چه ځنې خلك تكبير احرام (اولنۍ تكبير) دامام دتكبير نه مخكې وائي اونيت تړى .

* اوداكار مونځ باطله وى پخپله باندى قطعه نظر ددى نه چه گناه گاريږى وربانذى ځكه دا دامام نه مخكې كيږى اودامام نه مخكې كيده حرام دى ځكه په دى كښى ډير نصوص اوادله راغلى چه ددى عمل نه ئى منع كړى .

* شيخ ابن عثيمين رحمه الله ويلى :

* چه كله مقتدى دامام نه مخكې شى كه دامخكې كيده په تكبير احرام كښى و نو مونځ نه كيږى او مونځ دى راوه گرځوى اودليل وربانذى داقول دنبى صلى الله عليه وسلم دے : (( إنما جعل الإمام ليؤتم به فلاتختلفوا عليه فإذا كبرفكبروا )) .

ترجمه : امام ددى دپاره دے چه په هغه پسى اقتداء وكړے شى اومتابعت ئى وكړے شى نواختلا ف مه كوئ په هغه نو چه كله هغه تكبير ووائي نوتاسوئي هم ووائى ، رسول الله صلى الله عليه وسلم وه فرمايل چه

(( اذاكبر فكبروا )) نوامر ئى په تكبير ويلوسره وكړه روسته دتكبير دامام نه نو كله چه مقتدى مخكې تكبير احرام ووائي

دتکبیر دامام نه نوداسې عمل ئي وکړه چه په هغه باندې دالله تعالی اودهغه درسول حکم نشته اونبی صلی الله علیه وسلم فرمایلی :

(( من عمل عملا لیس علیه أمرنا فهورد )) ترجمه : چاچه کوم کاروکړه چه په هغه باندې زمونږه امر نه و نو هغه رد دے ( یعنی قابل قبول نه دے اواجر اوثواب وربانډې نشته ) .

* که مقتدی دتکبیر احرام نه په غیر په بل څه مخکې شوے و لکه رکوع ته مخکې لاړ مخکې دتللو درکوع دامام نه نو مونږه وایو چه دادې واپس رکوع وکړې دامام درکوع نه روسته که واپس نه شو اورکوع ئي وه نکړه که دانه پوهیده چه یو رکن ته تلل مخکې دامام نه حرام دی نوعلماو ددغه په مانځه کښې اختلاف کړے چه ایاصحیح دے اوکه صحیح نه دے ... )

ځنو ویلی چه نه دی صحیح اوداقول راجح اوصحیح دے ځکه چه دی حرام کاروکړه په خپل مانځه کښې نو باطل شو لکه نور حرام کارونه کول په عبادت کښې چه کله ئي یوکس وکړې .

* اوهغه چاچه ویلی : چه مونځ ئي صحیح دے نوهغه وائي چه ګناه ګار دے اواعاده یعنی بیامونځ کول وربانډې نشته .[ فتوی نور علی الدرب ص ۱۶ ].

## ۱۰۵ـ ځنی دخطاګانونه چه دځنی خلکو نه اوریدلے

شی هغه مکررخطاده په ځنوایاتونوکښې اوخاص طور په سورت فاتحه کښې چه داسې وائي (( إیاك نعبد )) په سکون د دال سره

اوصحيح (( إياك نعبد )) په پيبنن سره د ے (( أنعمت عليهم )) په ځائی

(( أنعمت عليهم )) دزبر په ځايی په ( ت ) باندی پيبنن وائي اوداسی نور .

## ۱۰۶- ځنی مونځ کونکی په ټول مانځه کښی شونډی

نه خوزه وی داول نه تر اخره پوری په مانځه کښی ئي شونډی بندئي کړی وی دغه کسان دومره ډير هم نه دی .

ليکن زيات ددوی نه چپ اوغلی ولاړوی اوسورت فاتحه په زړه کښی وائي تراخره پوری ژبه بنده وی تردی پوری چه رکوع وکړی نودا ښکاره خطاده .

اوددی خلاف حديث دبخاری درباندی دلالت کوی چه په روايت دابی معمر ئی نقل کړے دا وائي : چه مونږه دخباب نه تپوس وکړه چه ايارسول الله صلی الله عليه وسلم به ماسپخين اومازيگر په مونځونو کښی قراءت کاو ؟ هغه اوويل : او، مونږه ورته وويل چه تاسو به په څه پيژانده : هغه وويل دږيری په خوزيدو اوحرکت باندی .[ فتح الباری ۲/ ۲۴۴-۲۴۵ ].

* شيخ الاسلام رحمه الله ويلی : داواجب ده چه په ذکر باندی خپله ژبه وه خوزه وی په مانځه کښی چه کله قراء ت وائي اويا نورڅه وائي خودقدرت او طاقت سره ( چه عذرئي نه وی ).

## ۱۰۷- اوددغومخالفاتونه ځنې مونځ کونکي چه کله

ښئ لاس په ګس لاس باندی ږدی نودواړه دسینی په ګئس طرف باندی کیدی اوخاص طور دزړه دپاسه .

* اوځنی پکی وائي :چه دادعاجزی اوخشوع داسبابونه د ے ځکه زړه دتهول بدن دحرکت ځائی اومرکز دےچه کله لاسونه وربـاندی دپاسه کیدی نودسوچ اوفکر نه په قراره شی اودارنګه په دی هیئت اوشکل کښی دالله تعالی په حضورکښی یو قسم انکسار د ے . [ دادهغوی دخبری خلاصه وه ] .

اوصحیح داده : چه داسی وویل شی چه غوره طریقه اوهدایت دمحمد صلی الله علیه وسلم د ےاوخشوع اوعاجزی نه حاصلیږی مګر په تطبیق درسول الله صلی الله علیه وسلم په مانځه سره کوم مونځ چه هغه په خپله کاو اوصحابوته به ئي زده کاو اوهغو ی به هم هغه شان کاو : لکه څنګه چه نبی صلی الله علیه وسلم فرمایلی : (( صلوا کما رأیتموني أصلي )) ترجمه : ( تاسو داسی مونځ کوئ لکه څنګه چه ماوینئ چه زه ئي کوم ) .
[ بخاری داحدیث روایت کړے ].

* اونبی صلی الله علیه وسلم به یقیناچه کله مونځ کاو نو ښئ لاس به ئي دګس لاس په ورغوی دپاسه کیخوده اوپه مړونداومټ باندی هم اوکله به ئي په ښی لاس ګس لاس وه نیولو اوپه سینه به ئي

کیخوده .[1]

## ۱۰۸ ـ ځنی خلك چه جماعت ته ننوځی اوصف پوره شوی وی نوښی طرف او ګس طرف ته اوګوری اویوکس ګوری چه دده سره صف جوړکړی چه په دی نهی کښی واقع نه شی

(( لاصلاة لفرد خلف الصف )) [2].

ترجمه : دیوکس ځانله دصف نه روسته مونځ نه کیږی .

چه یوکس رانه شی نودصف مینځ ته شی اوچه څوك مخی ته وی هغه دصف نه راوباسی اویائي راوریسته کړی چه صف ورسره جوړ کړی دادیوشی نه څښتی لیکن په ډیرو نورو کښی واقع شو * داددینه څښتیده چه دصف نه روسته یواځی مونځ وه نکړی لیکن په دی کارسره ئی ډیر نورکارونه خلاف وکړه : اول داچه صف ئی نیمګړے کړه .

اونبی صلی الله علیه وسلم فرمائی : (( من وصل صفا وصله الله ومن قطع صفا قطعه الله )) .

ترجمه : چه چاصف یوځائی کړه الله تعالی به ئی یو ځائی اوپیوست کړ ی اوچه چاصف قطع کړه الله تعالی به ئی قطع کړی [ داحدیث ابوداود اواحمد نقل کړے].

---

[1] ابوداود وغیرو روایت کړے صفة صلاة النبي صلی الله علیه وسلم وګوره ص ۷۹ .

[2] ابن خزیمه روایت کړ ی اولفظ ئي داسی د ے ( استقبل صلاتك ، فلاصلاة لفرد خلف الصف ) .

دويم : چه دغه كس ټول مونځ كونكى مشغوله كړه اوداځكه چه دوى به يوبل ته نژدى كيږى اودغه نيمګړتيابه پوره كوى .
دريم : دغه كس چه كم كس ئى دصف نه راويستلو نو دهغه خشوع اوتوجه ئى خرابه كړه اودهغه بهتره اوغوره ځائى نه راښكلو غير بهتره اوناغوره ته .
* شيخ الاسلام ابن تيميه رحمه الله داغوره كړے چه يوكس ته په صف كښې ځائى پيداكول مشكل شى نو يوائى به ودريږى اودجمعى سره به مونځ كوى څه ګناه پرى نشته .
اوداقول غوره او وسط دے په نورو اقوالو كښې لكه څنګه چه شيخ عثيمين رحمه الله ويلى .([1])

## ۱۰۹- دارنګه دمخالفاتونه : ځنى خلك په جهرى مانځه

كښې داعقيده لرى چه مقتدى به سورت فاتحه ترهغه پورى نه وائى تر څو چه امام نه وى ختمه كړى .
* اودايوصحيح اوصريحه واضحه دليل ته ضرورت لري .
* بلكى په دى باب كښې داحاديثو الفاظ راغلى مطابق دبحث سره ، څه مطلق معين وخت ئى دمقتدى دفاتحى دقراء ت دپاره چه دامام سره به ئى وائى نه دے خودلے بلكى اخرى اونهائي خبره داده چه مقتدى به سورت فاتحه وائي ، داحديث درسول الله صلى الله عليه وسلم ورباندى شته : (( لاصلاة لمن لم يقرأ بفاتحة الكتاب )) .

---

([1]) دروس اوفتوى په حرم مكى كښې دابن عثيمين رحمه الله ص ۹۰.

ترجمه : ( چه چاسورت فاتحه وه نه لوستله مونځ ئې نه کیږی )
[ داحدیث بخاري اومسلم نقل کړے دے ].

* اوبل داقول درسو ل الله صلى الله عليه وسلم :
(( من صلى صلاة لم يقرأ فيهابأم القرأن فهي خداج فهي خداج غيرتمام ))

ترجمه : چاچه مونځ وکړه یومونځ اوسورت فاتحه ئې پکې نه وی لوستلی نوداناقص دے ناقص دے ناقص دے پوره نه دے.
( یعنی نیمګړی دے ) [ داحدیث مسلم روایت کړے ].

* اوبل داقول درسول الله صلى الله عليه وسلم :
(( لاتتنازعوني إلابأم القرأن ... ))

ترجمه : ( زماسره منازعه اوبحث مه کوی په غیر دسورت فاتحی نه ) ( یعنی زماسره نور قراء ت مه وائی دسورت فاتحی نه په غیر چه سورت فاتحه وائی ) په غیر ددینه نور احادیث اواثار هم شته .

اود شیخ ابن باز رحمه الله نه ددیتپوس شوی چه مقتدی دامام نه مخکی سورت فاتحه وائي نو څه حکم ئې دے نو هغه جواب ورکړے چه ددی څه مانع نشته ( یعنی څه پروانه کوی ) .

## ۱۱۰- اودادمخالفاتو نه ده چه ځنی خلك جماعت ته

راشی اوامام په حالت دپاڅیدوکښی وی مثلا دویم رکعت ته اویا دریم رکعت ته نو چه دچانه څه مونځ شوے وی اوراشی نوتکبیر تحریمه ووائي اومونځ شروع کړی اوامام لا پاڅیدلے نه وی پوره اومکمل .

* داکارد امام نه مخکی والے ګڼلے شی ځکه دغه کس رکعت شروع کړه مخکی ددینه چه امام يي شروع کړی اونبی صلی الله عليه وسلم فرمائي : (( أيهالناس إني إمامكم فلاتسبقوني بالركوع ولابالسجود ولابالقيام ولابالقعود ولابالإنصراف ))
ترجمه : ( ای خلکو زه يقيناستاسو امام يم نوزمانه مه مخکی کيږی په رکوع کښی اونه په سجده کښی اونه په پاڅيدو ودريدوکښی اونه په کيناستلو کښی اونه په سلام ګرځولو کښی) [داحديث احمداومسلم نقل کړے].
* ددی پشان مونږه ته داخبره معلومه شوه چه کله امام پوره اوکامل ودريده نوددغه روسته به په مانځه کښی داخليږی چه دامام نه مخکی نه شی .

## ۱۱۱ - ځنی بيماران اومريضان چه ديو اړخ اوطرف

نه عاجزه شی چه مونځ وکړی نو په ګوته اشاره کوی .
* شيخ ابن عثيمين رحمه الله ويلی :په ګوته اشاره کول چه ځنی بيماران ئی کوی نوداصحيح نه ده اوددغی ماته په کتاب اوسنت اواهل علموپه اقوالوکښی څه اصل نه دے معلوم .([1])

## ۱۱۲ - ځنی خلك جماعت ته داخل شی اودماخوستن

مونځ ئی نه وی کړے اوخلك په جمع ولاړوی تراويح مونځ کوی نودغه روسته راغلی خلك دجماعت يوګوټ ته جداشی اويو

---

([1]) درساله المريض وطهارته نه نقل کړے شوے .

طرف ته دماخوستن مونځ وکړی اوبیادامام سره داخل شی اوپه تراویح کښې ورسره شریك شی .

اودوی عقیده لری چه دامام نه روسته ددوی مونځ نه کیږی په تراویح مانځه کښې ، داعقیده خطاده اوصحیح ددی جواز دے

* دبحوثو ددائمی لجنی نه ددی مسئلی تپوس شوی چه تاته ئي سوال اوجواب وړاندی کو .

* **سوال** : ایاداجائز ده چه یوکس فرض مونځ په هغه چاپسی وکړی چه هغه تراویح کوی اوکه نه ؟

**جواب** : او ، جائزه ده چه فرض مونځ په هغه چاپسی وکړی چه تراویح کوی دهغه دلائلو په وجه چه کوم دفرض مونځ کونکی اقتداء په نفل کونکی پسی دجواز راغلی اوځنی ددغودلائلو نه هغه حدیث دے کوم چه بخاری اومسلم دجابررضی الله عنه نه روایت کړے چه معاذ رضی الله عنه به دنبی صلی الله علیه وسلم سره دماخوستن مونځ وکړه اوبیابه خپل قوم ته راغلو اوهم دغه مونځ به ئي هغوله وکړه ( یعنی امامتی به ئی ورله کوله اوهغوی به پسی فرض مونځ کاو ) . وصلی الله علی نبینامحمد وعلی اله وصحبه وسلم (۱) .

## ۱۱۳- ځنی خلك چه کله ئی څوك مړ شی نوځنی

خلك تری ځنی اعمال صالحه کوی کوم چه مړی ته نفع اوفائده

(۱) مجلة البحوث الإسلامية ١٥/ ٧٩ .

رسو ی لکه حج عمر ه اودعاشوه * او ، داجائزدی لکه صحیح دلائل ورباندی دلالت کوی .
* لیکن هغه خطاچه خلك پکی ځنی واقع دی چه دوی دمړونه هره ورځ مونځ کوی اویاپه هره هفته اوجمعه کښی خاص معین اومعدود رکعتونه کوی ، یو جواب کښی چه د اللجنة الدائمة للبحوث العلمية دے چه دیوی ښځی ځوی مړ دے اوهغه شروع ده چه دهغه دپاره هره جمعه دوه رکعاته مونځ کوی .
* لجنی ورته داسی ویلی :
* هرچه ئي مور دهری جمعی دورځی دمانځه نه روسته دخپل ځوی دپاره دوه رکعاته کوی نودانه دی جائز ، ځکه الله تعالی نه دی جائزکړی بلکی دابدعت دے بلکی دهغه دپاره دعااوصدقه جائزده اوپکار ده (۱) .

## ۱۱۴ - ډیری ښځی په جهر ی مانځه کښی په پټه

اوغلی قراء ت وائي اوددینه هم ځان ساتی چه په خپله ئي خپل ځان ته واورئي اودادسنت خلاف ده ځکه په جهری مانځه کښی جهر کول دادرسول الله صلی الله علیه وسلم نه ثابت سنت دي .
* شیخ صالح الفوزان حفظه الله دخپلی خبری نه روسته داسی ویلی : (په قراء ت سری اوجهری کښی دسړی اوښځی څه فرق نشته ، دشپی مونځ جهری
دے اودورځی مونځ سری دے .

---

(۱) مجلة البحوث الإسلامية ١٢٠/١٤ .

لیکن که چرته دښځی په خواکښی ځوك و چه سړوئي اواز اوریدو نوبیا به ورو اوغلي قراء ت وائي اواواز به وربـاندی نـه اوچته وی ددی یری نه چه ځوك وربـاندی په فتنه کښی پری نه وزی اوکه چرته ئي سړی په خواکښی نـه و اوقـراء ت ورلـه نـه اوریدو نو بیاځه پروانشته که دښپی په مـانځه کښی قـراء ت په جهر اوپه زوره سره ووائي .(١)

## ١١٥ـ ځنی خلك چه کله اقامت وشی اوبیائی څه کار

مشغوله کړی چه په مانځه شروع وکړی اوځه لږ وخت پری ووځی نواقامت بیااعاده کوی اوپه دویم کرت ئي کوی .

اوداخطاده صحیح داده چه دویم کرت اقامت وه نه کړی اوپه اول کرت اقامت باندے اکتفاء وکړی .

په دی باندے دلیـل دبخـاری حدیـث دے چـه پـه صحیـح کښی روایت کړے اوباب ئی وربـانـدے تړلے [ الإمـام تعرض لـه الحاجـة بعدالإقامة ] ( داقامت نه روسته چه کله امام ته څه کار پیښ شی )

بیـائی دانـس رضـی الله عنـه حدیث راوړ ے دے : انـس رضـی الله عنه وائي : (( أقيمت الصلاة والنبي صلى الله عليه وسلم يناجي رجلا في جانب المسجد فما قام إلى الصلاة حتى قام القوم )) .

ترجمه : (دمانځه دپاره اقـامت وشـو اونبی صلـی الله علیـه وسلم دیوسړی سره جرګه کوله دجماعت په یوطرف کښی نـو مـانځه تـه پانه ځیده ترهغه پوری چه خلك پاځیده ) .[ فتح الباري ٢/ ١٢٤ ].

(١) دنور على الدرب فتوى دفوزان اوله حلقه ص ٢٠ .

## ۱۱۶- ځنې مونځ کونکي چه کله دجنازې مونځ کوي

نودڅلورم تکبیر دویلو نه روسته چپ شي بیا سلام وه ګرځوي او داګمان کوي چه داچپ کیدل صحیح دی .

* اوصحیح داده چه دڅلورم تکبیر نه روسته به دعاکوي دعبدالله بن ابی اوفی حدیث دے (( چه دده لور مړه وه اوجنازه ئي پرې کوله نو څلور تکبیر ئی وویل اودڅلورم تکبیر نه روسته ئی ددو تکبیرو دمابین په اندازه ودریده چه دعائي کوله بیائي وویل چه رسول الله صلی الله علیه وسلم به هم دغه شان عمل په جنازه کښی کاو )) [ داحدیث احمداوبیهقی روایت کړے ].

اویولفظ کښی داسی دي چه دڅلورم تکبیرنه روسته به لږ ودریده .

## ۱۱۷- دځنومونځ کونکو داعقیده او نظر وی چه صف

دګوتو په څوکو جوړیږی ( یعنی دخپودګوتو څوکی برابره وی اویوشان کوی )

* اودادسنت خلاف ده ځکه په حدیث کښی صف جوړه ول په پړکو(ګټکی ) او اوږو جوړه ولو سره جوړیږی .

* دنعمان بن بیشر رضی الله عنهما نه روایت دے داوایي : چه رسول الله صلی الله علیه وسلم خلکو ته رامخامخ شو اوراوه ګرځیده اووی فرمایل : (( أقیموا صفوفکم ثلاثا ، والله لتقیمن صفوفکم أولیخالفن الله بین قلوبکم ))

ترجمه : ( سیده اوبرابر کړی خپل صفونه دائی دری ځل وه فرمایل ، قسم په الله تعالی چه خامخا به تاسو خپل صفونه جوړه وی اویا به ستاسو په زړونو کښی مخالفت اوبی اتفاقی راشی ( یعنی زړونه به مو مخالف شی ) .[ داحدیث احمد ابوداود او ابن حبان نقل کړے ].

* دشیخ ابن عثیمین رحمه الله نه دصحیحو صفونو جوړه ولو تپوس شوی چه ایادادخپو اوقدمونو دګوتو په سرونو جوړیږی فقط ؟

اوکه نه دپړکو ( ګټکو ) په یوشان کولو اوبرابره ولو سره ؟

* نوهغه رحمه الله داسی جواب کړے :کومه چه صحیح اومعتمده طریقه ده دصفونو په جوړه ولو کښی نو هغه دپړکو ( ګټکو ) دیوبل سره برابره ول دی اویوشان کول دي نه داچه دګوتو سرونه یوشان کړی اوداځکه چه بدن په پړکی ولاړ دے اوهر چه ګوتی دی نوداپه قدمونو کښی مختلف دی یوقدم اوږدوی اوبل لنډ اوورکوټې وی نو برابری اومساوی په غیر دپړکونه نه راځی .

اوهرچه دپړکواوګټکو تساوی اوبرابری ده نودا بغیر دشك نه ده صحابه کرامو نه نقل دی چه هغوی به یو بل سره پیوست کول اولږول به ئي اوصفونه به ئی جوړه ول په اتصال دپړکودیو بل سره

يعنى هريوكس به خپل پړكى دبل ګاونډى ملګرى سره وه لګاو چه برابرى ښه ثابت شي نوددى وجى نه چه كله صفونه پوره شى اوخلك ودريږى نودهر يوكس دپاره پكار دى چه خپل پړكى دبل ملګرى دپړكى سره متصل اوپيوستكړى ددى دپاره چه تساوى اوبرابرى اويو شان والى محقق شي فقط اوددى معنى دانه ده چه دا لازم ده چه دا اتصال اوپيوستون تراخردمانځه پورى پاتى شى په ټول مانځه كښى .([1])

## ۱۱۸- ځنى خلك پـه مخكينواوروستنو سنتوكښى

قراء ت په زوره جهر باندى وائي (په غير دشپى دتهجدو نه) مثال لكه دماسپخين اوماښام په نفلو (سنتوكښى) جهر كوى داقسم جهر كول اوپه زوره قراء ت لوستل دنبى صلى الله عليه وسلم نه مضبوط اوثابت دليل ته ضرورت لرى .

## ۱۱۹- ځنى مونځ كونكى پـه التحيات تشهد كښى

داسى وائي : (( اللهم صل على سيدنا محمد وعلى أل سيدنا محمد كماصليت على ...))

د (سيدنا) لفظ زياته وى اودغه صلى الله عليه وسلم زمونږه دپاره شرف اوپه دغه فخر دے بلكى دټولو خلكو سيد اوسردار دے .

* رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايلى :

(( أناسيدالناس يوم القيامة ... ))

---

([1]) درسونه اوفتاوى دشيخ عثيمين رحمه الله په حرم مكى كښى ص ۷۵ .

ترجمه : ( زه سردار اومشر دټولو خلکو يم په ورځ دقيامت باندي ). [ داحديث مسلم اوبخاري نقل کړے ] .
ليکن مونږه ته ئې امر کړی چه مونږه داسې مونځ وکړو لکه څنګه چه به هغه کاو فرمايلی دی :
(( صلوا كما رأيتموني أصلي )) .
ترجمه : ( تاسو داسې مونځ کوی لکه څنګه چه ماوينئ چه زه مونځ کوم ) ( يعنی زما په شان اوزما په طريقه کوی ) [ داحديث بخاری نقل کړے ].
* اوځنو محقيقينو علماو ذکر کړی چه درسول الله صلی الله عليه وسلم نه دسيدنا لفظ په التحيات کښې نه دے ثابت سره ددينه چه ډير الفاظ اوصيغې جملې دتشهد مختلفې راغلی دي
* اوشيخ صالح الفوزان ديو سوال جواب هم کړے ددی بحث اومسئلې متعلق چه هغه په دی حقله داسې ويلی : ( هيڅ يو عاقل ددينه انکارنه کوی چه نبی صلی الله عليه وسلم دادم عليه السلام داولاد مشر اوسردار دے ځکه هر عاقل په دی خبره ايمان لری چه نبی صلی الله عليه وسل دټول بشر سيد دے اودسيد دپاره شرف اوطاعت اودحکم منل وی اونبی صلی الله عليه وسلم طاعت اوخبره منل داد الله تعالی خبره منل دی الله تعالی فرمائی : (( من يطع الرسول فقد أطاع الله )) .[ سورة النساء الأية : ٨٠ ]
ترجمه : ( چاچه درسول الله صلی الله عليه وسلم تابعداری اوخبره اومنله اوتسليم ئي کړه نودغه دالله تعالی خبره وه منله ) اومونږه اوزمونږه نه غير نور مسلمانان هم په دی کښې شك نه کوی چه

نبی صلی الله علیه وسلم زمونږه سیداوسردار دے اوزمونږه غوره اوافضل رسول دے دالله تعالی په نزد اوهم ددی اطاعت کیدلے شی چه په څه حکم کوی دغه صلی الله علیه وسلم ، اوزمونږه دعقیدی تقاضاهم داده چه هم داد طاعت اوسرداری مستحق دے اومونږه دهغه دقول اوفعل عمل نه تجاوز وه نه کړو اودارنګه دهغه دعقیدی نه اوکوم څه چه مونږه ته دمانځه په طریقه اوکیفیت کښی خودلی دی چه کوم دتشهد طریقه ده نومونږه به داسی وایو: (( اللهم صل علی محمد وعلی أل محمد کما صليت على إبراهيم وعلى أل إبراهيم إنك حميد مجيد )) .

ترجمه : ( ای الله رحم وکړی په محمد صلی الله علیه وسلم باندی اوپه ال ( تابعدارو ) دمحمد صلی الله علیه وسلم باندی لکه څنګه چه تارحم کړے په ابراهیم باندی اوپه ال ( تابعدارو ) دابراهیم علیه السلام باندے یقیناته ستایلے شوی ئي اولوی ئي .

اویاددے پشان نور الفاظ کوم چه ددرود الفاظ دی اوطریقه ئی ده په نبی صلی الله علیه وسلم باندے اوماته داعلم اوپته نشته په کوم طریقه چه سوال کونکی ذکر کړی چه هغه داسی دے :
(( الهم صل على سيدنا محمد وعلى أل سيدنا محمد )) .

نوکله چه دا الفاظ دنبی صلی الله علیه وسلم نه وارد نه دی اوثبوت ئي نشته نوغوره داده چه داقسم درود په نبی صلی الله علیه وسلم باندے وه نه ویل شي چه کوم دهغه نه نه وی راغلي اومونږه هغه الفاظ اودرود په هغه ووایو چه هغه مونږه ته خودلے وی .

[ مختصر داخر پوری فتاوی نو ر علی الدرب دشیخ فوزان ص ۱۳- ۱۴ ].

## ۱۲۰- دغتهواولویو مخالفاتونه داده چه ځنی خلك په روژو نیولو ډیر حرص کوی اوروژی نیسی لیکن مونځ نه کوی .

* شیخ ابن عثیمین رحمه الله ویلی دخپلو خبرو په حال کښی : یوانسان ته داسی بی حده همیشه تعجب دے چه ځنی خلك به بیامومی چه حرص به ئي دروژو په نیولو ډیر وی لیکن دمونځ حرص به نه کوی تردی پوری ماته ویل شوی دی چه ځنی خلك روژی نیسی لیکن مونځ نه کوی .

* اوزه الله تعالی ګواه کوم چه دغه کس چه روژی نیسی اومونځ نه کوی نو روژه ئي هم باطله ده اوقبوله نه ده دکومی پوری چه ماته ددغی علم دے چه قران کریم اوسنت احادیث اودصحابو رضی الله عنهم اقوال اوصحیح رائي اونظر ورباندی دلالت کوی هغه داچه مونځ څوك نه کوی نوکافر دے اوداسی کفر چه دملت نه ئی اوباسی اوکله چه کافر وی اوکفر دملت نه ویستونکے وی نوروژه ئی نه قبلیږی اونه صدقه ، اونه ددغه حج اوهیڅ عمل صالح ورته څه نفع اوفائده بالکل نه رسوی .

الله تبارك وتعالی فرمائي : (( وقدمنا إلى ماعملوا من عمل فجعلناه هباء منثورا )) [ سورة الفرقان ،ایت : ۲۳ ] .

ترجمه :( وروړاندی به شو مونږ یامتوجه به شو هغه څه ته چه دوی کړی وی څه عمل نو پس وه به ګرځوو اوکړو به مونږه هغه لره دوړه اوګډدخور شوی )

( يعنى عمل به ئى ختم شى اوهيڅ فائده به ورته وه نه رسوى ) .
الله تعالى فرمائي : (( و ما منعهم أن تقبل منهم نفقاتهم إلا أنهم كفروا بالله وبرسوله )) [ سورة التوبة : الأية : ٥٤ ]
ترجمه : ( اونه دى منع کړى دوى ددينه چه قبولى کړے شى ددونه نفقى اوورکړے ددوى مګر دوى کفر کړےو په الله تعالى اودهغه په رسول اوروسته ورپسى ايت داسى دے چه (( ولايأتون الصلاة ... )) چه مانځه له به نه راتله مګر سست ) .
هغه نفقات اوخيراتونه چه دهغى نفعه اوفايده متعدى ده يعنى فائده رسوى دكافرنه نه قبليږى چه کله ئي ورکړى سره ددينه چه نفع فايده رسوى نوځنګه به هغه قاصر اوغير متعدى عبادت قبول شى چه هغه روژه ده ؟ او ، داخوپه طريقه اولى نه قبليږى .
## ۱۲۱ ـ ځنى خلك په ( طائره ) جهاز کښى سفر کوى
اودمانځه وخت داخل شى ياددو مونځونو وخت داخل شى هغه چه جمع کيدلے شى ( يعنى جمع بين الصلاتين ) اودمانځه وخت ووځي خاص کر چه کله سفر اوږد وى اوياخو وخت لنډتنګ وى لکه دسهار مونځ .
* نوددى کس داخيال وى اوګمان کوى چه په دى حال کښى څه ګناه په دى باندى نشته اوحکم ديته نه دے متوجه .
* داخبره خطاده په دى حال کښى په دى لازم دى چه مونځ دخپل قدر اووسعى مطابقت وکړى .
* دائمى لجنى ته يو سوال راغلى چه په دى ډول دے

* چه کله زه په هوائي جهاز کښې سفر کوم اودمانځه وخت شي نودازما دپاره جائزه ده چه په دغه جهاز کښې مونځ وکړم ؟
* نو لجنې داسې جواب ورکړے :

( الحمدلله چه کله دمانځه وخت شي اوجهاز هم خپل دغه شان روان وي اوداويره وي چه دجهاز دکوزيدو نه مخکې به ددې نه لمونځ قضاء شي ( که چرته ئي په جهاز کښې ونه کړي ) نو پدې حال کښې دټولو علماو پدې اجماع او اتفاق دے چه پدې سړي باندې په جهاز کې مونځ ادا کول فرض دي دخپل وس اوطاقت مطابق به رکوع سجده اوقبلې ته مخ ګرځوي دا ايت کريمه وباندې دليل دے :(( فاتقوا الله مااستطعتم ))[ سورة التغابن ايت : ١٦ ]

ترجمه : ( دالله تعالى نه دخپل طاقت په اندازه وويريږئ ) اوبل داحديث درسول الله صلى الله عليه وسلم : (( وإذا أمرتكم بأمر فأتوا منه ما استطعتم )) .

ترجمه : ( اوکله چه درته زه په يوکار امروکړم نوهغه ته راشئ ( يعني عمل پرې وکړئ ) چه څومره مو طاقت وي ) .

اوچه کله پته لږئ چه جهاز دمانځه دوخت دوتلو نه مخکې کوزيږي په دومره مقدار کښې چه مونځ پکې کولے شي اويادغه مونځ دبل مانځه سره جمع کيږي لکه دماسپخين مونځ دمازيګر سره اويادماښام دماخوستن سره ، اوياداپته اومعلومات وي چه ددويم اواخرې وخت دوتلونه مخکې جهاز کوزيږي په دومره مقدار کښې چه مونځ پکې کولے شي نودجمهورو اهل علمو دا

رائي ده چه په جهاز کښې مونځ کول جائزدی ځکه چه دمانځه دکولو امر داپه دخول دوخت سره شوی اوامر موجود دے) دامختصر شوی خبره وه چه دی ځائی پوری ختمه شوه .

## ۱۲۲- چه کله تری جهری مونځ قضاء شی اوبیاورته

یاد نشی لیکن دنورختلونه روسته نودابیاپټ قراء ت وائی سری اوجهرپکی نه کوی اوداګمان ئی چه دجهر اوپه زوره دقراء ت ځائی او وخت فوت شوے دے بلکی ځنی خلك چه ځوك جهر کوی نورئي بدګڼي .

* اوصحیح خبره داده چه کله جهری مونځ وی نوجهر پکی پکار دے اګر که دائي دورځی قضاء راوړی چه کله تری هیر شوے وی اویاوده په خوب کښې پاتی شوے وی .

دارنګه په سری اوپټ مانځه کښې به جهر نه کوی چه کله تری سری مونځ پاتی شوے وی اګر که دشپې ئي قضاء کوی دعام حدیث په وجه : (( من نام عن صلاة اونسیها فلیصلها متی ذکرها لاکفارة لها إلاذلك )) .

ترجمه : څوك چه دمانځه نه وده شو اویائي هیرکړه نو چه کله ورته یادشه ودی کړی بله کفاره ئي نشته مګرهم دغه کول دی .

## ۱۲۳- ځنی خلك په مانځه کښې سستی کوی

اوقصدن ئي دخپل وخت نه وروسته کوی بی عذراودائي ګمان وي چه په دی روسته اداکولو ئي دګناه نه خلاص شوم اودایو لوی جهل اوغټه ګناه ده .

* شيخ محمد بن عثيمين رحمه الله ويلي : (که چرته يوکس دخپل وخت نه مونځ په غير دعذر شرعي نه روسته کړي نومونځ ئي نه کيږي ).
* لکه يوسړے قصدوکړي چه سهار مونځ نه کوي مګر دنورختلو نه روستو به دسهار مونځ کوي نودغه مونځ ئي نه قبليږي اوقضائي هم ورله جائزنه ده ځکه په قضاکولو کښي دده دپاره څه فائده نشته په دغه کس باندي توبه ويستل لازم دي چه الله تعالى ته توبه وه باسي ځکه توبه مخکني ګناهونه ختمه وي .
اوداخبره شيخ الاسلام ابن تيميه رحمه الله هم غوره کړي ده (ځکه چه يو انسان دمانځه دروسته والي اوتاخير قصدوکړي دخپل وخت نه نوددغه نه نه قبليږي اګرکه دغه زر کرته هم وکړي ) . [ دامختصره خبره وه دهغه ] [1] .
## ۱۲۴- په ځنوخلکو دا اعتراض دے چه سره ددينه چه
جماعت ورته نژدي هم وي خوپه دفترو کښي مونځونه کوي .
* په دي موضوع د دائمي لجني فتوى نقل کومه خومخکي ددغي متعلق تري دسوال هغه خلاصه ذکر کوم :
* په دفترکښي داخل دهغه مانځه څه حکم دے چه کله دماسپخين و خت واجب شي نو ښه ثقه مضبوط سړے پاځيږي قاري هم وي اوښه خيره شکل ئي وي اوبياخلك راجمع کړي اوبيا مونږه په يوفرش اومستعمل تيار ځائي کښي چه دمانځه
[1] دروس اوفتاوي په حرم مکي کښي دابن عثيمين ص ۳۸/۳۷ .

دپاره ئي جوړکړی وی اوچه کوم کسان دفتر ته راغلی وی مراجعین یانور خوسره ددینه چه دفتر ته نژدی جماعتونه شته مګر زمونږه په دغوکښی دجمع مونځ فوت کيږی اوهم دغه شان ډیر مراجعین اوددفتر کارکونکی چه کله مونځ په جماعت کی کيږی نودوی په دی وجه پاتی کيږی چه دوی په نورو ځایونو کښی مونځ کړےئی ، اوکوم مونځ چه مونږه په دفتر کی وکړو نوهغوی زمونږه سره په دغه جمعه کی شریك کيږی اوجمع کوی .

* نولجنی داسی جواب ورکړے :

* کله چه واقعی خبره هم دغه شان وی څنګه چه ذکرشوه چه دفتر ته نژدی جماعتونه موندے کيږی اوشته نوداپه تاسو واجب ده چه یوجماعت ته ووځی اوپه جمع پکی مونځ وکړی دهغوعامو دلائلوپه وجه چه کوم په وجوب دجمعی دمانځه دلالت کوی په جماعتونو کښی اودهغه وعید اوعذاب په وجه چه څوك دجماعت نه وروسته کيږی اونه ځی ورله ، اوکوم مونځ چه تاسو په دفتر کښی دمصلحت په بناکوی چه کار کوی اونور ددفتر عمله اوکارکونکی درسره کوی دماسپخین دمانځه په وخت کښی نوداستاسو دپاره څه عذر نه دے . (۱)

## ۱۲۵ـ دمخالفاتونه داهم ده چه دځنو خلکو داعقیده اوفکروی چه په جمع اوجماعت سره مونځ کول داپه کور کښی وی اوپه سفر کښی نشته .

---

(۱) دفتوی شمار ۳۳۸۳ په تاریخ ۱۴۰۱/۱/۱۱ ه .

* شیخ محمد بن ابراهیم رحمه الله تعالی ویلی : دجعی دمانځه وجوب داپه کور پوری خاص نه دے نبی صلی الله علیه وسلم په کور اوسفر دواړو کی ورباندی همیشوالے کړے اوپه سفر کی ورباندی هیڅ خلل اوکمی نه دے کړے اوبیاعام دلائل سفر له هم شامل دي لکه څنګه چه حضر اوکورله شامل دي هیڅ فرق پکی نشته .

چه سفر کی کله دوه یازیات کسان وی نوځانله مونځ به نه کوی بلکی په جمع سره به ئي کوی .

اودیوکس مونځ ځانله دجمع اودملګرونه غیر نه دے جائز .

* بیائي دارنګه ویلی چه دلته یو مسئله ده اوهغه داده چه کله یو مسافر جماعت ته راشی اوداوه رکعته کوی نو په ځنی وخت کښی ورباندی څلور فرض کیږی چه کله جماعت ته راشی اونور ملګری نه وی نوپه جمع به څلور دنورو خلکو سره کوی ځکه واجب په سنتو مخکی وی نوځانله به دوه رکعته نه کوی ځکه الله تعالی په سفر اوپه حضر کورکښی جمع فرض کړے اویو قول خوداد ے چه جمع شرط ده نوبیاخوډیره تاکیدی اوپوره خبره شوه . (۱)

## ۱۲۶- دغتهواواهمو خطرونونه چه ډیر خلکو پکی

تساهل اوسترګی پټی کړی دی هغه داد ے چه یوکس ددواړو دښځی اوخاوند نه چرته هم مونځ نه کوي اوپه دی باندی دلیل

(۱) فتوی محمد بن ابراهیم ۲/ ۲۶۵-۲۶۶ .

قائم شوی وی اوپه مونځ نه کولو ئي قصداوهميشوالے کړے وی بالکل په غير دځه عذرنه .
* محترم شيخ عبدالعزيز بن باز رحمه الله ويلي په جواب دتارك الصلاه کښې چه څوك مونځ نه کوی .
* هغه کس چه قصدا مونځ پريدی اونه ئی کوی داکافر دے لوی کفر ئی کړے په صحيح قول دعلماو کښې داخو چه کله ئي په وجوب قائل وي اوکه په وجوب نه وی قايل نو بياخو بالاتفاق کافر دے دټولو علماو په نزد باندی داحديث وربانذی درسول الله صلی الله عليه وسلم دليل دے : (( رأس الأمر الإسلام وعموده الصلاة وذروة سنامه الجهاد في سبيل الله )) .
ترجمه : ( سرددين خو اسلام دے اوستن ئي مونځ دے اوپورته والے اوبلندی ئي دالله تعالی په لار کښې جهاد دے ) .[ داحديث امام احمد اوترمذي په صحيح سندسره نقل کړے ] .
* اوداقول درسول الله صلی الله عليه وسلم :
(( العهدالذي بيننا وبينهم الصلاة فمن تركهافقد كفر )) .
ترجمه : ( زمونږه اوددوی په مينځ کښې چه کوم عهد دے هغه خو مونځ دے پس چاچه مونځ پريخوده نو يقينا کافر شو ) [ امام احمد اواهل السننو په صحيح سندسره داحديث نقل کړے ].
اوداځکه چه انکار کونکی دوجوب دمانځه نه داخو دالله تعالی اودهغه درسول صلی الله عليه وسلم اوداهل علمو داجماع اودايمان دروغژنه ونکی دی نوددی کفر ډير لوی دے دهغه چا دکفرنه چه مونځ په سستی اوسپکوالی سره پريدی په دواړو

حالاتوکښی دمسلمانانو په مشرانو اوحاکمانوواجب دی چه دمانځه په پریخودونکی توبه اوباسی اوتوبه ګارئي کړی که توبه ئي ویستله خوښه ده اوکه نه بیابه ددغو دلائلو په وجه قتلولے شی چه کوم دتارك الصلاه په حقله راغلی دي .

اودا واجب اوفرض ده چه دبی نمازه ( تارك الصلاة ) سره چه مونځ نه کوی قطعه دتعلقاتو وکړی اوځانله پریخودلے شی اودعوت ئي هم قبلولے نشی ترڅو چه ئی توبه نه وی ویستلی الله تعالی ته ددغه کار نه خوسره ددینه نصیحت ورته کول اودعوت حق ته ورله واجب دی اودعذابونو نه ئي يره ول کوم چه په تارك الصلاة ( بی نمازه ) مرتب کیږی په دنیااو اخرت کښی شاید چه توبه اوباسی اوالله تعالی عزوجل ئي توبه قبوله کړی [ کتاب الدعوة ص ٩٣ ] .

## ١٢٧- کله چه موذن اذان کونکی په خپل اذان کښی

( الصلاة خير من النوم ) ووائی نوروسته ورپسی ځنی خلك :

( صدقت وبررت ) وائي .

* اوسنت داده چه داسی ورپسی ووائي لکه څنګه چه اذان کونکی وائي لکه عام قول درسول الله صلی الله علیه وسلم دے :

(( إذاسمعتم المؤذن فقولوا مثل مايقول )) إلخ

( کله چه دموذن نه اذان واورئ نوهغه چه څه وائی تاسوئي ورپسی وائي پشان دهغه دويلو ...)

مګر په ( حي على الصلاة اوحي على الفلاح ) کښی به ( لاحول ولا قوة إلابالله ) وائي لکه په صحیح حدیث کښی راغلی .

* نوبناپه دی روسته به وریسی په الصلاة خیر من النوم کښی داسی وايي لکه څنګه چه ئي اذان کونکی وائي .

## ۱۲۸ - اودارنګه په اقامت پوری چه کوم تعلق لری

نوهغه داچه څنی خلك كله مانځه ته پاڅی نوداسی وائي ( قائمين لله طائعين )

ترجمه : خاص الله تعالی ته تابعداروددریدونکی یو .

* سنت داده په اقامت کښی چه داقامت کونکی تابعداری به داسی کوی لکه څنګه چه ئی دموذن کوی اوداقامت نه روسته به هم داسی وائي لکه څنګه چه ئي داذان نه روسته وائي ځکه نبی صلی الله علیه وسلم اقامت ته اذان ویلی لکه په دی قول کښی (( بين كل أذانين صلاة )) دهر دو اذانونو په مینځ کښی مونځ دے .

## ۱۲۹ - څنی دهغه مخالفاتونه چه کوم په اذان پوری

متعلق دی هغه دادی څنی خلك چه کله اول کرت اذان واوری نو داسی وائي( حي الله ذكر الله )

* اوسنت خو دادی چه دموذن متابعت وکړی اوچه اذان کونکی څه وائي هم هغه ورسره تکراره وی اودحي على الصلاة اوحي على الفلاح په ځائي : ( لاحول ولاقوة إلابالله ) ووائي اوچه کله موذن اذان ختم کړی نودادعا به وائي (( اللهم رب هذه الدعوة التامة ... تراخره پوری )) .

## ۱۳۰- اوداذان دمخالفاتو نه ځنی اذان کونکی د حي

على الصلاة او حي على الفلاح نه روسته ، حي على خير العمل ، وائي .

اودا زيادت بدعت دے کوم چه دنبی صلی الله علیه وسلم نه بالکل ثابت نه دے کله چه ئي داذان تعليم اذان کونکو ته ورکاو .

امام بیهقی رحمه الله داسی ویلی : ( وهذه اللفظه حي على خير العمل ، لم يثبت عن النبي صلى الله عليه وسلم فيما علم بلالا وأبامحذورة ونحن نكره الزيادة فيه وبالله التوفيق ) .

ترجمه : ( دا لفظ چه حي على خيرالعمل دے مونږه ئی په دی کښی بد ګڼو ځکه دنبی صلی الله علیه وسلم نه نه دے ثابت کله چه بلال اوابامحذوره رضی الله عنهما ته ئي د اذان تعليم ورکاو ).[ سنن البيهقی الکبری ۱/ ۴۲۵ ] .

## ۱۳۱- دځنی خلکونه داهم اوریدے کیږی چه کله

اقامت وشی نوداسی وائي ( اللهم أحسن وقوفنابين يديك ) الله ستامخی ته مو ودریده بهتره کړه بلکی ځنی خلك ئی چه کله په اقامت کښی وه نه وائي نو دتکبیر تحریمه نه ئی مخکی وائي .

اودا دسنت خلاف کار دے .

* بلکی سنت دادی چه داقامت کونکی تابعداری وکړی اوچه کله فارغ شی نوداسی دی ووائي :

(( اللهم رب هذه الدعوة التامة والصلاة القائمة أت محمدا الوسيلة والفضيلة وابعثه مقاما محمودا الذي وعدته ))

ترجمه : ( ای الله ددی پوره بلنی اودعوت ربه اوددی ادا کیدونکی مانځه ربه ، محمد صلی الله علیه وسلم ته وسیله اوبهتری ورکړی اوهغه صفت شوی ځائی ته ئی پورته کړی چه تاورسره وعده کړی ).

## ۱۳۲- څوك چه اذان واوری نودهغه دپاره داسنت ده

چه دموذن سره دهغه په اذان کښی تابعداری وکړی اوورسره ئی وائي اوورپسی دادعاووائي : (( اللهم رب هذه الدعوة التامة والصلاة القائمة أت محمدا الوسيلة والفضيلة وابعثه مقاما محمودا الذي وعدته )) . ترجمه ئی لږ ه مخکی تیره شوی ده .

* اوداحدیث ورباندی دلیل دے چه نبی صلی الله علیه وسلم فرمائي چاچه اذان واوریده اودادعائی وویله : (( اللهم رب هذه الدعوة التامة ... )) تراخره پوری نو دقیامت په ورځ ورله زما شفاعت (سفارش) لازم شه . [ داحدیث بخاری نقل کړے ] .

* داپه دعاکښی سنت دی لیکن ځنی خلك په دی حدیث کښی څه زیاتوالے کوی چه دغه زیاتوالے دنبی صلی الله علیه وسلم نه ثابت نه دے ځنی ددغو زیاتوالو نه دادي :

**اول**: ځنی وائي :(اللهم إني أسألك بحق هذه الدعوة) (۱)

اوسنت داسی ده چه (( اللهم رب هذه الدعوة التامة ))

دویم : ځنی وائي : ( أت سيدنا محمدا )(۲) اوسنت داسی ده چه

(۱) دا امام بیهقی نقل کړے اوشاذ دے ، ارواء الغلیل وه ګوره ۲۶۱/۱ .

(۲) شاذ دے اومدرج دے ، إراوء الغليل ۱/ ۲۶۱ .

( ات محمدا ...)

**دریم :** ځنی داسی وائي : ( أت محمدا الوسیلة والفضیلة ، والدرجة العالیة الرفیعة ) (۱) اوسنت داده چه په غیر دذکر د( الدرجة العالیة الرفیعة ) نه دے داپکی نشته .

**څلورم :** ځنی خلك ئی ددعاپه اخر کښی زیاته وی اوداسی وائي ( إنك لاتخلف المیعاد ) (۲) اوسنت داده چه دابه پریدی اونه به ئی وائي ځکه داد نبی صلی الله علیه وسلم نه نه ده ثابت .

**پنځم :** په اخر کښی ورسره ځنی دا زیاته وی ( یا أرحم الراحمین) اودازیاتوالے هم په حدیث کښی نشته سنت داده چه وی نه وائي . اوپه سند کښی هم نه دی ثابت . (۳)

## ۱۳۳ ـ کله چه ځنی موذنین اذان خلاص کړی دسهار داذان نه روسته دعا وائي چه منقول ده نو په لوډسپیکر کښی وریسی چغه کړی اوداسی وائي ( صلوا هداکم الله )

---

(۱) په سنن المبتدعات کښی دی چه دازیادت بدعت دے ص ۵۰ ، ارواء الغلیل وریسی وه ګوره ۱/ ۲۶۱ .

(۲) ارواء الغلیل وه ګوره ۱/ ۲۶۰ .

(۳) حافظ ابن حجر رحمه الله ویلی : [ چه رافعی په المحرر کښی په اخره کی زیاتی کړی چه ( یاارحم الراحمین ) اوداهم په سند کښی شته . التلخیص الحبیر ۱/ ۲۱۰ .

ترجمه : مونځ کوی الله تعالی دی درته هدایت وکړی : نوددے څه حکم دے ؟

نوددی سوال جواب دائمی لجنی داسی ورکړے : اختصار اوبس والی په اذانه کښی په هغه طریقه پکار دے په کومه طریقه چه دشریعت نه ثابت وی داذان په صفت اوکیفیت کښی اوپه دغه طریقه زیادت دادقبیلے دبدعت نه دے .[ مختصر والله اعلم](1)

## ۱۳۴ - ډیرخلك چه کله په اخر داقامت کښی موذن

( لا إله إلا الله ) ووائي نوهغوی وریسی داسی وائي (( حقا لا إله إلا الله )) .

اوسنت داده چه په اذان اواقامت دواړو کښی داسی وویل شی لکه څنګه چه ئی موذن په اذان اواقامت کښی وائي اوبیا روسته داسی وائي : (( اللهم رب هذه الدعوة التامة والصلاة القائمة أت محمدا الوسيلة والفضيلة وابعثه مقاما محمودا الذي وعدته )) .

ترجمه ئي مخکی تیره شوی .

* دائمی لجنی په فتاوی کښی داسی قسم راغلی :

* سنت داده چه داقامت اوریدونکی هم داقامت کونکی پشان ته وائي څکه دا دویم اذان دے نوداسی جواب به ورکوی لکه څنګه چه ئي اذان کونکی ته ورکوی اوداقامت اوریدونکی به داقامت

---

(1) السوال والجواب په مجلة البحوث کښی وریسی وګوره ۱۷/۵۷-۵۸ .

ویونکی په دی قول کښی چه : حـي علـی الصـلاة حي علـی الفـلاح دے : لاحول ولا قوة إلا بالله وائي .

اودقدقامت الصلاة په وخت کښی به هم دغه الفاظ وائي او اقامهاالله وادامها به نه وائي ځکه په دغه کښی حدیث چه راغلی هغه ضعیف دے اودرسول الله صلی الله علیه وسلم نه صحیح ثبوت داسی راغلی چه هغه فرمائي : (( إذاسمعتم المؤذن فقولوا مثل مایقول )) .

ترجمه : (کله چه تاسو دموذن نه څه اوری نو تاسو هم هغسی وائي لکه څنګه چه هغه وائي ) اوداهم اذان اواقامت د ے چه یو شان دی ځکه دواړو ته اذان ویل کیږی اوبیابه په رسول الله صلی الله علیه وسلم باندی داقامت نه روسته درود وائي چه کله اقامت کونکی (( لا إلـه إلا الله )) ووائي اوبیابه داسی وائي : ( اللهم رب هذه الدعوة التامة والصلاة القائمة ...) تراخره پوری لکه څنګه چه داذانه نه روسته وائي اومونږه ته څه صحیح دلیل نه دے معلوم چه داقامت اوتکبیر تحریمه په مینځ کښی څه دعاګاني ویل کیږی چه اقامت خلاص شی اوروسته تری څه ووائي په غیر دهغه نه چه کوم ذکر شو . وباالله التوفیق وصلی الله علی نبینا محمد واله وصحبه . ([1])

## ۱۳۵- په حالت ددعاء کښی اواز اوچتول په دعاسره

اوپه قنوت کښی یاوغیره نورو کښی اوددغه مثال داسی دے

---

([1]) مجلة البحوث الإسلامية ٦/ ٢٤٨/ ٢٤٩ .

لکه چه يوکس دعا کوی اوبياپه مينځ ددعاکښی په ځنو جملو اوددعاء په لفظ سره اواز اوچت کړی اوسنت خو داده چه نه ئي اوچتوي .

* الله تعالی فرمائي : (( ادعواربکم تضرعا وخفية إنه لايحب المعتدين )) [ سورة الأعراف ، ايت : ٥٥].

ترجمه : ( رابلئی تاسو رب خپل په عاجزی اوپه پټه سره بيشکه چه الله تعالی نه خوښوی دحدنه تيريدونکی .

* ابن کثير رحمه الله ويلی ... چه ابن جرير ويلی چه د اواز اوچتول اوچغی وهل اوپه زوره زوره دعاکول مکروه دي اوپه عاجزی اوپه قراره دمه دمه باندی به ورته امر کيدلے شی ، اوبيائي دعطا خراسانی نه نقل کړے چه هغه دابن عباس رضی الله عنهما نه نقل کوی په دی قول کښی (( إنه لايحب المعتدين ))

ترجمه : ( الله نه خوښوی دحدنه تجاوز کونکی او اوړيدونکی ) نه په دعاکښی اونه په بل ځه کښی .[ تفسير ابن کثير ٢/ ٢٣٩] اه .

* ابی موسی اشعری رضی‌الله عنه وائي : چه مونږه درسول الله صلی الله عليه وسلم سره و چه کله به په يو لوړ او جګ ځائی وختلو نو مونږه به لااله الا الله اوالله اکبر وايه او اوازونه به مو اوچت کړه نو نبی صلی الله عليه وسلم راته وو يل (( ای خلکو په خپلو نفسونو نرمی کوی اوچغی مه وهي ځکه تاسو خوځه کوڼ ړوند ذات نه رابلئ اوبيشکه ستاسو سره دی

( په اعتبار دعلم او اوريدلو سره ) اوبيشكه دا اوريدونكے اونژدى دے)) . [ بخارى دا روايت كړے ]

ابن حجر رحمه الله وائي چه طبرى ويلى چه په دى كښى په دعاء اوذكر سره اواز اوچتول مكروه اودكراهيت كار دے .

اوداخبره عامو سلفوصحابه كرامو اوتابعينو كړى .

[ فتح البارى ۶/ ۱۳۵ ] .

## ۱۳۶ – اودا قسم څنى دمخالفاتو نه چه څنى امامان

ئي كوى په دعاء قنوت كښى هغه داچه ځان خاص كوى اوضمير دمتكلم يعنى خپل نفس ياده وى لكه ( حسبي به كفيلا )( اوحسبي به وكيلا ) .

ترجمه : بس دے دا زما دپاره زموار ، اوياخو ځان خاص كړى اونور پكى بالكل نه يادوى .

* امام بغوي رحمه الله ويلى : ( ... وإن كان إماما فيذكر بلفظ الجمع : اللهم اهدنا وعافنا وتولنا وبارك لنا وقنا ولا يخص نفسه بالدعاء )

ترجمه : ( اوكه چرته امام و نو لفظ دجمع به ذكر كوى :اى الله تعالى مونږه ته هدايت وكړى اومونږه ته معافى وكړى اوزمونږه امداد وكړى اوپه مونږه كښى بركت واچوى اومونږه وساتى ( بچ مو كړى ) اوخپل ځان به په دعاسره نه خاص كوى . تراخره پورى به ئي وائي [ شرح السنه ۱۲۹/۳ ] .

اوشيخ ابن باز رحمه الله ديو سوال په جواب كښى داسى ويلى ( يدعوبصيغة الجمع فيقول : اللهم اهدنا فيمن هديت ... ) تراخره پورى به ئي وائي ، دعاء به دجمع په لفظ كوى اى الله مونږه ته

هدايت وکړی دهغه چادجملې نه چه تاورته هدايت کړی ( ځکه دابه دځان دپاره اودمقتديانو دپاره دعاکوی .[ ص۴۱ دصلاة التراويح درسالې نه ].

## ۱۳۷- دارنګه دمخالفاتو نه چه دځنې امامانو نه

صادريږی چه په دعاقنوت کښې دعااوږده کوی چه هغه واضحه اوښکاره اوږدوالي وی .

* نودغلته بياتکليف وی اوضرر اوتنګی خلکوته رسيږی .

* اونبی صلی الله عليه وسلم امر کړے دمونځ کونکو دحال په مراعات کولو باندی چه بايددمونځ کونکو حال اوخيال وکړے شی نوداسی ئي فرمايلی دي :

(( إذاصلی أحدکم للناس فليخفف فإن فيهم الضعيف والسقيم والکبير وإذاصلی أحدکم لنفسه فليطوِل ماشاء )) .

ترجمه : کله چه يوکس ستاسو نه خلکو له جمع ورکوی نو لنډوالے دی پکې کوی ( يعنې ډيردی نه اوږدوی ) ځکه په دوی کښې کمزوی وی اوبيماروی اوبوډاوی اوکله چه يوکس ستاسو نه ځان له مونځ کوی نو چه څومره ئي خوښه وی هغومره دی اوږد کړی .

* اوپه حديث کښې داسی راغلی :

* (( إني لأدخل في الصلاة وأناأريد أن أطيلها فأسمع بکاء الصبي فأتجوز في صلاتي مما أعلم من شدة وجد أمه عليه )) .

ترجمه : ( زه په مانځه کښې داخل شم اوشروع وکړم غواړم چه دامونځ اوږدکړم نو دماشوم ژړا واورم نو مونځ خپل لنډ

اومختصر کړم دهغې وجې نه چه زه پوهیږم چه مور په دغه ماشوم ډیره خپه کیږي . [ بخاري اومسلم داحدیث روایت کړے ].
دمانځه دلنډوالي ضابطه داده چه دنبي صلی الله علیه وسلم دمانځه مراعات اولحاظ وشي څکه هغه ډیر کامل اوپوره مونځ کونکي و دنورو خلکونه .
* امام بغوي رحمه الله ویلي : ( یکره إطالة القنوت ...)
ترجمه : دقنوت اوږده ول مکروه دي ...) [ المجموع : ۳/ ۴۴۱ ] .

## ۱۳۸- هغه څه چه څنی خلك ئي کوي چه چه ددعانه

روسته په دعاقنوت یاوغیره کښي په مخ لاس راکاږي نودامسح صحیح اوصریحه دلیل ته محتاج ده دنبي صلی الله علیه وسلم نه ( اوپه دغه کار باندي صحیح دلیل نشته ) .
* شیخ الاسلام امام ابن تیمیه رحمه الله په خپل یو جواب کښي داسي ویلي : ( وأمارفع النبي صلى الله عليه وسلم يديه في الدعاء فقد جاء فيه أحاديث كثيرة صحيحة وأمامسح الوجه بيديه فليس عنه فيه إلاحديث واحد أوحديثان لايقوم بهما حجة والله أعلم ) .
ترجمه : ( اوهر چه دنبي صلی الله علیه وسلم په دعاکښي لاس اوچتول دي نو په دي کښي ډیر صحیح احادیث راغلي دي اوهر چه ئي په مخ راښکل دي په دواړو لاسونو په دي کښي دیو حدیث یادوه حدیثونونه نور نشته چه په هغه باندي حجت اودلیل نشي قائمیدلے ( یعني قابل دلیل نه دي ) والله اعلم .

## ١٣٩- ځنې خلك چه كله ركوع كوي نو دخپلوخپو

قدمونو ځايې ته ګورې اوځنې چه كله كينې په مانځ كښې نو سر ښكته كړې اوخپلې غيږې ته ګورې .

* اودادسنت خلاف ده دنبې صلى الله عليه وسلم نه ثابت دي چه هغه به په مانځه كښې دسجدې ځائې ته كتل .

* اوكه چرته په تشهد كښې وې نو بياورله اختيار دے خوښه ئي ده كه دسجدې ځائې ته ګور ې اوكه مسواكې يعنې داشارې ګوتې ته ګوري .

## ١٤٠- ځنې مونځ كونكې چه كله سلام

وه ګرځوې دمانځه نه اواذكار شروع كړې كوم چه دمانځه نه روسته دي نو لفظ د ( تعاليت ) پكې زياتوي اوداسې وائي :

(( تباركت وتعاليت ياذالجلال والإكرام ، اودمصطفى صلى الله عليه وسلم نه داثابت ده ( تباركت ياذالجلال و لإكرام ) ([1]) .

## ١٤١- ځنې هغه كارونه چه خلك وربـاندې دسنت

عقيده لرې هغه چه دځنو نه حاصليږې اوواقع كيږې په اذكارو كښې كوم چه دمانځه نه روسته دي نو كله چه ايت كرسې وه لولي (( الله لا إله إلا هو الحي القيوم ...)) نوروسته ورسره دوه

---

([1]) عجلوني په كشف الخفاء كښې ويلې چه كله ددغه حديث نه بحث كوي چه امام النجم ويلې چه خلك په دې كښې
(تعاليت) زياتو ې اه [ كشف الخفاء ١/ ١٨٦]

اياتونه نورهم لولي چه ايت الكرسى پسى دى اودائي ګمان وى چه دادواړه هم دايت الكرسى تابع دي .

* ځنى خلك داپيژنى چه ايت الكرسى مستقل ايت دے ليكن دائي عادت ګرځيدلے وى چه روسته ورپسى دغه دواړه اياتونه وائي .

* اوسنت په دى كښى داده چه په ايت الكرسى يواځى اكتفاء وكړى دابى امامه رضى الله عنه د حديث په وجه چه هغه فرمائي چه رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايلى دي : (( من قرأ أية الكرسي في دبر كل صلاة لم يحل بينه وبين دخول الجنة إلا الموت )) ترجمه : ( چاچه دهرمانځه نه روسته ايت الكرسى ولوستله نودده اودجنت ته دننوتلو په مينځ كښى بله پرده اوحائل نشته په غير دمرګ نه ( يعنى دمرګ نه روسته به جنت ته داخليږى )

[ طبرانى اوابن حبان وغيرو روايت كړے ].

## ۱۴۲- اوبعض دزياداتو نه داده چه ځنى خلك پكى

واقع دى چه دوى دمانځه نه روسته پنځه كرته استغفرالله استغفرالله وائي داهم زياته وى اوبياورپسى شپږم كرت داسى وائي استغفرالله العظيم الجليل التواب الرحيم او دوى هميشه ټول عمر په دى هميشوالے كوى .

* دلته داخبره كولے شى چه واقعاذكر دالله تعالى ډير ښه دے او ويونكى ته ئي اجروركول كيږى او الله تعالى داذكر دزړه

داطمینان دپاره سبب ګرځولې اوسکون پکې وي ، لکه الله تعالی فرمائي :

(( الذين أمنوا وتطمئن قلوبهم بذكر الله ألا بذكر الله تطمئن القلوب )) .

ترجمه : ( هغه کسان چه ایمانونه ئي راوړی اومضبوط په اطمنان وی زړونه ددوی په ذکر دالله تعالی خبردار په ذکر دالله مطمئن کیږی زړونه ) [ سورت الرعد ،ایت : ۲۸ ].

* اونبی صلی الله علیه وسلم خپل امت په ذکر تیزکړے اوترغیب ئي ورکړے په ډیر ذکر کولو باندی اویوکس ته ئي فرمایلی دي :

(( لايزال لسانك رطبا من ذكر الله )) .

ترجمه :همیشه دستاژبه دالله تعالی په ذکر لمده وی .

[احمداوترمذی دعبدالله بن بسر رضی الله تعالی عنه په روایت نقل کړے].

لیکن ددی ټولو سره سره بهتره اوغوره ذکر هغه دے چه درسول الله صلی الله علیه وسلم طریقی سره برابراوموافق وي هم په وخت کښی اوهم په ځائی کښی ځکه چه هغه زمونږه راهنما اوپیشوا اولاربنود دے .

څنګه چه الله تعالی فرمائي : (( لقد كان لكم في رسول الله أسوة حسنة لمن كان يرجو الله واليوم الأخر وذكر الله كثيرا )) .[ سورت الأحزاب ، ايت : ۲۱ ] .

ترجمه : ( خامخا په تحقیق شته ستاسو دپاره درسول الله صلی الله علیه وسلم په ( کار ) کښی اقتداء اوپیروی غوره دپاره دهغه چاچه وی دے چه ایریږی اوطمع کوی دالله تعالی اود ورځ روستنی دملاقات نه ) اوبناپه دی چه کله به رسول الله صلی الله

عليه وسلم دمانځه نه راستون شو لو نو استغفرالله به ئي درى ځل وويله اوبيابه ئي دا دعاويله : (( اللهم أنت السلام ومنك السلام تباركت ياذا الجلال والإكرام ) اوپه يو لفظ كښى په غير د ( يا) نه داى دى ( ذالجلال والاكرام ) .

ترجمه : ( اى الله ته سلام ئى اوستانه سلامتياده دبركت والائي ته اى خاونده دلوي اودعزت ) .

* اوهرچه استغفار دى نوراوى ددغه حديث چه امام اوزاعي دے داسى ئي بيان كړے ( أستغفرالله ، أستغفرالله ) .

ترجمه : بخښنه غواړم دالله تعالى نه .[ داحديث مسلم روايت كړے].

## ۱۴۳ - ځى خلك چه كله دمانځه نه راوه ګرځى نو

كومه دعاچه درسو ل الله صلى الله عليه وسلم نه منقول اوثابت ده هغه ووايي (( اللهم أنت السلام ومنك السلام تباركت ياذا الجلال والإكرام )) نوبياپه اخره كښى ورسره دازياتى كړى : (( وإليك يعودالسلام اويا ( وإليك السلام )) .

* اودائمى لجنى نه په جواب كښى راغلى چه داسى جواب وركړے .

* چه اصل په اذكارو كښى اوپه ټولو عباداتو كښى دادے چه په كوم عبارت اوالفاظو راغلى وى هم هغه به وائي اوموقوف به وى په هغه پورى په هم هغه طريقه پورى نه به ترى كمه وى اونه به ئي ورباندى زياته وى اونه به ئي په طريقه كښى تغير اوتبديل راولي اوكو م چه دسننو په كتابونو كښى ثابت دى هغه داسى

دی : (( اللهم أنت السلام ومنك السلام تباركت ياذا الجلال والإكرام ))
اوپه یوروایت کښی (( تباركت ذا الجلال والإكرام )) دی [ دامسلم روایت کړے ] .

## ۱۴۴- ځنی خلك چه کله په رسول الله صلی الله علیه وسلم باندی درود وائي نو اواز اوچت کړی دفرض اویانفل مانځه نه روسته اوځنی دادسهار په مانځه پوری خاص کوی .

* دافتاء په لجنه کښی داسی جواب ورکړے :
* په عباداتو کښی اصل توقف دے ( یعنی څنګه چه رسول الله صلی الله علیه وسلم کړی دهغه نه زیادت اوکمی نه دے پکار .
نودهیڅ کس دپاره دانه دی پکار چه داسی عبادت وکړی چه الله تعالی نه وی جائزکړی .
لکه څنګه چه الله تعالی فرمایلی : (( أم لهم شركاء شرعوالهم من الدين مالم يأذن به الله )) [ سورة الشورى ايت ۲۱] .
ترجمه : ( ایاشته دوی لره شریکان چه سازکړے دی هغوی ددوی دپاره دین هغه څیز ( اوشئ ) چه په هغه سره الله حکم نه دے کړے ) .
* اوداحدیث دنبی صلی الله علیه وسلم دے : (( من أحدث في أمرنا هذا ماليس منه فهو رد )) .
ترجمه :( چاچه زمونږه په دین کښی نوی کار وکړه چه داد ے اوهغه ددین نه نه و نو هغه رد دے ) [ داحدیث بخاری اومسلم نقل کړے ] .

اودمسلم په لفظ کښې داسې د ے (( من عمل عملا لیس علیه أمرنا فهو رد )) چاچه یو عمل وکړه چه په هغه باندې مونږه حکم نه و کړ ے نوهغه رد د ے اوقابل قبول نه د ے .

اودرود اوسلام په رسول الله صلی الله علیه وسلم باندې دغوره اوبهتره عباداتونه د ے لیکن په کوم شکل او طریقې چه په سوال کښې ذکر شوی نودغه نبی صلی الله علیه وسلم نه د ے کړ ے اونه خلفاو راشیدینو کړ ے اونه نورو صحابو دسهار دمانځه نه اویادنورو مونځونو نه روسته کړ ے .

اوټول خیراوبهتری خودهغوی په اتباع کښې ده نوپه دی سره معلومه شوه چه داعمل بدعت د ے اوجائز نه د ے اونه په دغه کښې شرکت جائز د ے .([1])[ مختصر ].

## ۱۴۵ - هغه څه چه په بیمارانو پوری متعلق

دي ځنې د دوی نه چه کله د اوداسه اوتیمم نه عاجزشی نو مونځ پریدی اونه ئي کوی اووائي چه کله الله تعالی جوړ کړم بیابه ئي کوم ځکه د ے گمان کوی چه مونځ په دی حال کښې دده په حق کښې نه دی جائز .

* شیخ ابن عثیمین رحمه الله ویلی : چه ډیر بیماران مریضان داودس کولو طاقت ئي نه وی اونه ورسره خاوره وی اونه تیمم کولے شی اوډیر کرت ئي په جامو پلیتی اونجاست هم وي نو یوکس به پکی داسی هم بیامومی چه وائي به : صبرکوم چه الله

---

([1]) مجلة البحوث الإسلامية ۱۷ص ۷۰ .

تعالی ښه کړم اوجوړ شوم نواودس به کوم اوجامی به وینځم.
اویاداسی نوری خبری کوی .

* نودیته مونږه وایو : چه دمانځه روسته کول په تاباندی حرام دی اوتاته څه پته ده کیدے شی چه مړشی ددی مرض نه مخکی دمانځه کولو نه ؟

نوپه تاواجب ده چه په خپل حال مونځ وکړی اګرکه په تاباندی نجاست پلیتی وی اودلری کولو طاقت اووسی هم نلری او اوبه ورسره هم نه وي چه په هغه باندی اودس وکړی اوتیمم هم ممکن نه وي .(1)

## ۱۴۶ - ځنی دهغه کارونو نه چه ځنی خلك پکی واقع کیږی هغه وسوسه اوشك دے .

الله تعالی دی تری مونږه اوتاسو وه ساتي .

په دی نظر چه داکار دمسلمان دمانځه دپاره ډیرخطری دے اودمسلمان په نفس ډیر لوی اثر لری نوداخوښوم چه ددی موضوع متعلق داهل علمو اقوال اوکلام تاسوته نقل کړم اودشیخ محمد بن ابراهیم رحمه الله تعالی په جواب دیو سوال کښی چه ددی خبری تری شوی راوړی اوذکر کړی دي هغه رحمه الله تعالی داسی ویلی :

هر چه دا تپوس اوسوال دے چه درسو ل الله صلی الله علیه وسلم په زمانه کښی په مانځه کښی وسوسه اوشك و اوکه نه ؟

---

(1) دروس اوفتاوی په حرم مکي کښی دابن عثیمین ص ۴۱.

اوایامونځ باطله وي ؟ اوایامعتبره ولې شي چه یوکس ته شیطان وسوسه واچوي چه کوم وربانديٰ مبتلی کړي چه جماعت ته تلل ریاء ده ایا داکس دګناه نه خلاصیږي چه دجمع مونځ پریدي اوجماعت ته نه ځي ، اوپه مانځه کښي دوسوسي نه دخلاصي اوبچاو څه طریقه ده؟

* نوددغي ناحیي نه جواب : چه ایادرسول الله صلی الله علیه وسلم په زمانه کښي په مانځه کښي وسوسه وه اوکه نه وه نو په کومه طریقه چه تاپه خپله خبره کښي ذکر کړه نودا خونه درسول الله صلی الله علیه وسلم په زمانه کښي وه اونه دصحابه کرامو رضی‌الله عنهم په زمانه کښي وه ، لکه څنګه چه وربانديٰ دوو امامانو وضاحت کړے : یو موفق الدین بن قدامه دے چه په خپل کتاب ( ذم الموسوسین ) ، کښي ذکر کړي اوبل شیخ الاسلام ابن تیمیه کوم روایت چه تری دهغه شاګردابن قیم کړے دے.

* اوهر چه داسوال چه وسوسه مونځ باطله وی اوکه نه ؟

* نوجواب دادے ددغه نه : چه ځني دوسوسي نه مونځ باطله وی ابن قدامه په ( ذم الموسوسین ) کښي داسي ویلی دی چه ځني دوسوسونه مونځ باطله وی لکه تکرار دیو لفظ اوبعضی کلمی شوئی، لکه په التحیات کښي : ات ات ، التحی التحی .

اوپه سلام کښي : اس ، اس السلام شو ، اوپه تکبیر کښي اکککبر. اوپه ایاك : ایاککك شو نوداتکرار دکلماتو په غیر

دمعانی دقراءت دمعاناګانو نه دے اولفظ دخپل حیثیت اووضع نه ئي په غیر دضرورت نه ویستلو ، نو داخو دمانځه ښکاره باطلیدل دی په دی سره ، اوډیر کرت امام داسی کوی نودمقتدیانو مونځ ئي باطل کړه اوکوم مونځ چه دډیرو لو یو طاعاتونه و ، دالله تعالی لوی ئي ډیره لری کړه اودکبیره ګنانه وه ګرځیده .

اوکوم چه ددغه قسم وسوسی وی چه مونځ پری نه باطلیږی نوهغه مکروه دے اودجائزی طریقی نه مونځ ویستل چه کوم طریقه دقراءت وی نوداخلاف سنت دي ، اودرسول الله صلی الله علیه وسلم اودهغه دصحابو رضی الله عنهم نه اعراض اوګرځیدل دی اوډیر کرت وربا ندی اواز اوچت کړی نو نورو اوریدونکو ته وربا ندی تکلیف رسي ، اوخلك دده په بدو ویلو سرشی اودده په حقله خبرو کښی واقع شی اوپه خپل نفس کښی دشیطان طاعت راجمع کړی اودسنت مخالفت ، اودبدوکارونو اوبدعتونو ، مجمع وه ګرځی ، اوخپل ځانله تکلیف ورکوي اووخت خرابه وی اوضائع کوی ، اونفس له عذاب ورکوی ، اونور مونځ کونکو ته هم تکلیف رسوی ، اوخپل عزت ئي هم ختم کړو ، مرادئي ختم شو ددینه.

* اوهر چه هغه سوال دے چه هغه وسوسه معتبره ول چه کومه دته شیطان اچولی ده چه ځنی مونځ کونکی په دی خبره مبتلی کړی چه په جمع سره مونځ کول ریاء ده .

* نوددغی نه داجواب د ے : چه ددغی وسوسی معتبره ول نه دی جائز اودجمع دمانځه نه روسته کیدل ناروادی ، بلکی دادشیطان دعوت د ے چه درسول الله صلی الله علیه وسلم دهدایت نه اعراض وکړی اومخ تری واړه وی اوعمل پرئ وه نکړی .

* اوکومه طریقه چه په مانځه کښی دوسوسی نه دخلاصی ده نو دنبی صلی الله علیه وسلم په دی حقله په صحیح مسلم ( په کتاب الطب ) کښی دعثمان بن ابی العاص رضی الله عنه روایت د ے چه دارسول الله صلی الله علیه وسلم ته راغلو اووی ویل چه ای رسول الله صلی الله علیه وسلم شیطان زما اوزما دمانځه په مینځ کښی حائل اوپرده شوی

( مانع ) د ے اوزما دقراء ت په مینځ کښی په ماباندی خلط اوګډوډوالے راولي ، نورسول الله صلی الله علیه وسلم وه فرمایل : (( ذاك شيطان يقال له خنزب ، فإذا أحسست به فتعوذ بالله و اتفل على يسارك ثلاثا )) .

ترجمه : دغه شیطان د ے اوخنزب ورته ویل کیږی

( یعنی خنزب نوم ئی د ے ) چه کله دغه حالت وونیی اومحسوس ئی کړی نو اعوذ بالله ووایه په الله پوری پناه تری وغواړه اودری ځل ګس طرف ته تف و کړه ، نوهغه وائی چه داکار ماوکړه اوبیاوائي چه الله تعالی زمانه دغه وسوسه ختمه کړه . [ مختصر دشیخ محمد بن ابراهیم دفتاوی نه ۲/ ۱۹۱-۱۹۵ ].

دالله تعالی په فضل اوکرم سره دمانځه مخالفات ختم شو په تاریخ ۱۴۲۳/۳/۲۷ھ اومراجعه ۱۴۲۳/۵/۲۱ھ جون ۸/ ۲۰۰۲ م.

# دریم

# دجمعی په ورځ

# مخالفات

# کوم مخالفات چه په جمعی پوری متعلق وی هغه دادي

## ۱- دهغه مخالفاتونه چه دجمعی په ورځ پوری متعلق وی :

* غسل نه کول : اویقینانبی صلی الله علیه وسلم فرمایلی :
(( غسل يوم الجمعة واجب على كل محتلم ))
ترجمه : ( په هر بالغ باندی دجمعی دورځی غسل واجب دے )
اوه کتابونو دا حدیث دابوسعیدالخدری رضی الله عنه په روایت سره نقل کړے.
اوعبدالله بن عمر رضی الله عنهما نه روایت دے دا وائي چه رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلی : (( أذا جاء أحدكم الجمعة فليغتسل )) .
ترجمه : ( چه کله یوکس ستاسو نه دجمعی مانځه له راځی نو غسل دی وکړی ) داتولو نقل کړے لیکن په مسلم کښی داسی دي (( إذا أراد أحدكم أن يأتي الجمعة فليغتسل )) .
ترجمه : ( چه کله یوکس ستاسو نه اراده وکړی چه جمعی ته راشي نو غسل دی وکړی ) .
* وعن أبي هريرة رضى الله عنه عن النبي صلى الله عليه وسلم قال : (( حق على كل مسلم أن يغتسل في كل سبعة أيام يومايغسل فيه رأسه وجسده )) .

ترجمه : ( دابوهریره رضی الله عنه روایت دے داد نبی صلی الله علیه وسلم نه روایت کوی چه نبی صلی الله علیـه وسلم فرمایلی : چه پـه هـر مسلمان باندی واجب دی اوحق د ے چه پـه هرو اوه ورځو کښی په یوه ورځ کښی غسل وکړی اویوه ورځ چه پـه هغـه کښی سر وینځی اوټول بدن وینځی ) [ متفق علیه حدیث د ے چـه بخاری اومسلم نقل کړے ] .

## ۲- دارنګه دمخالفاتو نه : دجمعـی پـه ورځ دخلکو پـه

څټونو اوختل ( اوړیدل ) اودا غالبا دخطبی په دوران کښی وی .

* عن عبدالله بن بسـر رضي الله عنـه قـال : جـاء رجل يتخطـى رقـاب الناس يوم الجمعة و النبي صلى الله عليه وسلم ، يخطب فقال النبي صلى الله عليه وسلم (( اجلس فقد أذيت و أنيت )) .

ترجمه : ( دعبدالله بن بسر رضی الله عنه نه روایت د ے چه یو سړی راغے اودخلکو په څټونو راواوختلو اوپیماله ول ئي دجمعی په ورځ اونبی صلی الله علیه وسلم خطبه ورکوله چه ورته وی فرمایل : ( کینه یقینا تکلیف دی وه رساو او ناوخته دکړو .

* علماو دخلکو په څټونو اوختلو مسئله کښی دجمعی دورځی په دی کښی اختلاف کړے چه ددی څه حکم د ے ؟ ترمذی دنورو اهل علمو نه نقل کړی چه دجمعـی پـه ورځ دخلکـو پـه څټونـو اوختل مکروه ګڼلی اوپه دی مسئله کښی ئي ښه سختی کړی ده اوددی په تعلیق کښی ابوحامد نقل کړے دامام شافعی نه چه تصریح اووضاحت ئي په حرام والي کړے .

* اونـووی اوابوالمعـالي اوشیـخ ، یعنـی شیـخ الاسـلام اوپـه غـیر ددوی نه دا حرام کړے اوویلی ئي دی چه دیوکس دپاره دانه دي مناسب چه دخلکو په څټونو واوړی اوپیمال ئی کړی چه کله ئي مخی ته خالي ځائی نه وی دجمعي ورځ وی اوکه بلـه ورځ وی پـه غیر دجمعي دورځی نه ، ځکـه داظلم او دالله تعـالی دحـدودو نـه تجاوز دے .[ دحاشیه الروض المربع نه ۲/ ۴۸۰ ] .

## ۳- دجمعـی د ورځی دمخالفـاتو نـه یـو داهـم دےچـه کله امام خطبه کوی اویوکس په حالت د احتباء کښی وی .

* عن معاذ بن أنس رضي الله عنه قال : (( إن رسول الله صلىالله عليه وسلم نهى عن الحبوة يوم الجمعة و الإمام يخطب )) .

ترجمـه : ( دمعـاذ بـن انـس نـه روایت د ے داوائـي چـه یقینارسـول الله صلی الله علیه وسلم منع کړی دحبوی نـه پـه ورځ دجمعـی چـه کله امام خطبه وائي ) .

[ داحدیث احمد ابوداود ترمذی اوحاکم نقل کړےترمذی وائي چه داحدیث حسـن د ے اوحـاکم وائي چـه داحدیث صحیـح د ے اونقل کـړےئـي نـه دے اوذهبی ورسره موافقه کړی ] .

* ابن الاثیر په خپل کتـاب النهایـه کښی ویلی اودحبوی معنـی ئي کړی چه احتبـاء داده چه یـو کس مخی طرف تـه خپلی خپـی دګیډی سره په جامه وه تړی اودشاه سره اوبیائي مضبوطی کړی اوکله دا احتباء په لاسونو سره وی دجامی په ځائی باندی .

اوبیائی ویلی چه حدیث دےپه دی بـاندی (( أنـه نـهى عـن الحبـوة يوم الجمعة و الإمام يخطب )) .

ترجمه : ( چه رسول الله صلی الله علیه وسلم دحبوی نه منع کړی په ورځ دجمعی چه کله امام خطبه وائي )

* رسول الله صلی الله علیه وسلم منع کړی ځکه چه احتباء سبب دخوب د ے په دی سره خوب راځی اوخطبه هم نه اوری اوداسبب داودس ماتیدوهم د ے .[ تراخره دادنهائي ابن الاثیر نه اغستلې شوی ] .

* دمخکی سره دا اضافه کیدلے شی چه په احتباء سره دعورت ښکاره کیده هم کله کیږی خاص کر چه کله لاندینی جامئ لنډی اوغستلی وی نودا احتمال پکی وی .

## ۴- دجمعی دورځی دمخالفاتو نه دځنی خلکو داعقیده

ساتل چه د ( الم تنزیل السجدة ) لوستل اود ( هل أتى على الإنسان ) سورة لوستل دجمعی په سهار واجب دي .

* اوداعقیده خطاء ده کوم چه درسول الله صلی الله علیه وسلم نه ثابت دي چه هغه به دجمعی دورځی په سهار الم تنزیل السجده اوهل اتی علی الانسان لوستل نو داحدیث بخاری نقل کړ ے دابوهریره رضی الله عنه په روایت باندی اوداچه دجمعی په سهار به ئي لوستل نوددی نه همیشوالے نه لازمیږی .

** ابن دقیق العید ویلی چه په حدیث کښی دا نشته چه کوم په همیشوالی دلالت کوی اوقوی تقاضاکوی بهر حال دامستحب دي .[ عمدة الأحكام ۲/ ۱۲۰ ] .

* دشيخ الاسلام ابن تيميه رحمه الله تعالى نه ددى تپوس وشو چه دجمعى په ورځ په سورت السجده هميشه مونځ كول واجب دى اوكه نه ؟

* نوهغه رحمه الله داسى جواب په دى قول سره وركړے : الحمد لله (( الم تنزيل )) هغه چه په سجده كښى د ے اوكه په غير ددغى نه كوم چه ذوات السجود دي ددغوقراء ت اولوستل دجمعى په سهار نه دى واجب په اتفاق د ائمه اوعلماو باندى اوچاچه ددغه دوجوب عقيده وساتله اويائي دهغه چاذم اوبدى ويله چه كوم تارك اوپريخودونكى دے نودغه كس گمراه دے اوخطاكونكى دے په دغه واجب دى چه ددغه نه توبه اوباسى په اتفاق دائموسره .

بيائي ويلى : چه هميشوالے درباندى واجب نه دے چه جهالان ئي گمان دوجوب كوى اوچه څوك ئي پريدى نوهغه گناه گار گڼي بلكى كله ئي پريخودل پكار دى دوجى دعدم وجوب نه چه داڅه واجب نه دى . والله اعلم [ الفتاوى ۲۴/ ۲۰۴-۲۰۵ ] .

* اوشيخ الاسلام ويلى چه نبى صلى الله عليه وسلم به دواړه سورتونه لوستل نوسنت داده چه دواړه پوره اوكامل ولوستل شى .

## ۵- ځنى دمخالفاتونه دارنگه دجمعى په ورځ چه كله

امام خطبه وائي په دغه دوران كښى په رسو ل الله صلى الله عليه

وسلم باندی درود ویل اوپه صحابو باندی ترض ( یعنی رضی الله عنهم ) ویل دي .

* دشیخ عبدالحمن بن حسن ال الشیخ رحمه الله تعالی نه تپوس شوی پدی مسئله کښی چه یوکس په رسول الله صلی الله علیه وسلم باندی جهرا درود وائي اویادصحابی دنوم سره رضی الله عنه وائي اوامام خطبه وائي نو څه حکم ئي د ے .

* داجواب ئي کړ ے : په نبی صلی الله علیه وسلم باندی جهرا درود ویل اویا اصحابو رضی الله عنهم باندی رضی الله عنهم ویل په حالت دخطبی کښی په غیر دخطیب نه چه نور خلك ئي وائي بدعت د ے اودشریعت نه مخالف د ے ځنو ډلو دعلماو نه منع کړی مخکینو اوروستنو اوددوی سره په دی کښی دوه ماخذه ( دلیلونه ) دی :

اول خوداد ے چه دامحدث اونوی کار د ے ځکه درسول الله صلی الله علیه وسلم په وخت کښی داعمل نه د ے شو ے اونه دصحابو رضی الله عنهم په زمانه کښی شو ے اونه دتابعینو په دور کښی شو ے اوکه چرته غوره اوبهتره کار و ے نو هغوی به ورته زمونږه نه مخکی شوی و ے .

دویم داچه احادیث په دی باب کښی په چپ والی اوغوږ ایخودلو باندی راغلی چه خطبه به اوری اوغوږ به ورته نیسی دابو هریره رضی الله عنه په روایت صحیح حدیث ثابت د ے چه درسول لله صلی الله علیه وسلم نه ئي نقل کوی چه هغه فرمایلی :

(( إذاقلت لصاحبك و الإمام يخطب يوم الجمعة أنصت فقد لغوت )) .

ترجمه : ( کله چه امام دجمعې په ورځ خطبه ورکوی اوتاخپل ملګری ته وویل چه چپ شه نو یقینا چه تالغوه اوعبث کار وکړه ) په کتاب الباعث علی انکار البدع والحوادث کښې ویلی چه درود ویل په نبی صلی الله علیه وسلم باندی دعاده اوغالبا په ډیرو دعاګانو کښې بلکې په ټولو کښې اخفاء اوپه غلی سره دی یعنی په غیر دجهر نه سنت دی : زه وایم چه دادریم ماخذ اودلیل دمنع دے .

## ۶ - ځنی خلك چه کله دجمعې دمانځه دپاره جامع

جماعت ته ننوځی چه دجمعې مونځ پکی وکړی اوموذن دویم اذان کوی نودغه ورسره هم اذان وائي اومتابعت ئی کوی خوچه کله داذان دمتابعت اوویلو نه خلاص شی نوداپه تحیه المسجد باندی شروع وکړی اوخطیب خطبه شروع کړی ئي .

* اودغه کس په خپل عمل سره په حاصلولو دسنتوباندی حرص وکړه لیکن دغه زیاتی وکړه په پوره کولو دواجبو کښې چه ځنګه پکارو سره دقدرت نه اوداځکه چه متابعت داذان سنت دے اوخطبه اوریدل واجب دی .

* اوهغه څه چه ددغه تاکید کوی یعنی چه څوك جامع مسجد ته ننوځی نو ځان به خطبی اوریدلوته فارغ کوی ترڅوچه ممکنه وی دته : ددی قول درسول الله صلی الله علیه وسلم په وجه باندی :

(( إذا جاء أحدکم یوم الجمعة و الإمام یخطب فلیرکع رکعتین ولیتجوز فیهما )) .

ترجمه : ( کله چه یوکس ستاسونه دجمعی په ورځ جماعت ته راشی اوامام خطبه وایي نو دوه رکعته دی وکړی اودا دواړه رکعتونه دی لنډ وکړی ) .[ داحدیث مسلم احمد ابوداود نقل کړے] .

* شوکانی رحمه الله تعالی ویلی : ( ولیتجوز فیهما ) په دی کښی جواز دلنډوالی ددغه مانځه د ے ددے دپاره چه دخطبی اوریدلو ته فارغ شی .

خلاصه شوه دهغه خبره [النیل ۲۹۳/۳ ] .

## ۷- ځنی مخالفات چه دجمعی دورځی پوری متعلق

دی چه دجمعی مونځ په بل مونځ پوری متصل کوی په غیر ددینه چه په مینځ کښی خبری وکړی اویادجماعت نه ووځی .

اوپه دی خبره باندی دسائب بن اخت نمر خبره دلالت کوی دا وائي چه ماپه مقصوره کښی دمعاویه رضی الله عنه سره دجمعی مونځ وکړه چه کله امام سلام وه ګرځاو نوزه په خپل ځائی پاڅیدم اومونځ می وکړه نو کله چه معاویه رضی الله عنه داخل شو نو ماپسی ئي جواب راوه لیږه اوراته وی ویل چه بیاداسی مه کوه کوم څه چه دی وکړه چه کله دجمعی مونځ وکړی نو دبل مانځه سره ئی مه متصل کوه اوسمدستی مه کوه ترڅو چه دی خبری نوی کړی اویا وتلے نه وی .

ځکه رسول الله صلی الله علیه وسلم مونږه ته امر کړے په دغه باندی چه یو مونځ دبل سره مه یوځائی کوی ترڅو چه موخبری

نه وی کړی اویاوتلی نه یو .[ امام مسلم په خپل صحیح کښی داحدیث نقل کړے] .

* شیخ الاسلام ابن تیمیه رحمه الله ویلی : سنت داده چه دنفلو اوفرضو په مینځ کښی فاصله موجوده وی هغه که جمعه وی اوکه په غیر دجمعی نه وی لکه څنګه چه په صحیح کښی درسو ل الله صلی الله علیه وسلم نه ثابت دی : (( أنه صلى الله عليه وسلم ، نهى أن توصل صلاة بصلاة حتى يفصل بينهما بقيام اوكلام )) .

ترجمه : ( رسول الله صلی الله علیه وسلم منع کړے چه یو مونځ په بل مونځ پوری متصل شی ترڅو چه ددغو دواړو په مینځ کښی په ودریدلو اویاپه خبرو سره فاصله اوجدائي نه وی راوستلی .

نوداسی مه کوه لکه څنګه چه ئي ډیر خلك کوی چه سلام په دورکعتو سنتو پیوسته کوی ځکه دا دنبی صلی الله علیه وسلم په منع شوی کار باندی عمل کوی اوپه حکم ئي عمل نه کوی .

اوپه دی کښی حکمت داد ے چه دفرضو اوغیر فرضو فرق راشی لکه څنګه چه دعبادت اوغیر عبادت په مینځ کښی فرق اوتمیز پکاروی . [ مجموع الفتاوی ۲۴/ ۲۰۲-۲۰۳ ] .

## ۸- اوځنی دهغو مخالفاتو نه چه په جمعی پوری متعلق

دی دارنګه : داول اذان نه روسته دوه رکعته مونځ کول اودا غالبا په حرمینو کښی وی چه اذان لا نه وی خلاص شوی اوموذن داول اذانه بس کړی نه وی چه ټول خلك پاڅیږی مګر لږ چه الله تعالی اوغواړی نور ټول پاڅیږی ددی دپاره چه دوه رکعته مونځ

وکړی اوبلکی خبره ددی حده پوری موقوف نه ده بلکی چه څوك مونځ کوی هغه بل چه نه ئي کوی اوناست وی نو بدی ګڼی چه دائي ولې نه کوی .

دلته دابن حاج یوه بهتره خبره ذکر کو چه زمونږه په دی موضوع پوری متعلق ده .

* هغه رحمه الله ویلی : اوخلك دهغه عمل نه منع کولے شی چه دوی یو بدعت ایجاد کړی چه کله اول اذان وشی دجمعی دپاره نودوی مونځ کوی ځکه دامخالف دی دهغه طریقی نه په کومه چه سلف رضی‌الله عنهم روان وو ځکه هغو ی په دوه قسمه و:

نو ځنی داسی و چه کله به جماعت ته ننوتل نو مونځ به ئی کاو اوبیا به دغه شان و تردی پوری چه امام به منبر ته وه ختلو چه کله به کیناست نودوی به نفل بس کړه .

ځنی داسی و چه مونځ به ئي وکړه نو کیناست به ترڅوچی دجمعي مونځ وکړی اوهغوی به داذان اول نه روسته نوے مونځ نه کاو اونه په غیر ددغه نه ، نوچاچه به نفل کول هغه به په ناست سړی څه عیب نه وایه اونه به ناست سړی په نفل کونکی څه عیب وایه ، لیکن دسلفو داطریقه بالکل دنن زمانی دخلکو دطریقی نه بدله اومخالف ده کومه چه داخلك کوی ځکه داخلك ناست وی ترهغه پوری چه کله موذن اذان وکړی نودوی پاڅیږی اومونځونه شروع کړی .

**۹- دارنګه دمخالفاتونه :** هغه دی چه ډیر خلك ئی كوی اوهغه مسواك وهل دی دخطبی په مینځ كښی او واجب دادی چه مسواك استعمال نه كړے شی .

**۱۰ - دارنګه دمخالفاتو نه :** كوم چه ډیر خطیبان ئی نن ورځ كوی چه په مینځ دخطبی كښی ډیری سجعی او اوازونه راكاږی اوموقفا الفاظ په تكلف سره استعماله وی خاص كر جملو ددعاكښی ( چه یوشان الفاظ په دعاكښی راوړی ) .

عبدالله بن عباس رضی الله عنهما خپل غلام عكرمه ته وصیت كړے اوپه اخر ددغه وصیت كښی داسی ویلی : (( فانظر السجع من الدعاء فاجتنبه فإني عهدت رسول الله صلى الله عليه وسلم ، وأصحابه لايفعلون إلا ذلك الاجتناب )) .

ترجمه : ( اوګوره اوسوچ كوه په دعاكښی دسجعے نه اوځان تری وه ساته ځكه ما د رسو ل الله صلی الله علیه وسلم اودهغه دملګرو سره وخت تیر كړے هغوی نه كاو مګرهم دغه اجتناب اوځان ساتنه دسجعی نه ( یعنی هغوی سجعه اودقافی الفاظ په دعاكښی نه استعمالول ) داحدیث بخاری نقل كړے اوباب ئي ترلے ورباندی ( باب مايكره من السجع في الدعاء ) ( باب ددی په بحث دهغه څه كښی چه په دعاكښی سجع مكروه ده ) .

* حافظ ابن حجر رحمه الله ویلی چه غزالي رحمه الله ویلی چه كومه سجع په دعاكښی مكروه ده نو هغه په تكلف سره مراد ده ځكه دا دعا دعاجزی اوذلت سره مناسب نه ده .

اوکه داسې نه شي نو په منقول شوو دعاګانو کښې يو شان متوازي الفاظ شته ليکن په غير دتکلف نه دي .[ دالفتح نه ۱۳۹/۱۱ ] .

## ۱۱- ځنو خلکو داعادت ګرځولے چه دجمعې دمانځه

نه روسته داسې اذکار وائي چه هغه دعامو معروفو اومعلومو اذکارونه خلاف وي کوم چه دعام فرض مونځونو نه روسته ويل کيږي .

* دغه کس ته داويلے شو چه کوم اذکار چه نبي صلی الله عليه وسلم به دمونځونو نه روسته ويل کوم چه فرض مونځو نه و نو په دې کښې تخصيص ديومانځه دبل نه څه نه دے راغلے . اوچه څوك فرق کوي نو په هغه دليل راوړل لازم دي ( اودليل وربآندې نشته ) .

* شيخ صالح الفوزان حفظه الله تعالی ويلي په جواب ديو سوال کښې .

* دجمعې دمانځه دپاره څه خاص اذکار نشته چه روسته ترې ويلي شي اودجمعې دمانځه نه روسته هغه اذکار ويلے شي کم چه دعامو مونځونو نه روسته ويل کيږي . ([1])

## ۱۲ - اوځنې هغه چه جمعې پورې متعلق دي : په

ځنو مونځ کونکو دا اعتراض د ے چه په مينځ دخطبې کښې هغه

---

([1]) مجلة الدعوة شماره ۱۲۷٤تاريخ ۱٤۱۱/۲٦/۲٤ ه

ځوك چه يي ښي طرف اوګس طرف ته ناست وی سلام وربــاندی كوی او ورسره په سلام داهم زياتـه وی چه دكور او اولاد وغيرو تپوس هم تری كوي .

* اودا اعتراض خاص طور په هغه كسانو دے چه دجماعت نـه بهر ناست وی دځائی دتنګوالی په وجه باندی اودوی په دی خپل كارسره پـه خـلاف سـنت كـښی واقـع شـو كـوم چـه پـه چپوالـی اوغليكيدو بـاندی حكـم كوی‌دجمعـی پـه ورځ چـه كلـه خطيـب خطبه وائي .

* نبی صلی الله عليه وسلم فرمايلی : (( إذا قلـت لصـاحبك يـوم الجمعة أنصت و الإمام يخطب فقد لغوت )) .

